Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پـر
# اور
# مـــزل



زهیر سپیڅلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پـر اور مـزل

زهير سپېڅلى

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چاپ حق له لیکوال سره خوندي دی.

**د کتاب په اړه:**

---

د کتاب نوم:: پر اور مزل

لیکوال:: زهیر سپېڅلی

کمپوز:: ن. هـ

پښتنې:: میرویس احساس توخی

لومړی ځل:: ۲۰۲۲ز/۱۴۰۱ل

دویم ځل:: ۲۰۲۳م

خپرندوی:: غزنی انلاین خپرندویه ټولنه

---

## د لیکوال نور اثار

د زاړه زخم رڼا ده/شاعري

راڼه ځاځکي/نثر

خاموشي شور وکړ/شاعري

څو رنګونه/نثر

څو پاڼي/نثر

ګلاب په اور کي/نثر

ایثار شوی «نسیم»/نثر

زاویې/نثر

پر اور مزل/همدا اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

## هغو ته، چې

احساس لري

ارمان پېژني

او

درد ئې تجربه کړی وي.

زهير سپېڅلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

ځوک/څه/۱
د ژوند رنګونه/۳
فکر/۵
بدلون/۷
وړتیا/۹
ملي احساس/۱۱
پلمه/۱۳
بد/۱۵
لار/۱۷
اتلان/۱۹
نوی کال، نوی پیل/۲۱
تجسس/۲۳
هېرول/۲۵
ژوند کول/۲۷
حد/۲۹
ژړا/۳۱
سالمه ټولنه/۳۳
قلم/۳۵
خیانت/۳۷
کتاب/۳۹
ژوند/۴۱
تلل/۴۳
باور/۴۵
پرمختګ/۴۷
برخلیک/۴۹
کار/۵۱
ځوک/۵۳
تللي/۵۵
مات زړه/۵۷
ښوونکی/۵۹
وجدان/٦۱
هڅه او امید/٦۳
ضرر/٦۵
اړیکي/٦۷
اصلیت/٦۹
نن/۷۱
جنت/۷۲
فکري توپیر/۷۴
د ژوند قدر/۷٦
بدرنګ ښایست/۷۸
ژوند جنت کول/۸۰
ټولنه/۸۱
مخونه/۸۳
کم اصل/۸۵
کردار/۸۷
تعلیم/۸۸
تاریخ/۹۰
ښایست/۹۲
منفي فکر/۹۳
د ځان قدر/۹۵
زدکړه او تعلیم/۹۷
وخت/۹۹
وعده/۱۰۱
فاصله/۱۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


گل/۱۰۴
ځان ته درناوی/۱۰۵
د ژوند ارزښت/۱۰۶
د ځینو راتگ/۱۰۸
ډالۍ/۱۰۹
تېري شېبې/۱۱۱
تاریخ لوستنه/۱۱۳
د لړو قدر/۱۱۴
دنیا/۱۱٦
نظرونه/۱۱۸
تېروتنه/۱۲۰
امید/۱۲۱
باور کول/۱۲۳
ځیني څه/۱۲۴
پېښه/۱۲۵
کار کول/۱۲۷
بربادي/۱۲۸
دا ومنئ/۱۲۹
چوپتیا/۱۳۰
سترگي بدلول/۱۳۱
یو کس/۱۳۳
اوښکي/۱۳۵
تجربه/۱۳۷
ناداني/۱۳۹
تېروتلي/۱۴۱
فرصتونه/۱۴۳
بایلل/۱۴۵
زړه/۱۴۷
د وصال خواږه/۱۴۹
د میني وقار/۱۵۱
درد او زخم/۱۵۳
ناکامي/۱۵۵
د دنیا دود/۱۵۷
ملگرتیا/۱۵۹
ژوند همدا.../۱٦۱
زوروونکې.../۱٦۳
خپل عمل/۱٦۵
منزل ته.../۱٦۷
سکوت/۱٦۹
ژبه/۱۷۱
ملگری/۱۷۳
یوازیتوب/۱۷۵
حالات/۱۷۷
حُسن او رنگ/۱۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر اور مې مزل وکړ!

زهیر سپېڅلی دې هیڅکله خدای زهیر نه کړي. زهیر ګل زموږ شاګرد و. د خپل همیشني عادت له مخې به په ټولګي کې د سر له کتاره ور دویم کتار کې د دیوال خوا ته غلی یو څوک ناست و. دوه درې دغسې غلي ملګري یې نور هم موندلي و. هیڅ وخت مې نه یادېږي، چې د درس په وخت مې د دوی حتی یوه عادي مزاحمت امیزه خبره اورېدلې وي. تر هغه به غلی و، تر څو چې به ما پرې غږ کړ.

په لومړیو دوه کلونو کې مې یوازې فکر کول، دوی صرف د ازموینو لپاره ښه اماده ګي نیسي او ښه پارچه حلولی شي، خو وروسته پوه شوم، چې په دوی کې د لیکوالۍ او شاعرۍ داسې شوق او ذوق په جوش او خروش دی، چې د ادب د بهیر د ډېرو لږو په نصیب شي. بیا مې ورسره زړه لا پیوند شو.

څو میاشتې مخکې یې یو کتاب لیکنې راته ولېږلې. ویل یې، تاسې یې وګورئ، دا زما کتاب دی. خدای شته، ډېر خوښ شوم. د خوښۍ لامل مې هغه تمه وه، چې څو کاله وړاندې مې له دوی لرله. د کتاب پر پښتۍ مې چې د دوی د نورو اثارو نومونه ولیدل، زړه مې لا پسې خوښ شو.

موږ خپله د ژوند ستړي بار دومره په مخه کړي یو، چې د دوی د کتاب څو خوږې پاڼې چې مې هغه څو میاشتې مخکې اړولې وې، پاتې یې همداسې پاتې وې. تر څو چې هغه برخه کتاب را نه هغسې پټ شو. څو ورځې مخکې یې سلام وکړ. بیا مې ترې د کتاب د رالېږلو خواست وکړ. خدای شته چې زړه کې خپه هم وم. ما ویل دوی به څه فکر کړی وي، خو په همدې مې ځان ډاډه کول، چې ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه.

دا دوه ورځې یې له «پر اور مزل» سره ښه مصروف شوم. خوند یې وکړ. د اور په دې مزل کې مې د ډېرو خوږو کیف حس کړ. یو داسې انسان مې چې څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاله مو تر څنګ پاتې شوی و، نور هم و پېژاند. انسانان ټول خواږه وي، خو ستونزه زموږ ده، چې هغوی مو ښه مطالعه کړي نه وي.

«پر اور مزل» لوستونکي ته د دغسې سخت مزل چل ور ښيي. موږ انسانان ژوند کوو. د ژوند کولو د چل راښودو راته ضرورت وي. دا ضرورتونه چې کله حس کړو، بیا نو پر اور مزل او له سختو سره مبارزه راته اسانه شي.

«پر اور مزل» را ته د ژوند تګلاره ښيي. ژوند څنګه وکړو؟ او له سختیو سره یې څه ډول مبارزه وکړو؟ ځینې انسانان د یو کار پیل کوي. کله چې مخکې پکې ځي. واړه خنډونه یې زړه ماتي کوي. نور مخکې نه ځي. دغه مخکې نه تګ، یا یې پر بدیل فکر نه کول انسان نهیلي کوي. نهیلي د رواني ناروغۍ پیل دی. داسې خلکو ته د دې کتاب په ۱۷م مخ کې د ژوند ښه لار ښودل شوې.

«زهیر» په ژوند کې د تعادل طرفدار دی. نورو ته هم د ژوند حد ټاکي. که د خپل حد له دایرې واوښتې د ژوند د بېړۍ د غرقېدو امکان دې زیات دی.

قلم که په هر حال او هر وخت کې د ټولنې په خیر وي، چې د ناعادل قاضي تر لاسونو ورسي، کورونه پې ورانوي، بیا نو تر قلم کولنګ زر کرته ښه وي. په دې اړه ښه ټولنیز تنقید همدلته لوستلی شئ.

د دې کتاب هر عنوان د ټولنیز ژوند درس دی، خو د ژوند تر عنوان لاندې مې دلته څو بېلې بېلې لیکنې هم ولوستې.

د ژوند تعریف د نړۍ ډېرو لویو لیکوالو بیل بیل کړی، چې دلته یې یو غورچاڼ داسې دی، چې که د نورو په خدمت کې یې تېر کړای شو، ګویا ژوند مو وکړ.

«زهیر» راتلونکې ته هیله مند دی. او د دې هیله مندۍ غږ پر نورو هم کاندي. هره تیاره یو وخت رڼا کېږي. داسې د ژوند څرخ همېشه په سختۍ کې نه ګرځي، وي به چې روښنایي ته به مو رسوي. خو د دې ټولو خوشبختیو راتلو ته زموږ نننۍ ستړیا او حوصله بویه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«هڅه او امید، وخت، تاریخ لوستنه، اوښکې، تیروتلي، فرصتونه، بایلل» او داسې نورې ډېرې هغه ملغلرې دي، چې په دې کتاب کې را یو ځای دي.
پورته مې د کتاب پر مفهوم خبرې وکړې، خو د کتاب بله او ښه ځانګړنه د لیکوال د لیک سبک دی.
روان نثر، عام اصطلاحات، په لیک د ځینو موضوعاتو لا زړه ته د پرېوتو په نیامت د ښکلیو بیتونو انتخاب او ورسره شاعرانه جملې د لیکوال هغه لوریینې دي، چې لوستونکي ته د فکر ورکولو تر څنګ د نثر د خوږلنی کیف هم ورکوي.
ستاسې د لا غوړېدا او ښه ژوند په هیله
دا ټېپه دې له ژوند سره د حوصلې په پار در ډالۍ وي.

که ته رنځور په ما جوړېږې
سالو به لېرې کړم سرتوره به درځمه

په ډېر درناوي

وحیدالله بریال

۱۷مه د مارچ ۲۰۲۲

روسیه، نیژني نووګرود

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښو خبري

دا کتاب د بېلابېلو او مختلفو لیکنو ټولګه ده.

دا لیکني اکثره هغه څه دي، چې بېلابېل وختونه، ځای، ځای ما یادابنت کړي او خواره واره پراته وو.

دلته مي ځیني دغه خواره واره مواد په دې نیت راغونډ کړل، چې یو ځای شي او تر نورو هم ورسېږي. ځیني نور څه مي هم وراضافه کړل او ځیني ډېري لنډي لیکني مي څه نا څه اوږدې کړې او د دې کتاب په بڼه شو.

دا کتاب مو دویم ځل او په وروستۍ بڼه له زیاتونو سره خپور کړ. ځیني لیکني ئې وخت نا وخت په ځینو ویبپاڼو او ورځپاڼو کي هم خپرې شوي دي.

«پر اور مزل» که څه هم د مختلفو او خورو ورو موضوعاتو ټولګه ده، خو د یوه احساس، ارمان، درد او هیلي انځور هم پکي شته.

په پای کي له خپل خواږه او درانه استاد وحیدالله بریال صاحب نه، ډېره مننه کوم، چي پر دې کتاب ئې خپلي ښکلي خبري ولورولې او پخپلو خبرو ئې کتاب ته ښکلا وروبښله.

خدای ج دې سرلوړي لري.

په ټوله پښتني مینه

زهیر سپېڅلی

کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څوک/څه

څوک/څه چي مو له ژونده لاړل/وتلي دي، له زړه او ذهنه ئې هم وباسئ!

بيا ئې مه يادوئ!

ځان ته دا سزا مه ورکوئ!

هغه خاطرې او يادونه ئې هم هېر کړئ، چي په تېر کي مو ساتي او خوږ ژوند مو تريخوي.

حتا هغه څه ته هم مه ګورئ، چي د هغو يوه خاطره يا ياد ورسره تړلی او تاسو ته په يو ډول نه، يو ډول هغوی دريادوي، تېر ته مو ستنوي او مړه اور ته پوکي ورکوي.

ځيني څه/څوک چي يو ځل لاړ شي؛ بيا نه راځي.

داسي وګڼئ، چي نور ستاسو لپاره مړه دي، هر څه ئې تر خاورو ورسره لاندي کړئ!

مړي بيرته نه دي راغلي او نه څوک مړو ته انتظار کوي.

د هغه څه/چا هيله او انتظار مه کوئ، چي بيرته لاس ته نه درځي.

تېر هېر کړئ!

په تېر کي مه اوسئ!

خپل ځان په تللو/بايللو پسي مه بربادوئ او مه چا ته دا موقع ورکوئ، چي تاسو برباد ووينې.

ستا په بربادۍ دوست خفه او دښمن خوشحاله کېږي.

مه دوست خفه کوه او مه دښمن خوشحاله کوه.

دا دومره مخلصه زمانه نه ده، چي ستا په بربادۍ بل هم ځان برباد کړي؛ حتا ځيني ستا په بربادۍ ځان ابادوي.

ژوند ته له نوي اړخه او له نوي انداز سره راشئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپه کړي ژوند ته په خوښۍ غېږ ورکړئ او ورسره وخاندئ!

تللو/بايللو ته دا ثابته کړئ، چي له تاسو پرته هم ژوند کېږي.

خپل ژوند په هيچا پوري دومره مه محدودوئ، چي بيا بې هغه ژوند درته گران او نه کېدونکی شي.

راشئ!

داسي ژوند جوړ کړئ او داسي ژوند وکړئ، چي له تاسو تللو ته داسي سزا شي، چي په تاسو پسي هره شېبه ارمان وکړي او تاسو وغواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند رنگونه

ژوند یو رنگ نه دی او تل پر یوه حال نه وي.

بېلابېل رنگونه لري.

مختلفي ننداري دي.

هر ډول حالات راځي.

خواږه او تراخه پکي شته.

له لوړو او ژورو ډک دی.

د خوښیو، غمونو، دردونو، ښو، بدو، ناکامیو، کامیابیو، خندا او ژړا د دې ټولو ټولګه ده.

موږ مجبوره یو، د دې هر څه خوند به ګورو.

د سهار په تمه به شپه تېروو.

د پسرلي لپاره به خزان زغمو.

د ګټې په خاطر به تاوان ته غاړه ورکوو.

د کامیابۍ لپاره به ناکامي منو.

د هوساینې او اسانۍ لپاره به سختۍ قبلوو.

د وصال لپاره به هجران ګالو او د خندا لپاره به ژاړو.

نه ټول عمر غم وي، نه ټول عمر خوښي.

نه همېشه ژړا وي، نه همېشه خندا.

نه تل رڼا وي، نه تل تیاره.

نه همېشه پسرلی وي، نه همېشه خزان.

څوک چي همېشه خوښي او کامیابي غواړي، هغه د کامیابۍ او خوښۍ په خوند نه پوهېږي.

څوک چي وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



همېشه دي پسرلی وي؛ هغه له طبيعته خوند نشي اخيستای.

همدا خزان دی، چي د پسرلي قدر راښيي او ناکامي ده، چي د کاميابۍ په خوند مو پوهوي.

ټول عمر خندا او خوشحالي هم نه زغمل کېږي.

خواږه که خواږه دي، خو ډېر خواږه خوړل مو ناروغه کوي هم او صحت ته مو تاوان رسوي.

درد، غم، ستونزه او کړاو په دې معنا نه، چي موږ پکي ورک شو؛ بلکي د دې لپاره چي ځان ثابت پکي وساتو.

ځان پکي پوخ کړو او خام پاته نشو.

شپه که توره او تیاره ده، خو ستوري او سپوږمۍ ښه پکي ځلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فکر

عبدالکلام ازاد وايي:

«فکر کول انسان کار کولو ته هڅوي، که فکر نه وای؛ نو کار او عمل به هم نه و.»

فرق نه کوي، که د تېرو کلونو په لوښو کي خوراک او څښاک کوو.

مهمه نه ده، که په زاړه کور کي اوسو او زړې جامې مو اغوستي وي؛ مهمه دا ده چي فکر مو نوی وي.

زوړ فکر مو په نوي کور، نوي جامو او نوو لوښو کي هم نشي بدلولای.

هغسي به په زړو او ورستو فکرونو کي بند او له بدلونه مو ليري ساتي.

د مثبت بدلون او پرمختګ لپاره نوی فکر ضروري دی.

نوی فکر مو ژوند بدلوي.

راتلونکي ته نوی رنګ ورکوي او سيال مو ساتي.

اروانښاد استاد پسرلی وايي:

که بدلون غواړې پسرليه فکر مه هېروه
موږ، خو خولی بدلوي فکر دی چي سر بدلوي

يعني فکر سر بدلوي.

انسان بدلوي.

ټولنه بدلولای شي ان تر ملته پوري.

دغه ټول بدلونونه د فکر نوي کول او عملي کار غواړي.

يوازي د ځان، جامو، ځای او موټرونو په بدلولو بدلون نه راځي.

هغوی تېروتلي دي او ځان تېر باسي، چي د نوي فکر غم نه کوي، خو د نوي موټر او سټايل له غمه بيا ناکراره وي.

پرون تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرونی منطق او فکر له پرون سره پاته شو.

نن، نن دی.

نن نوی فکر غواړي.

نن ته به د پرون او سبا تـه بـه د نـن په عینکو کي نه ګورو؛ دا د بدلون هیله ده.

کـه بـدلون غـواړو او د بدلون هیله لرو باید فکر نوی کړو.

له فـکر سره عمل هم ضروري دی. فقط فکر کول او عمل نه کول د اوبو پر مخ نقشې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بدلون

د یوه، یوه وګړي له یو ځای کېدو یوه ټولنه جوړېږي.

ټولنه د ټولو وګړو ګډ کور دی.

دغه کور پر هر غړي حق لري، چې کار ورته وکړي.

د ښه بدلون هڅه ئې وکړي او د خپل دغه کور (ټولني) د ښېګڼې پرمختګ او مثبت بدلون لپاره مخلصانه کار وکړي.

که غواړو، خپله ټولنه بدله کړو؛ لومړی باید ځان بدل کړو.

وګړي دلته تېروتلي دي چې ټولنه بدلول غواړي، خو د ځان بدلولو فکر نه کوي.

چې بدلون له ځانه پیل کړو د ټولني او نړۍ بدلون اسانه دی.

دا متل ښه اړخ لګوي. «اول ځان او بیا جهان» لومړی ځان بدل کړه او بیا جهان.

موږ باید په ځان کي داسي مثبت تغیر راولو، چي ټولنه مو ورسره د پرمختګ پر لور ګام واخلي.

موږ ټول غواړو، ښه ټولنه ولرو، خو د ښه کولو کوښښ ئې نه کوو.

دا مو هیله ده، چي ټولنه پرمختللې وي او د بل له احتیاجه خلاصه وي مګر پرمختګ ته ئې کار نه کوو.

دا غواړو، چي ټولنه مو لوستې وي، خو د لیک، لوست، کتاب، قلم او مطالعې د فرهنګ عامولو لپاره عملي کار نه کېږي، یا ډېر کم کېږي.

موږ ځان نه ښه کوو، خو نارې وهو، چي ټولنه دي ښه وي.

که د ټولني هر وګړی د خپل وس په اندازه ټولني ته کار وکړي، ټولنه هرو مرو پرمختګ کوي او خامخا به یوه سیاله ټولنه لرو.

د ټولني ابادي زموږ ابادي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولني درد او ستونزه زموږ درد دی او زموږ ستونزه ده.

که مو ټولنه هوسا، پرمختللې او سوکاله وي، موږ به هم ښه يادېږو او که مو ټولنه محتاجه، بې ثباته وي، پېغور به ئې موږ ته راکول کېږي.

د ټولني د وګړو حالت د ټولني د حالت او وضعيت هينداره ده.

چي د ځان بدلولو هڅه نه کوو، د نړۍ بدلولو هڅه ناکامه هڅه ده او په ويښه خوب ليدل دي.

که ځان بدل کړو، ټولنه هم بدلولای شو.

چي ځان نه بدلوو، ټولنه څنګه بدلوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وړتیا

هر انسان د هر څه کولو وړتیا او استعداد لري؛ په دې شرط چې پر ځان باوري وي او ټینګه اراده ولري.

ځیني وخت یو څوک ټینګ تصمیم نه لري، بیا پلمې کوي، دا استعداد نه لرم.

دا کار نشم کولای. تر دې منزله نه رسېږم.

دا مي تر وس وتلي دي.

هر انسان ډېر پټ او ښکاره استعدادونه لري، خو کار نه ترې اخلي.

ځینو ته چې خپل استعداد بې ارزښته وي او خپله وړتیا نه ازمويي؛ بیا دغسي بهانې کوي.

وړتیا او استعداد روزنه او پالنه غواړي.

که څوک خپل استعداد وروزي، وده ورکړي؛ همدا استعداد به ئې لوړ مقام ته رسوي او رتبه به ورکوي.

دلته ډېري وړتیاوي دي، چي ورکي او پټې دي.

ډېر لایق او وړ اشخاص دي، چي تشویق شوي نه دي او له استعدادونو سره ئې خواري نه ده شوې.

انسان باید پر خپله وړتیا ونازېږي او پر خپل استعداد وویاړي. دا دواړه داسي پانګه ده، چي څوک ئې له چا اخیستای هم نشي.

انسان خپله وړتیا تر هره ځایه رسولای شي، خو مقام او رتبه هغسي نشي کولای.

رتبه به یو وخت ستا وي بل وخت ئې ښایي له تا واخلي، بل ته ئې ورکړي؛ مګر استعداد او وړتیا د انسان خپله ده، هر ځای او هر وخت ورسره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړتیا رتبه حاصلولای شو، خو رتبه وړتیا نشي راکولای.

واسطه یا وسیله مو فقط یو مقام او رتبې ته رسوي، خو وړتیا مو په هغه مقام کې ساتي.

پر رتبه به ناز نه کوو، هغه د نورو ده؛ مګر پر خپل استعداد به نازېږو او ویاړو به؛ ځکه دا مو خپله پانګه ده. نه ئې څوک رانه اخیستای شي او نه ئې کمولای شي.

له پټو استعدادونو څه نه جوړېږي.

راځئ، خپل استعداد او وړتیا ښکاره کړو؛ وده ورکړو، استعمال ئې کړو او کار ترې واخلو.

که وړتیاوي و نه روزو او استعدادونو ته وده ور نه کړو، ډېر لوی مادي او معنوي زیان به مو کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي احساس

ملي احساس د يوې ټولنې او هیواد د پرمختګ راز دی.

چېرته چې ملي احساس پیاوړی وي، ملت په خوښۍ او کامیابۍ ژوند کوي.

ملي احساس، ملت پیاوړی ساتي.

ملي احساس د ملت د پیاوړي او مظبوطي ارادې ثبوت او ښکارندوی دی.

هغه هیوادونه چې نن اباد او ملتونه ئې سوکاله او هوسا ژوند کوي، دا ئې د ملي احساس او ملي فکر برکت دی.

د ملت چې وجدان ویده شي، ملي احساس ئې مړ شي، بیا تر هیوادنۍ او ملي ګټو، شخصي او ګوندي ګټې ښه پالي.

هر وګړی خپل غم کوي، د هیواد او نور ملت فکر نه لري.

تر خپلو له پردیو سره ښه اخلاص کېږي.

پوه شئ!

چې هلته به فساد په هره برخه کې ډېر ژر وده کوي او ډېري ژر خپلې ریښې په هره اداره کې غځوي.

چېرته چې فساد لوړي کچې ته رسېدلی وي، هلته په ټیټه کچه فساد فساد نه بلل کېږي، رواج ترې جوړ شي.

په مفسده ټولنه کې غلا، رشوت، قانون ماتونه، فقط پر کمزورو د قانون پلي کول، له خپل صلاحیته ناوړه ګټه اخیستل او نوري ظالمانه کړني په عادي ډول حتا په افتخار رواني وي.

که ټول ملت ملي احساس او ملي فکر و نه لري؛ د څو کسانو په احساس هیواد نه ابادېږي.

په فاسده ټولنه کې پاک او مهذب خلک ژوند نشي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېک او ښه خلک دغسي پکي معلومېږي، لکه په پاکه ټولنه کي چي بد او ناوړه خلک گرځي.

هر وخت چي یوه ټولنه په فساد ککړه شي؛ نوره هغه ټولنه په معنوي مرگ مړه ده.

اخلاق، انسانیت، شرافت او احساس پکي مړه شي.

فاسده ټولنه هیڅ پرمختگ نشي کولای.

په مفسده ټولنه کي شخصیتونه او استعدادونه وژل کېږي.

په ټولنه کي چي فساد حاکم شي، عدالت، انصاف او صداقت مسافر شي.

په فاسده ټولنه کي توتی د تور کارگه ښځه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پلمه

ژړا او خندا دواړه ضرورتونه دي.

نه بې خندا ژوند کېږي، نه بې ژړا.

کله به خاندو، کله به ژاړو.

کله به خوښ او خوشحاله ګرځو او کله به غم لمانځو.

کله به نور لا خندوو؛ مګر کله به بیا چېرته یوازي ناست یو او اوښکي به څڅوو.

که و نه ژاړو، زړونه سختېږي او سخت زړونه به په څه نرموو؟

که و نه ژاړو، دا خیرن زړونه به څنګه مینځو؟

که و نه خاندو، درد او غم ته به په څه ماته ورکوو؟

غم ته به څنګه بدماشي کوو؟

له ځینو دردونو ښه غچ اخیستل خندا ده.

ښه دا ده، چي ژړا او خندا مو دواړه زده وي.

نو وژاړئ، چي وخاندئ!

هغه څوک ښه خندلای شي، چي ښه ئې ژړلي وي.

درد تجربه کړئ! مګر یوه کامیابه تجربه.

هیڅکله یو درد ته ځان دومره کم مه راولئ، چي مات مو کړي او نه داسي چي ځان پکي وبایلئ!

ستونزو او مشکلاتو ته په خندا، خندا کي ماته ورکړئ!

ځیني وختونه ځینو دردونو ته دومره وخاندئ، چي درد درته حیران شي او لار درنه بدله کړي.

هسي هم نه غم له غمه شرمېږي او نه درد له درده حیا کوي. له ځینو دردونو او غمونو هسي هم خلاصون نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه دا ده، چې هرکلی ئې وکړئ او ورته ووایاست:

«زما له عمره سره سمه

میرات شې غمه، په خندا دي تېرومه»

د خندا او ژړا لپاره پلمې ډېرې دي.

ځیني کسان فقط یوه پلمه غواړي، چې وخاندي او خوښي وکړي.

ځیني بیا په دې تمه وي، چې دومره پلمه پیدا کړي، چې ځان غمجن کړي او ځان وزوروي.

دغسې خلک درد، غم، ستونزي او کړاو ته خپله ځان لاس ترلی سپاري او د غم لپاره له خپل ځانه غچ اخلي.

د داسي څه/چا لپاره هم ژاړي، چې هیڅ نه ارزي.

هسي چې پلمه غواړو، ښه دا ده، خندا او خوښۍ ته پلمه ولټوو.

له درده او غمه په خندا او خوښۍ بدل واخلو.

یو ځل بیا وایم:

له ځینو دردونو ښه غچ اخیستل خندا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بد

**یو، یو سړی لکه په بار کي کوږ لرگی داسي وي**
**نـــه لار له کلي سره باسي، نه ترې کـــډه کـوي**

درویش درانی

**په کور، کلي او ټولنه کي ځیني خلک هم دغسي د کاږه لرگي خاصیت لري.**

**هم ئې بار بې خونده کړی وي او هم بار وړونکی ورسره په تکلیف وي.**

**ځیني خلک یا قصداً کوي، یا فطرتاً همداسي دي، چي د هر چا په کار کي کار لري.**

**په هر غار لاس ننباسي.**

**په هر څه کي ئې کار وي.**

**په هر چا پسي گوري.**

**په هره خبره کي خبره جوړوي او دې ته ولاړ وي، چي خبره ورانی ته ورسېږي.**

**شر او جنگ په پیسو اخلي.**

**په دغه پسي راوتلي وي، چي دوه سره په جنگ کړي او تماشې ته ئې کښېني.**

**له نه څه دومره کیسه جوړه کړي، چي هم ځان ته زیان رسوي، هم بل ته.**

**دغسي څوک نه د ځان قدر او عزت لري او نه د نورو؛ که څوک خپل عزت او درناوی وپېژني، د بل عزت هم پېژني.**

**معزز او قدرمن خلک دومره وخت نه لري، چي په نورو پسي تجسس وکړي او هیڅکله داسي څه نه وایي/نه کوي، چي د بل کس پکي زیان وي او یا چا ته ضرر پرې رسېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغسي بې معنا، ناوړه او سپک خلک مرداري اوبه دي.

له مردارو اوبو به موږ او تاسو ځان او جامې ساتو او لار به ترې بدلوو.

مرداري اوبه چې پر هره لار او هر چا ورغلې، ورځي، مخ نه اړوي.

دا په دې معنا نه، چې موږ د چا زور نه لرو، یا د چا جواب نشو کولای؛ خو دغسي خلک حتا په دې هم نه ارزي، چې عکس العمل ورسره ښکاره کړې.

دا چې دوی بد دي، د دوی بدوالی کافي دی. موږ او تاسو به د دوی په رنګ نه کېږو او نه به ځان ورسره برابروو.

موږ باید د دوی او ځان تر منځ توپیر ثابت کړو.

لاندي لنډ حکایت ولولئ، همدا راښيي، چې بد، بد دي؛ موږ به له بدو لار چپوو.

«د لارې د غاړې په ونه یو آس تړلی و. چې هر څوک به تېرېدل آس لغتې ورکولې. ګڼ خلک ودرېدل. د آس په چاره نه پوهېدل. په دې منځ کې یو حکیم راپیدا شو. خلکو ورته وویل: نه پوهېږو چې له دغه آس سره څه وکړو، لاره یې بنده کړې ده.

حکیم شېبه نیمه آس ته وکتل او لاره یې چپه کړه.»

(د زړو هېندارو کور/د استاد غضنفر ژباړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لار

دا یاد لرئ!

دا د ژوند اصل دی.

که یوه لار بنده شي، نوري لاري هم شته.

که یوه دروازه وتړل شي، بله دروازه خلاصیږي. زموږ ستونزه دا ده، چي یوه لار بنده شي، بله لار نه لټوو.

که یوه دروازه وتړل شي، بله دروازه نه وینو. بندو لارو او تړلو دروازو ته ولاړ یو.

ځان ته پخپله هره لار او دروازه بنده کړو.

کله چي له یوې لاري هدف ته و نه رسېدې، بله لار پیدا کړه.

له بلي لاري راشه.

کېدای شي تر لومړۍ لاري په بریالۍ توگه ورسېږې.

داسي هیڅکله مه کوه، چي له یوې لاري په نه رسېدو، هدف هم پرېږدې.

هدف یو وي، خو له ډېرو لارو ئې تر لاسه کولای شې.

له پیله خپل هدف ته دا ثابته کړه او باور ورکړه، چي په کلکه اراده دي خپلوم او هرو ـ مرو دي گټم.

هدف او منزل ته رسېدل ټینگ عزم او پیاوړې اراده غواړي. پیاوړی او کلک عزم په غرونو کي لاري باسي.

هر څه په اسانه مه غواړه، په اسانه لاس ته راغلي بیرته په اسانه له لاسه وزي.

په وړو، وړو ستونزو او مشکلاتو باید زړه ماتی او ناهیلی نشې؛ بلکي دا واړه مشکلات دي باید لویو مشکلاتو ته کلک او محکم کړي.

ځینو هدفونو ته تللي لاري ډېري سختي، اغزني او مشکلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول هدفونه په اسانه او په یو ځل هڅه نه تر لاسه کېږي؛ بیا، بیا هڅه غواړي.

د نړۍ بریالي او کامیاب اشخاص نه په اسانه، نه په یو ځل هڅه او زیار او نه په خوب کي تر خپلو هدفونو رسېدلي دي.

په سختو لارو تلل دا ثابتوي، چي تا ته خپل هدف او منزل واقعاً مهم دی او تر لاسه کول ئې غواړې.

شاید ځیني لاري دي په ځنډ او خنډ ورسوي، خو دا به درته ثابته شي چي له زحمته وروسته حتماً راحت شته.

له هري سترړیا وروسته هوسایي راځي او په هره تیاره پسي رڼا وي.

که ژوند ته پام وکړو ډېر څه راښیي.

همت، صبر او زغم غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتـــلان

اتلان او اتلولي تر يوه ډګره مه محدودئ!

ښه دا ده، چي په هر ډګر کي اتلان/اتلاني او اتلولۍ ولرو؛ البته چي زموږ د کلتوري او ټولنيزو ارزښتونو خلاف نه وي.

که د لوبو ډګر وي، که د سياست، که د ساينس او ټکنالوجۍ، که د ژبي ادب، کلتور، هنر او داسي نور.

په هر ډګر کي بايد اتلان ولرو او و ئې ستايو.

هر وخت/هر ځای د جنګ اتل نه چلېږي.

که فقط د جنګ په اتلوليو او اتلانو نولس، شل کېدای موږ به په څلورو لسيزو کي ډېر ځله شل کړي وای او نن به د پرديو له احتياجه خلاص وای.

زموږ غم دا دی، چي شاعر ئې وايي:

چي په ژوند کي دي زما و نه کړ قدر

پس له مرګه مي بيا مه ژاړه پر قبر

دا زموږ بدبختي ده، چي په ژوند د چا قدر نه کوو.

د چا مېړانه نه ستايو.

اتلولي ئې نه وينو.

اتل ئې نه بولو.

کله چي مړه شي او زموږ له منځه لاړ شي؛ بيا نو ارمانونه پسي کوو.

په نامه ئې ځايونه نوموو.

پر کارنامو ئې نازېږو.

په وياړ ئې شعارونه ورکوو.

مقبرې پرې جوړوو.

د مېړاني او اتلولۍ په کيسو ئې نه مړېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هر څه زموږ له منځه تللي اتل ته، بیا څه معنا لري؟؟!

هغوی ته څه ګټه او فایده ترې رسېږي؟!

د اتلانو د اتلولیو قدر باید د هغوی په ژوندوني وکړو او اتلان باید د هغو په ژوند وستایو.

تشویق ئې کړو.

د اتلولۍ قدر ئې وکړو او و ئې لمانځو.

په ژوندوني ستاینه او تشویق هغوی ته نوره انرژي ورکوي، چې نوري اتلولۍ وګټي او نور ویاړونه خپل کړي.

چې هیواد او ملت ته ئې د اتلولۍ ویاړ وربښلی وي؛ زموږ اتل دی او پرې ویاړو.

خپل اتلان په ژوند وستایئ او مینه ورکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوی کال، نوی پیل

نوی کال، نوی پیل دی.

نوی پیل، نوي ارادې غواړي.

له دې نوي پیل سره باید زاړه څه پرېږدو.

ځان ته په نوې جذبه، نوی جهان اباد کړو.

ژوند ته نوی رنګ او خوند ورکړو.

له زړې او پرونۍ دنیا راووزو.

له ژونده او دنیا نوی، نوی خوند واخلو.

د هر نوي کال له پیل سره باید هغه خاطرې او یادونه له زړه او ذهنه پاک کړو، چې زوروي مو.

ځای ئې هغو یادونو او خاطرو ته ورکړو، چې خوښي راکوي او انرژي رابښي.

هغوی هم باید هېر کړو، چې په یادولو او نوم اخیستلو نه ارزي.

نوی کال، نوی پیل دی.

د نوي کال له پیل سره باید خپل فکر نوی کړو؛ فقط کال نوی کېدل مو ژوند نشي بدلولای، خو نوی فکر مو ژوند هم بدلوي.

داسي نه، چې کال نوی او زموږ فکر لا هغسي زوړ وي.

داسي نه، چې په خوله د نوي کال د راتګ خبري کوو، خو په زړونو کي مو زړې خبري او زړې کیسې لا پاته وي.

نوی کال باید داسي پای ته ورسوو، چې هره ورځ دا حس کړو، چې تر تېر کال ښه او مثبت روان یو.

تر تېر کال مو ښه او ډېر پرمختګ کړی دی او ډېر څه لرو.

د تېر کال ناکامیو ته باید د نوي کال په برکت د کامیابیو زېري ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروابشاد استاد عبدالرؤف بېنوا ليکي:

«افسوس دي وي د هغه چا پر حال چي کال نوی سي خو د ده ژوند زوړ وي، يا نوی کال د نوي ژوند نوي ارزوگاني راوړي خو د ده زړې ارزوگاني لا هم تر سره سوي نه وي. افسوس دی د هغو خلکو پر حال چي په ژوند مړه وي.»

نوی کال، له نوي پيل، نوي فکر او مثبت بدلون سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تجسس

کاشکي هر انسان دا فکر وکړي،

هغه وخت چي په بل پسي په تجسس او د بل په عيبونو او نيمګړتياوو ضايع کوو، ښه دا ده، چي د خپل ځان په اصلاح کولو ئې مصرف کړو.

ولي داسي څه نه کوو، چي

د منفي فکر پر ځای بايد مثبت فکر وپالو.

ولي داسي نه غواړو، چي

د بل د ورانولو پر ځای بايد د خپلي ابادۍ لپاره کار وکړو.

کاشکي دا فکر عام او عملي شي، چي

د بل منفي ټکي بيانوو، ښه دا ده، په ځان کي داسي مثبت ټکي راولو، چي ځان او ټولني ته مو خير ورسېږي.

کاشکي دا احساس هر چا ته وشي، چي

د نورو عيبونه پلټل او په نورو پسي ځراغ ګرځول د هغوی عيبونه نشي اصلاح کولای. دا کار نه زموږ په خير دی او نه د ټولني په ګټه.

هغه ټولنه به څه معنوي او مادي پرمختګ وکړي، چي وګړي ئې ټول عمر د يو بل په تخريب او بربادولو پسي ګرځي.

له هغو خلکو به څه د ښو تمه وشي، چي رحمان بابا وايي:

که يوه جودانه عيب وينې په بل کي
هغه يو جودانه عيب به ئې لوی غر کړې

که دي خپله ګناه لويه لکه غر وي
په حيله، حيله به غر د مچ وزر کړې

هغه خلک چي د بل عيب لټول، په بل پسي تجسس کول او د نورو نيمګړتياوي بيانول ئې عادت او روزګار وي، څنګه به د خپل ځان او خپلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولني د سمون لپاره وخت پیدا کړي؟!! څنګه او د کوم پرمختګ فکر به ورسره وي؟!!

ټولنه هغه وخت واقعي پرمختګ کولای شي، چي وګړي د یو بل د غورځولو پر ځای یو بل ته لاس ورکړي او یو بل راپورته کړي.

یو بل ته متقابل احترام ولري.

د یو بل په ابادۍ خوشحاله شي. د ټولني د ښه سمون او پرمختګ لپاره له یو بل سره مثبت رقابت وکړي.

په ګډه او اخلاص د خپلي ټولني لپاره کار وکړي.

د یو بل له تجسسه، تخریبه او خوارولو ځان وساتي.

خپله ستونزه د ټولني او د ټولني ستونزه د ځان ستونزه وګڼي.

که واقعاً د خپل ځان د جوړولو ربښتیني او مثبته اراده وکړو؛ هیڅکله به د بل د رنګولو او په نورو پسي د تجسس وخت پیدا نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هېرول

ځيني ځيني د هېرولو هنر نه لري؛ نشي کولای، څوک/څه هېر کړي.

بيا بيا ئې يادوي او ځان د تېرو وختونو په زندان کي ساتي.

مړو ايرو ته ناست وي.

مړ اور تازه کوي او ځان سوځوي.

د ارمان پر ماته څانګه کښېني او پخپل لاس هره شېبه ځان ته نوی، نوی زخم ورکوي.

خپل ځان خپله زوروي.

په هغه کوهي کي ځان وغورځوي، چي پخپل لاس ئې ځان ته کيندلی وي.

پخپلو جوړو کړو ځنځيرونو ئې ځان تړلی وي.

په تللو/بايللو څيزونو/کسانو پسي د پښېمانۍ او ارمان لاسونه مروړي.

هغه څوک/څه چي مو له ژونده ووتل/وبايلل نور ئې تللي او بايللي پرېږدئ!

يوه شېبه ئې هم په اړه فکر مه کوئ او ځان ته د نورو د کړو سزا مه ورکوئ!

د ځينو په هېرولو کي ګټه وي او د ځينو په يادولو کي.

ځيني څه/څوک بايد هېر کړو او له دې زندانه خامخا ځان ازاد کړو.

ځيني يادونه او خاطرې ډېر درانه بارونه دي، چي زموږ پر زړونو او ذهنونو پراته دي.

ډېر يادونه داسي دي، چې زموږ په اوسنيو خوږو زهر ګډوي او خندا مو په ژړا بدلوي.

ځيني څيزونه/کسان که له خپل ذهنه ليري او له ژونده وباسو؛ ذهن به مو ارام او ژوند به مو ښکلی او هوسا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېچه وايي:

«هر څه هېر کړه، هر څه هېر کړه.

هېرول لوی هنر دی.

هغه دروند بار چې له تا سره دی له ځانه وغورځوه.

که غواړې چې والوزې، که ارزو لرې چې له لوړو او هسکو څوکو سره اشنا شې درانه او سنگين شيان سيند ته وغورځوه.

دغه دی سيند، هله ژر شه، خپل ځان سيند ته وغورځوه.

د هېرولو هنر ډېر لوی هنر دی.»

(د الفت نثري کليات/د محمد اسماعيل يون په زيار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند کول

ژوند کول او ژوند تېرول فرق لري.

ژوند تېرول دا دي، چي فقط د ورځو او شپو د کمولو حساب ته ناست يو.

کار نه کوو.

فعاله نه يو.

يا په بله وينا د وخت ضايع کولو ننداره کوو.

کار نه کول، ژوند نه کول دي.

بېکاري د انسان لپاره پېغور دی او انسان دې ته رسوي، چي بل ته لاس ونيسي.

د بل تر احسان لاندي شي.

د بل منت يوسي او د نورو لاس ته ئې تمه وي.

هسي ئې نه دي ويلي چي:

«تر بېکاري د دښمن کار هم ښه دی.»

ژوند کول بيا دا دي چي کار کوو.

فعاله يو.

ځان ژوندی احساسوو.

د ژوند له هري شېبې او هر فرصته ګټه اخلو.

په ژوند تېرولو کي له ژونده شکايتونه هم ډېر وي؛ مګر په ژوند کولو کي شکايت ته فارغه نه يو.

هغوی چي ژوند تېروي، وخت دروند پرې تمامېږي.

د بل په کار کي مداخله او په بل پسي تجسس کول ئې عادت وي؛ مګر هغه چي ژوند کوي، پر کار مصروفه وي، هيڅکله نه په بل پسي تجسس ته وخت لري او نه د نورو په کار کي کار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي وايي:

«لاس ودرېد، خوله ودرېده.»

همدا خبره کوي، چي کار و نه کړې، و ئې نه ګټې؛ څه به خورې؟ څه به اغوندې؟

پکار دا ده، چي موږ ئې وګټو او نورو ته ئې ورکړو؛ نه دا چي د نورو په تمه کښېنو او د بل ګټلي ته ګورو.

کار کول، ژوند کول دي.

کار کول مو ژوند ته خوند او رنګ ورکوي.

کار مو بېځایه فکرونو ته نه پرېږدي، حتا د رواني ناروغیو ښه علاج ځان مصروف ساتل دي.

کار او فعالیت مو ژوند اباد او خوشحاله ساتي.

راځئ!

د ژوند تېرولو پر ځای واقعي ژوند وکړو او دا وښیو چي ژوند تېرول نه دي، ژوند کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حد

موږ باید هر څه په حد کې وپالو/وساتو او په دوستۍ و دښمنۍ کې هم حد ولرو.

ډېر کله دوستان، دښمنان او دښمنان، دوستان شي.

وايي:

«مه له دوست سره دومره ښه کوه، چې سبا دي دښمن شي؛ پر خپلو ښو ارمان درځي او مه له دښمن سره دومره بد کوه، که سبا دي دوست شو؛ بیا پر خپلو بدو پښېماني کوې.»

موږ باید منځلاري واوسو.

حتا که  مینه هم تر حد واوړي؛ نور لېونتوب دی.

ځیني وختونه له حده زیاته مینه، په وینه بدله شوې ده.

موږ باید حد او اندازه وپېژنو.

هیڅکله چا ته دومره زړه نژدې نه کړو، چې بیا ئې په لیري کولو ستړي شو.

هیڅوک دومره زړه ته تېر نه کړو، چې بیا بغیر له هغه ژوند راته گران او تیاره  شي.

داسي هم و نه کړو، چې له څه/چا سره دومره سرسري او برسېرن چلن وکړو، چې بیا وروسته ځان ته ملامت شو، ځان ته ځواب نه لرو  او پر خپل کړي چلن پښېمانه یو.

موږ په داسي زمانه کې اوسو، چې ډېر ښه هم درته بد شي.

خپلي نېکۍ، بدۍ راته وزېږوي.

خپل اخلاص راته پېغور شي.

پر خپله دوستۍ پښېمانه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر څه کي اخلاص مهم او شرط دی، خو دا یاد لرئ! که مو ځیني ځایونه/وختونه زیات اخلاص کاوه؛ شاید ووایاست، چي دومره اخلاص نه و پکار.

دا ئې ښه ویلي دي:

«ډېر اخلاص مه کوئ، بیا مو خلک یا پر عقل شک کوي، یا پر نیت.»

ښه دا ده، چي

له افراطه او تفریطه ځان وساتو.

موږ ډېری وخت په افراط او تفریط ځان برباد کړی دی. حتا کله، کله مو له ځان سره نورو ته هم ضرر رسولی وي.

کله،کله په افراط او تفریط کي دې حد ته ورسېږو، چي یا نه غواړو یا نهه سره زامن غواړو.

افراط او تفریط لکه مالګه که کمه شي که ډېره، د ښو خوړو خوند خرابوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژړا

**په ژړا کې خپل يو خوند دی ځکه ژاړم**

**يار خو هسي بهانه ده ای زړگيه!**

درویش درانی

**لکه اسمان چي له خړو او تورو وريځو ډک زړه په باران ورولو تش کړي او وروسته صاف او شين شي؛ دغسي د انسان زړه هم اوښکو ورولو ته ضرورت لري، چي وژاړي.**

**په ژړا د انسان له درده او غمه ډک زړه هم څه موده تش شي.**

**انسان داسي حسوي، چي بلكل هيڅ درد او غم نه لري.**

**ځيني وختونه وژاړئ!**

**ډک زړه په ژړا سپک کړئ!**

**وايي:**

**«چي زړه مو په ژړا سپکېږي، چا ته د زړه درد او راز مه واياست.»**

**موږ ډېر ځله داسي تېروتلي يو؛ د زړه راز او درد داسي چا ته ووايو، چي له هغو سره ئې دارو درمل هم نه وي؛ زړه مو هم هغسي ډک پاته شي او درد تازه.**

**پكار هم نه ده، چي خپل درد هغه چا ته ووايو، چي علاج ئې نشي کولای او يا خپل زخم هغه چا ته ښکاره کړو، چي درمل ئې نه لري.**

**ښه دا ده، چي وژاړو.**

**هم به مو زړونه تش شي او هم به مو د زړه راز او درد له ځان سره خوندي ساتلی وي.**

**له ځينو غمونو او دردونو وخت ناوخت زړونه په ژړا تش کړئ!**

**ځيني زخمونه او دردونه د اوښکو ټکور غواړي.**

**ځيني زخمونه داسي دي، چي چا راکړي دي، بغير له هغو په بل چا نه ټکور کېږي او نه له بل لاسه ټکور اخلي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دردونه چي په چا پسي مو دردوي، بغير له هغه ئې بل څوک نشي ارامولای.

ژړا د کمزورو کار نه دی.

د زورورو هنر دی.

استاد پسرلی څه ښه وايي:

چا وېل چي ژړا ده د کمزورو کار
غرونو هم له وربځو سره وژړل

حتا ډېر زورور خلک هم د شپې ژاړي.

څوک چي ژاړي نه، خندلای هم نشي.

وژاړئ، چي وخاندئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سالمه ټولنه

ټولنه او وګړي د يو بل دي.

نه بې وګړو ټولنه جوړېږي او نه بې ټولنې وګړي شته.

د ټولنې ښېګڼې او بدګڼې د ټولو وګړو دي.

که وګړي غواړي، چې يوه پرمختللې، ارامه او سالمه روزل شوې ټولنه ولري؛ بايد د خپلې ټولنې د پرمختګ لپاره سالم فکر او مثبت احساس ولري.

څنګه چې د لوستي او نالوستي انسانانو توپير شته؛ همداسي يوه لوستې او نالوستې ټولنه فرق لري.

په کومه ټولنه کي چي له ليک، لوست، قلم، کتاب او مطالعې سره اشنايي وي؛ هغه ټولنه به هرو مرو د ژوند په ډېرو چارو کي تر نورو پرمختللې او د نورو له احتياجه خلاصه وي.

سم لوري ته د ټولنې رهبري د يوه/څو کسانو دنده نه ده؛ دا د هر وګړي وظيفه او مسؤليت دی.

وګړي پر ټولنه او ټولنه پر وګړي حق لري.

ښوونيزي اداري بايد د ښووني تر څنګ د زدکوونکو پر سالمه روزنه هم ډېر کار وکړي.

افکار او اذهان داسي وروزي، چي هر وګړي ته د خپلې ټولنې د پرمختګ او ښه سمون فکر ورکړي.

داسي احساس بايد ولري، چي يوازي د ځان نه؛ بلکي د نورو د خير فکر هم ورسره وي.

وګړو ته بايد داسي فکر ورکړو، چي خپل او د بل حق وپېژني.

چي روزنه نه وي، يوازي ښوونه ټولنيز درد نشي دوا کولای.

فقط په ليکلو، يادولو او لوستلو څه نه جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که سالمه او باثباته ټولنه غواړو، باید سالم ښوونیز او روزنیز نظام او سیستم ولرو.

سالمه ښوونه او روزنه وګړو ته سالم فکر ورکوي، چې د ټولني او بشر په خیر او ګټه وي.

چې افکار اصلاح نشي او مثبته وده و نه کړي؛ تر هغو د ټولني اصلاح او ترقي هم نه کېږي.

که سالمه ښوونه او روزنه نه وي، افکار به کنګل او ټولنه به همداسي جامده او ساکنه پاته وي.

په کنګلو افکارو نه نوښت کېږي او نه پرمختګ.

جامد افکار، ټولنه هم جامده ساتي.

سالمه ښوونه او روزنه، سالمه او باثباته ټولنه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قلم

هغه څه چي د قلم وړه څوکه ئې کولای شي، د ټوپک شپېلۍ او د توري تېرې څوکي و نه کړل.

د همدغه قلم برکت دی، چي نن کتاب د هر چا تر لاس رسېدلی دی او علم پر سمه او غره خپور دی.

په همدې قلم کولای شو، چي ځان او ټولنه نېکمرغه کړو.

قلم او کتاب د هر ملت او هیواد معنوي شتمني ده.

قلم او کتاب دی، چي ټولني نېکمرغه او ملتونه هوسا او پر ځان بسیا کوي.

د قلم په زور کولای شو، چي ښه او بد توپیر کړو.

سپین او تور بېل کړو.

د حق په پلوی د باطل مقابله وکړو.

خو کله چي دا قلم نا اهله لاسونو ته رسېدلی، د کولنګ کار ئې ترې اخیستی دی.

ډېر ودان کورونه ئې پرې وران کړل.

د همدغه قلم ناسم استعمال ټولني بربادي کړې.

ولسونه او ملتونه ئې تباه کړي دي.

په نا اهله لاسونو کي قلم د وسلې کار کوي او له همدې قلمه ئې د یوې وژونکي وسلې کار اخیستی دی.

استعدادونه ئې وژلي دي.

وړتیاوي ئې له منځه وړي دي.

د یوه هیواد پوره نسل ئې تباه کړ او د ملت له راتلونکي سره ئې خیانت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومو لاسونو کي چي قلم دی؛ تر هغو لاسونو غوره دي، چي توري او ټوپکونه ئې په لاسونو کي دي.

ړانده د قلم ارزښت نه پېژني او پر ځای کاروني ئې نه پوهېږي.

خدایه!

د نااهلو له لاسونو قلم واخله!

خدایه!

په هغو لاسونو کي چي قلم دی دا توان ورکړه، چي قلم پر حق استعمال کړي.

د قلم قدر او منزلت وپېژني او د قلم رښتینی حق ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خیانـت

خیانت، خیانت دی، چي هر څوک، هر ځای، هر وخت، په هر کچ او په هر نامه ئې کوي.

کوچني خیانتونه، لوی خیانتونه زېږوي. کوچنی خیانت، لوی خیانت ته لار هواروي.

خیانت په هره سطحه او هر ځای کېدای شي.

لوی خاینان یو وخت کوچني خاینان وو، خو زینه پر زینه تر دې ځایه راورسېدل.

که مو په وړه ادراه کي، د کوچني خاین، پر کوچني خیانت غوږونه کاڼه او سترګي ړندې کړې؛ نو په لویو ادارو کي، لویو خیانتونو ته انتظار وکړئ!

هم به ئې واورئ!

هم به ئې ووینئ!

د ځینو خیانتونو تاوان نږدې وي، خو د ځینو کوچنیو خیانتونو زیان تر ډېره لیري رسېږي؛ حتا د یوې ټولني او هیواد راتلونکی له ګواښ او خطر سره مخامخ کوي.

د یوه ملت اینده تیاره کوي.

خیانتونه په نطفه کي شنډوئ!

خاین ته د زړورتیا چانس مه ورکوئ!

دا د یوې ټولني نېکمرغي او ترقي نه ده، چي موږ خیانت نه کوو؛ خو نور مو خیانتونو ته پرېښي دي.

خیانتونه فساد، ظلم، جرایم زېږوي او قانون ماتوي.

له یوه کوچني خیانته ټولنه بدمرغه کېږي او یو کوچنی خاین لویه ټولنه بربادولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له خپلو خلکو او ټولني سره ربښتينې خواخوږي لرو؛ بايد هيڅ خيانت او خاين ته موقع ور نه کړو، چي وده وکړي.

د ټولني او هيواد د نېکمرغۍ او بهترۍ لپاره بايد عمل وشي، نه تشي خبري.

که د يوه خيانت مخه و نه نيول شي، هغه خيانت بل زېږوي؛ له هغه بيا بل زېږي، ان تر دې چي خيانت او فساد بيا په خلکو کي عادي شي؛ داسي حالت د ټولني د ترقۍ او نېکمرغۍ ريښې باسي.

موږ او تاسو چي کوم خيانتونه وينو او پر هغو سترګي پټوو؛ دا په دې معنا نه ده، چي ووايو شکر موږ خيانت نه دی کړی/نه کوو، بل ئې کوي.

په حقيقت کي موږ لوی خاينان يو، لوی خيانتونه کوو، ځکه خاينانو ته مو د خيانت فضا برابره کړې ده، زړور کړي مو دي او فرصت مو ورکړی دی، چي خيانت وکړي.

ټولنه به خاوري داسي پرمختګ وکړي او خاوري به ټولنه داسي اصلاح شي، چي د خاينانو څوکيداران يو او د خيانتونو ننداري کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتاب

وایي:

«دوه شیان ډېر ښکلي دي. یو کتابونه، بل ګلابونه.»

ګلاب ښکلی دی، خو ژوند ئې بیا څو ورځې وي؛ مګر کتاب همېشه، هر ځای او هر وخت له تا سره وي.

ستا د ټول ژوند ملګری دی.

هر کله چي څه ترې وغواړې، بې عوضه ئې درکوي.

هر قدم په اخلاص او رښتینولۍ درسره اخلي.

کتاب له تا دا غواړي، چي و ئې لولې، څه ترې زده کړې او که امکان وي، تر نورو ئې هم ورسوې.

کتاب په دې نه خوشحاله کېږي، چي تا بندي کړی وي، نه ئې خپله لولې او نه ئې نورو ته پرېږدې.

له کتاب سره مینه دا ده، چي کتاب ولولې. دا مینه نه ده، چي په بیه ئې واخلې او په الماري کي ئې بند ساتې.

له کتاب سره باید د ګران او نژدې ملګري په شان بحث وکړې، څه ئې ومنې، څه ئې رد کړې او پر ځینو خبرو ئې بیا، بیا فکر وکړې.

کتاب بې مطلبه او رښتینی ملګری دی.

هیڅ وخت دي ملګرتیا نه پرېږدي، که ئې ته پرې نږدې.

کتاب داسي ډېر څه درکوي، چي نور ئې نشي درکولای او نه له نورو سره شته.

له کتاب سره د لوستلو اړیکه مه پرې کوه.

د کتابونو په برکت علم، پوهنه او تجربې له یوه نسله بل نسل ته رسېږي.

که کتاب نه وای، علم او پوهنه به نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سقراط وايي:

«ټولنه هغه وخت نېکمرغه کېږي، چې مطالعه ئې ورځنی کار وي.»

په ټولنه کي بايد د مطالعې او کتاب لوستني فرهنګ عام کړو او هر ځای چې انسان وي، بايد هلته کتاب هم وي.

کتاب روان سمندر دی. له دې سمندره بايد د علم، پوهي او معلوماتو هغه قيمتي مرغلري راوباسو، چې موږ پرې د پرمختګ او ښې راتلونکي خاوندان شو.

کتابونه ذهنونه روښانه کوي او فکرونه بدلوي، چې چا دي فکر بدل کړ ژوند دي بدلولای شي.

حتا يو کتاب هم کولای شي، چې په زرګونو خلکو کي مثبت بدلون راولي.

د ليف تولستوی وينا ده:

«په دنيا کي د هيڅ شي خوند د مطالعې له خوند سره سيالي نشي کولای.»

دا وينا هم ډېر څه لري:

«کتابونه، دريابونه دي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژونـد

ژوند باید داسي نه وي، چي فقط مو ځان ته خیر او ګټه رسېږي، نورو ته نه.

ځان مو یاد او بل مو هېر وي.

خپل غم اخیستي یو، خو د بل فکر بیا راسره نه وي.

انساني ژوند باید تر خپل کار او ګټي رامحدود نشي.

د نورو انسانانو احساس او فکر هم باید وکړو.

داسي نه، چي فقط هغه څه کوو، چي زموږ ګټه وي؛ د بل ګټي او تاوان ته نه ګورو.

انسان خپل ضرورتونه کولای شي له هري لاري پوره کړي؛ خو اصلاً انسانیت دا دی، چي د نورو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره هم متې راونغاړو او لاس په کار شو.

نورو ته په خیر رسولو کي زموږ هم ګټه ده.

د انسان فکر باید داسي نه وي، چي ځان ویني او پر نورو ئې سترګي پټې وي.

انسان ټولنیز مخلوق دی، باید د ټولني د خیر او ګټي فکر هم راسره وي.

ټولني ته هم څه ورکړو، ځکه ټولني موږ ته ډېر څه راکړي او ډېر څه راکوي.

حتا باید له هغو ګټو لا هم تېر شي، چي د یوه پکي ګټه، خو د نورو تاوان وي او ټولني ته زیان رسوي.

په ابادو وګړو ټولنه اباده وي.

اباده ټولنه وګړي اباد ساتي.

ټولنه زموږ ده او موږ د ټولني یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنه بې موږه او موږ بې ټولنې ژوند نشو کولای.

انسان که هر څومره باکماله، پر ځان بسيا او باوري وي، بيا هم نورو ته لږ و ډېر اړ دی.

هيڅ انسان پوره او بشپړ نه وي.

د بل مرستې ته حتماً ضرورت لري.

د نورو لاسنيوي ته ئې اړتيا وي.

يوازې ژوند نشي کولای.

په ټولنه کې بايد د يو بل لاسنيوی وکړو او له يو بل سره د مرستې او همکارۍ اصل عام او عملي کړو.

څوک دې دا فکر نه کوي، چې زما سره هر څه شته، بل ته احتياج او اړتيا نه لرم، ځکه نه له يوه لاسه ټک خېژي او نه ژوند يو طرفه لار ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تـلـل

دا یاد لرئ او دا خبره له زړه ومنئ!

پر هیچا/هیڅ شي دومره باور نه دی پکار، چي ټول عمر به زموږ وي او ټول ژوند به له موږ سره کوي.

ځیني داسي دي، چي لږ/ډېر وخت وروسته که موږ غواړو یا نه غواړو، له ژونده/لاسه مو ځي او یوازي مو پرېږدي.

یا خپله مجبوري او بېوسي بیانوي یا نوري پلمې کوي.

اصلاً حقیقت دا و/دی، چي هغوی د نورو وو او دي.

هغوی نه له اوله زموږ وو او نه دي او نه ئې له موږ سره د همېشه پاتېدلو اراده وه.

هدف او منزل ئې بل و/دی.

له موږ سره فقط د څو یادونو او خاطرو تر پرېښودلو راسره وو او بس.

نور پر خپله مخه ځي/لاړل.

څه ښه ئې ویلي دي:

«ځیني خلک فقط مخامخ زموږ دي، چي مخ ئې واوړي بیا د نورو دي.»

هیڅکله پر هغو وعدو تکیه مه کوئ، چي له تاسو سره د همېشه پاتېدلو لپاره کېږي.

هر قول، قسم او هره وعده په دې نه ارزي، چي رښتیا ئې وګڼو او په اخلاص باور پرې وکړو.

اکثره ژمني ډېري نامردي او د نیمي لاري ژمني وي.

ځیني لوظونه یوازي فرېبونه وي.

ځیني وعدې پټې دوکې وي.

ډېر داسي نامردو وعدو او دوکو وخوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېري هيلي بربادي شوې او ډېر اميدونه د همداسي نااميدۍ په څپو کي غرق شول.

ډېري اوښکي د ځينو له بې نيازۍ وڅڅېدې.

نو

په هيچا پوري زړه مه تړئ!

له هيچا د تل پاتېدلو هيله مه کوئ!

هيڅوک/هيڅ شی له هيچا سره تل نه پاتېږي.

فرق دا دی

ځيني مو ژر او ځيني مو څه وخت وروسته يوازي پرېږدي او ځي؛ خو دردناک پرېښودل ئې دا دي، چي بې خدای په امانۍ لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بـاور

ډېر او ژر باور ښه پایله نه لري.

هغوی چي ژر او ډېر باور کړی و/دی؛ اوس د خپلو ماتو زړونو تماشې ته ناست دي.

خپلو بربادیو ته ګوري.

دا اصل مه هېروئ!

دومره باور وکړئ، چي ضرورت ئې وي.

دومره اعتماد پکار دی، چي ژوند ورسره وشي؛ کنه یو وخت به پر خپل کړي باور پښېمانه شئ او ځان به ملامتوئ.

که چا مو یو ځل باور مات کړ، دویم ځل باور پرې مه کوئ؛ ځکه باور ماتېدل ډېر ژور درد لري؛ نو پر خپل ځان ورحمېږئ او دوه ځله ځان مه دردوئ!

باور ډېر حساس شی دی.

څوک چي مو باور نشي ساتلای، زړونه به مو څه وساتي؟

اړیکي به مو څه وپالي؟

د میني به مو څه قدر وکړي؟

یاد لرئ!

د ډېر او ژر  باور وروستۍ ډالۍ هغه درد دی، چي ټول عمر به مو زوروي او دردوي.

باور ماتېدل، یوازي باور نه؛ بلکي حتا پخې دوستۍ ته صدمه رسوي.

زړونه ماتوي.

هغه ملګرتیا په څو شېبو کي له منځه وړي، چي په څو کلن مزل کي جوړه شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي:

«مينه هر څه ته ماتې ورکوي، خو خپله ماته نه مني.» مګر باور ماتېدل د مينې ټينګه اړيکه هم اسانه ماتوي.

باور ساتنه هنر دی، چې موږ پر ځان د نورو باور وساتو او نور زموږ باور وساتي.

دا هنر دوستې پخوي.

ملګرتيا منزل ته رسوي.

اړيکې ټينګوي او زړونه ساتي.

د يو بل باور وساتئ، چې د يو بل زړونه وساتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرمختګ

هر انسان غواړي، چې په خپلو چارو کي بريالی وي او پرمختګ پکي وکړي.

هر څوک د پرمختګ کوښښ کوي او دا ئې هيله وي، چې ورځ تر بلي ښه شي.

په کار کي پرمختګ له کار او کسب سره مينه زياتوي.

موږ بايد دا زده کړو، چي څومره پر خپل پرمختګ خوشحاله کېږو، هغومره د نورو  پرمختګ ته هم خوشحاله شو.

د هيچا پرمختګ زموږ د پرمختګ  خنډ نه دی.

د هيچا کاميابي زموږ ناکامي نه ده.

د بل وړاندي کېدل/تلل زموږ د درېدلو/پاتېدلو معنا نه لري.

که مو د بل پر برياليتوب او پرمختګ زړه خوږ، موږ هم مخته نشو تلای.

که مو د بل لاري ورانولې، زموږ لاري به هم ابادي پاتي نشي.

که مو د بل ناکامي غوښته، موږ هم کاميابېدلای نشو.

که نورو ته په شر او تاوان رسېدلو خوشحاله کېدو؛ موږ به  هم پر خير او ګټه پېښ نشو.

د هيچا پر بريا او پرمختګ مه خفه کېږئ!

له دې ناوړه ناروغۍ ځان وساتئ!

نيت پراخ کړئ!

حوصله دنګه وساتئ!

زړه لوی کړئ!

د نورو په بريا کي خپله بريا ووينئ او له خپل برياليتوب سره د نورو بريا هم ولمانځئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي مه کوئ، چي د بل په ناکامۍ کي خپله کاميابي غواړئ.

که واقعاً د يو چا پر، پرمختګ وياړئ او خوشحاله کېږئ؛ په رښتيا ئې ستاينه وکړئ او په اخلاص ئې تشويق کړئ!

ستاسو ستاينه او تشويق هم د يو چا په بريا کي رول لري.

که په زړه کي ئې پرمختګ نشئ زغملای، زړه ورته خورئ؛ مهرباني وکړئ مصنوعي تشويق ته ئې لاسونه مه پړکوئ! د موقتي خوشحالۍ لپاره ئې کاذبه او دروغجنه ستاينه مه کوئ!

څه چي کوئ، ښه په اخلاص او صداقت ئې وکړئ! حتا په دښمنۍ کي هم اخلاص خوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# برخلیک

موږ ډېر ځله خپله بې همتي، بې پروايي، تېروتني او له ځينو پېښو سره سرسري چلند برخليک ګڼو، خو برخليک نه وي.

انسان عقل لري، چې د خپلي ګټي او تاوان فکر وکړي.

خپل خير و شر وپېژني.

ښه او بد تفکيک کړي.

هر څه ته په سرسري نظر و نه ګوري او نه له ځينو پېښو سره برسېرن چلن وکړي.

هر څه برخليک مه ګڼئ!

هر څه ته د برخليک په نامه ځان مه تسليموئ!

هر څه برخليک نه دی.

موږ ډېرى وخت د ځان خلاصولو لپاره يا چي بله پلمه راباندي ودرېږي؛ نو قسمت ته خبره راوړو او نصيب ملامتوو.

پر خدای توکل، خپل همت او پر ځان باور مو د بلا په خوله کي هم روغ او ژوندي ساتلای شي.

انسان بايد خپله بندګي هڅه او کوښښ وکړي، چي وروسته ځان او وجدان ته ملامت او بې خوابه نه وي.

د دې پر ځای چي بل ملامتوو يا بيا خپله پښېماني کوو؛ پکار دا ده، چي پخپل محکم عزم او کلکه اراده له هر مشکل سره مبارزه وکړو.

د هري ستونزي په مخ کي کلک ودرېږو.

رښتينې مبارزه او همت خامخا رنګ راوړي.

هيڅ ستونزه دومره نه ده، چي انسان ماته ور نه کړي؛ دا زموږ فکر او اټکل دی، چي ځان ته ستونزي غټوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه چي خپل همت او پر ځان باور ئې راکولای شي، بل څوک ئې نشي راکولای.

د انسان پیاوړې اراده او پر ځان باور غرونه خوځولای شي.

خوشحال بابا څه ښه وایي:

که فلک دي د زمري په خوله کي ورکا
د زمري په خوله کي مه پرېږده همت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کار

متل دی:

«په یوه لاس کي دوې هندوانې نه وړل کېږي.»

پر یوه وخت څو کارونه کول او څو ځایه ځان مشغولول همداسي وي منزل ته مو نه رسوي.

هر کار به مو نیمگړی پاته شي.

دا ښه ده، چي د یوه کسب پر ځای مو دوه، درې کمالونه زده وي؛ خو داسي نه چي د څو کسبونو د زدکړي شوق او هوس مو د یوه کمال او کسب وخت هم رانه واخلي.

نه یو کسب زده کړو او نه دوه، درې.

د کسب او هنر زدکړه باید له شوقه او اخلاصه وي، نه تش د نامه لپاره او نه له تش هوسه.

پکار دا ده، چي انسان باید یو کار مسؤلانه او صادقانه سر ته ورسوي بیا بل کار پیل کړي.

دا کمال نه دی، چي څو کارونه پر یوه وخت کوو.

نه تفریح پېژنو.

نه د استراحت خیال ساتو.

نه صحت او طبیعت ته پام کوو، نه مو د خوب وخت معلوم وي او نه د خوراک او څښاک.

کمال دا دی، چي هر کار پر خپل وخت وکړو او د هر کار وخت او ځای وپېژنو.

هغوی چي پر یوه وخت څو کارونه کوي او په یو ځل څو هنرونه زده کوي بې هنره پاتېږي او منزل ته نه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپل کار او هنر سره همېشنی مینه، شوق او اخلاص مو واقعي کمال او منزل ته رسوي، چي هم له کاره خوند واخلو او هم له خپل هنره.

په یوه ورځ هیڅوک نه دی ملا شوی. څوک چي په یوه ورځ ملا کوي هیڅکله به ملا نشي.

وايي:

«یو زده کوونکي، خپل ښوونکي ته وویل: غواړم چي بل استاد ته هم ورشم، یو بل هنر هم زده کړم. ستا څه مشوره ده؟

ښوونکي ورته وویل: هغه ښکاري چي په یو وخت د دوو سویانو ښکار کوي، خالي لاس راځي.»

نو د دوو ښکارونو په امید ځان خالي لاس مه پرېږدئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څوک

**دا یاد ساتئ!**

**ژوند دوه طرفه لار ده.**

**که یو څوک درنه لاړ شي، بل څوک درته راځي.**

**د یوه تګ د بل د راتګ زېری دی.**

**دا فکر مه کوئ، چي ځیني لاړ شي؛ نو خالي ځایونه به ئې بلکل ډک نشي.**

**حتا که له یوه سره مخه ښه کوئ، د بل ښه راغلي ته چمتو اوسئ!**

**د دې مطلب دا نه دی، چي موږ به د یوه په تللو خوشحالي کوو او د بل په راتللو.**

**خبره دا ده، څوک چي ځي او پاتېدلو ته ئې زړه نه کېږي؛ هغوی په منت او زاریو مه راګرځوئ!**

**خواستونه مه ورته کوئ!**

**خپل غرور مه ورته ماتوئ!**

**زړه به ئې نه غواړي چي پاته شي، پرېږدئ، چي لاړ شي، مخه ښه ورته ووایاست.**

**څوک په زاریو او خواستیو پاتېدلو ته مه مجبوروئ!**

**که پاته هم شي، څه خوند به ولري؟**

**کوم درد به مو پرې دوا شي؟**

**کومه دلاسه به درکړي؟**

**کوم زخم به مو ټکور کړي؟**

**که مو څوک په زاریو او خواستیو پاتېدلو ته مجبوره کاوه؛ نو ځان غلاموئ او د خپل قدر بې قدري کوئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رومن ګادي وايي:

«کله مې چې څوک پرېږدي، مخه يې نه نيسم. دا راته ثابته شوه، څوک مې چې پروا نه لري؛ هغوی مې يوازې پرېږدي. هغوی مې هېڅ درد نشي دوا کولای. نو څوک چې مې له ژونده ځي، ورته وايم: (دروازه دې پر مخ خلاصه ده، تللای شې).»

څوک چې مو ژوند ته راځي، هر کلی ئې وکړئ!

قدر ورکړئ!

و ئې پالئ!

مينه ورکړئ!

داسي چلند ورسره وکړئ، چي له تاسو سره پاتېدلو ته يوه نه، يوه پلمه ولټوي او درسره پاته شي.

خو چا ته زاری مه کوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تـلـلي

ځوک چي درسره دي، هغوی وپالئ او مینه ورکړئ!

ځوک چي مو له ژونده تللي دي، تللي ئې پرېږدئ!

د بیا راتللو هیله ئې مه کوئ!

لاري ئې مه څارئ!

هغوی په دغه نیت تللي دي، چي بیرته نه راځي.

اکثره تللي که بیرته را هم شي، بدل شوي وي.

بدل شوي نه زغمل کېږي.

څه ښه وايي:

«ورک شوي موندل کېږي، خو بدل شوي نه.»

هیڅوک په دې نه ارزي، چي لاړ شي؛ بیا زړونه پسي خورو او خپل شېرین ژوند ورپسي زهر، زهر کړو.

که د چا له موږ سره د اوسېدلو او پاتېدلو زړه وای، نه تلل.

له موږ سره چي دا څومره موده پاته وو، شاید دا نیت ئې و، چي پخپل تګ مو وزوروي.

شاید د یوه تمثیل لپاره راسره وو.

په هر نیت او اراده چي راغلي وو، خو اوس نشته.

دا وینا باید له زړه ومنو، چي

«مړې سکروټې مه بلوئ، تللې مینه تللې وبولئ!»

موږ چي چا پرېښي یو، موږ ئې هم باید نور انتظار و نه کړو!

خپله دنیا خپله اباده کړو!

خپل ځان ومومو او پر ځان رحم وکړو!

نور باید د هغو خوبونه و نه وینو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل خواره واره خیالونه راټول کړو.

نور باید د هغو په یادونو ځان و نه زوروو.

حواس متمرکز کړو.

د هغو د تګ سزا ځان ته ور نه کړو.

څوک چې تللي دي او بې موږه ژوند کولای شي، موږ هم باید بې هغو ژوند کول زده کړو!

د هغو له تللو وروسته مو باید دا زده کړي وي، چې د یو چا د تل پاتېدلو هیله او اسره له ځان سره دوکه ده.

پای پر همدې خبره:

«ځیني خلک بیا نه راګرځي، خو دا موضوع نوره مهمه نه ده.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مات زړه

**شاعر وايي:**

**مه ماتوه زړونه خو لالونه دي**
**څله ژړوې؟ په بدخشان مين**

**ځيني څيزونه که مات شي، دويم ځل به ئې جوړ کړو.**

**پيوند به ورکړو.**

**حتا بدل به ئې کړو؛ خو ځيني څيزونه (محسوس او غير محسوس) شته، که يو ځل مات شي بيا جوړېدل نه لري. لکه، باور، وعده، اړيکه او نور.**

**زړه همدغسي څيز دی که يو ځل مات شو بيا پيوند نه اخلي. که پيوند ئې هم کړې، مات به ئې تل احساسېږي.**

**لاس که مات شي، علاج لري، جوړېږي او بيرته کار کوي؛ خو زړه چي مات شي، نه علاج لري او نه بيا کار کولای شي.**

**هسي ئې نه دي ويلي:**

**«مات لاس کار کولای شي، خو مات زړه نه.»**

**زړه ماتېدنه که اواز نه لري، خو د درد اواز ئې غوږونه کڼوي.**

**ځيني وختونه نور نه، موږ خپله هم خپل زړونه ماتوو/مات کړي دي.**

**هغه څه غواړو، چي ناممکن دي.**

**پر هغو لارو روان يو، چي ناهيلي کوي مو، خو منزل ته پرې نه رسېږو.**

**له هغو خلکو د خپلو زړونو د ساتني او پالني تمه  کوو، چي زړونه ماتول ئې کار دی او پر زړونو لوبي کوي.**

**ډېر ځله خپل ژر او پوره باورونو زموږ زړونه دړي، وړي کړل.**

**داسي چي ژر باور پر ښکلو کوي**
**دغسي مات، مات زموږ زړونه ښه دي**

زهير سپېڅلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هسي هم په داسي زمانه او دنیا کي اوسو، چي مات زړه دي نه څوک وینی او نه ئې پوښتنه کوي.

نو لطفاً!

زړونه مه ازاروئ!

دا دنیا مه ورانوئ!

دغه ائینه روغه وساتئ، مه ئې ماتوئ!

دغه ائینه دي تل روغه او صفا وي.

دا کعبه دي تل ودانه وي.

خواجه محمد بنګښ څه ښه ویلي دي:

کاش، چي ځینو منلای.

زړونه مه ماتوه لال د بدخشان دي

ډېر ګران کار دی رغول د شکسته وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښوونکی

ښوونکی ښکلی او سپېڅلی نوم دی.

د ښوونکي/معلم د درانه مقام، درناوي او منزلت لپاره د دواړو جهانونو د سردار دا حدیث شریف کافي دی، چي فرمایي:

«بېشکه، زه یو معلم رالېږل شوی یم.»

د ښوونکو وظیفه سپېڅلې او درنه ده. ښوونکی د ټولني لارښود دی.

د ملت رهنمايي کوي.

د هیواد راتلونکی ئې په لاسونو کي دی.

د جهالت او ناپوهی تیارې لیري کوي.

د علم او پوهنې ډېوې بلوي.

ذهنونه روښانوي.

استعدادونه روزي.

د ټولني طبیب دی او فکرونو ته سالمه او مثبته وده ورکوي.

د دې ملت او د دې خاوري د بچیانو ښوونه او روزنه دواړه کوي.

ښوونکی خپله نه پاچا دی او نه وزیر، خو پاچاهان او وزیران ئې د پاچاهی او وزارت مقام ته رسولي دي.

موږ دا هر څه منو او وایو، خو فقط تر خبرو او ویناوو مو رامحدود کړي دي. په عمل کي هیڅ نشته او نه ئې کوو.

که له ښوونکي واقعاً د ټولني ښوونه او روزنه غواړئ، ښوونکي ته د ښوونکي حیثیت او مقام ورکړئ!

د ښوونکو د ژوند اړتیاوي پوره کړئ!

ښوونکی دې ته مه مجبوروئ، چي یو وخت په مکتب کي ښوونکی او بل وخت په بل ځای کي مزدور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په ټولنه کي ښوونکی خپل کور نه لري، په کرایه کور کي اوسي.

نیمه ورځ مکتب ته راځي او نیمه ورځ له اقتصادي مجبورۍ بله مزدوري کوي، بیا څنګه له ښوونکي دومره ډېري او لوړي غوښتني لرئ!!

د نورو چارواکو امتیازات، معاشونه او بهرني سفرونه وګورئ بیا ئې له ښوونکي سره مقایسه کړئ!

چا د ښوونکو د مجبورۍ، غریبۍ او حال پوښتنه کړې ده؟!! کوم امتیازات مو د ټولني د نورو غړو په پرتله ورکړي دي؟

تر کومه چي د ښووني او روزني سیستم سالم، منظم او معیاري نه وي، د ښوونکو قدر ونشي، د ټولنیز پرمختګ مخه به ډب وي.

ښوونکي ته د ښوونکي حیثیت، مقام او قدر ورکړئ!

ښوونکی، ښوونکی وبولئ؛ بیا د ټولني ښوونه او روزنه ترې وغواړئ؛ بیا مو حق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وجـدان

موږ او تاسو وينو، ځينو کسانو د يوې حلالي ګولۍ د پيدا کولو لپاره لاسونه تناکي کړي دي.

جامې ئې چټلي/خيرني شوي وي، نظافت به ئې هم نه وي مراعات کړی خو په پاک زړه او سپېڅلي وجدان ئې ګټي.

د بل حق نه تروړي.

نورو ته تمه نه لري.

د بل له لاسه ئې نه اخلي.

لږ ګټي، خو قانع وي او حلال رزق وي.

برعکس هغوی هم وينو، چې پاکي او منظمې جامې اغوندي، ظاهري بڼه ئې برابره کړې وي، ځان پاک او رښتينی ښيي. سهار په قدنما هينداره کې ځان ګوري او له کوره راوزي.

هغو ادارو ته ځي، چې پر پاکو، خوځنده چوکيو او پستو کوچونو کښېني خو په غلا، غدر، خيانت او اداري فساد ئې پيدا کوي.

ځان ظاهراً پاک ساتي، خو دننه ئې ضمير چټل او وجدان ئې دومره ککړ وي، چې حد نه لري.

دوی به ډېري ګټي، خو قناعت نه لري.

حرص په مخه کړي وي.

سترګي ئې نه مړېږي.

د نورو په حق خوړلو، خيانت او په فساد ګټلې ئې خېټه دومره پړسولې وي، چې زړه، ضمير او وجدان ئې پکې ورک وي.

دغسي خلک تر هغو خلکو ډېري بدي ورځي کوي، چې يا ئې نه لري يا لږ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دوی سره فقط د ډېرولو غم ورسره وي؛ نور دې ته نه ګوري، چې په کومه طريقه ئې پيدا کوم او پر کومه لار راځي.

دومره ئې د مال او شتمنۍ حُب پر زړونو غالبه وي، چې د بل عزت، حيثيت او شخصيت بلکل نه پېژني.

انساني کرامت تر پښو لاندي کوي.

د دغسي انسانانو معيار فقط دوه مخي نوټونه دي، چې څوک څومره لري؛ په هم هغه اندازه ئې قدر کوي.

دوه مخي کاغذي نوټونه که په هره بڼه وي؛ په ډېرو ئې شخصيت، حيثيت، وجدان او ضمير، انساني کرامت، د بل او خپل عزت حتا ورورولي او ملګرتيا هم قربان کړي دي.

ښه دا ده، چې

په چټلو/خيرنو جامو او ککړو لاسونو لړ، خو حلاله ګوله ځان او کورنۍ ته پيدا کړو؛ نه دا چي په پاکو، سپينو لاسونو، اوتو کړو جامو ډېر، خو حرام، فاسد او د بل حق وخورو.

نه دا چي پيسې تر انساني کرامت راته مهمي شي او نه دا چي د پيسو او نوټونو په مخ کي ضمير او وجدان سرټيټي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هڅه او امید

انسان باید هیڅکله هڅه او کوښښ پرې نږدي.

په هیڅ حالت کي باید هیله او امید و نه بایلي.

انسان که امید وبایلي او ناهیلی شي؛ هڅه هم نشي کولای؛ نو چې هڅه نه وي، هدف ته هم نشي رسېدای.

د هر هدف گټلو او حاصلولو ته ډېري لاري دي.

یوه لار مه انتخابوئ!

که په یوه لار هدف او موخه تر لاسه نشوه؛ باید بله لار ولټوو؛ که په هغه هم ونشي؛ نوري لاري هم شته، چې ځان پرې وازمویو.

په ډېرو او بیا بیا هڅو حتماً منزل ته رسېږو.

په ځینو حالاتو کي او له ځینو پېښو سره باید له غوره، فکره او عقله کار واخلو. کېدای شي په دې طریقه ډېر څه په اسانه، روغ او سلامت تر لاسه کړو.

له زوره کار اخیستل ښه پایله نه لري.

کله، کله یوه وړه تېروتنه ډېره خواري له منځه وړي.

د زور پر وخت عقل مرور شي.

لاندي حکایت د هڅي او امید په اړه ډېر څه لري.

«د بزگر خر په کوهي کې ولوېد. بزگر د کوهي په غاړه ډېر تاو راتاو شو خو د خره د را ایستلو لاره یې ونه مونده. اخر یې له ځان سره وویل چې خر مې زوړ دی او دا کوهی هم د کار نه دی، بهتره ده کلیوال راوبولم چې اشر وکړي او څاه ډک کړي.

همداسې یې وکړل. کلیوالو چې څاه ته د خاورو ارتول پیل کړل، له هر بېل خاورو سره به د خره هینگارې شوې خو لږ وروسته یې هینگارې ورکې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خره خاوند وروکتل، چې په خره څه چل وشو. که ګوري چې خر له هر ځل خاورو سره ملا ځنډي، خاوره لاندې غورځوي او له خاورو پښه راپورته کوي. په همدې چل ورو ورو خر راپورته شو. خر ژوندی پاتې شو او بې کاره کوهی ډک شو.

غر که لوړ دی، په سر یې لار شته.»

(د زرو هېندارو کور/د استاد غضنفر ژباړه)

بزګر د خره له را ایستلو ناهیلی شوی و، په دې نیت ئې څاه ته خاوره غورځوله، چي خر خو هسي هم نشم را ایستلای، څاه خو به ډک شي.

مګر د خره چي ژوند ته امید و او هڅه یې کوله، هم ژوندی پاته شو، هم زوړ څاه ډک شو او هم بل ځل کوهي ته د لوېدلو له غمه خلاص شو.

که له عقله، فکره او تدبیره کار واخلو او هڅه پرې نږدو؛ کېدای شي د یوې ګټې پر ځای دوې ګټې وکړو او په یوه غشي دوه ښکاره هم کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ضـرر

خپل کرلي به خپله رېبو، نور ئې نه رېبي.

که څوک ښه کوي، که بد، گټه او تاوان ئې د ځان ده، نه د نورو.

که دا نه خوښوو، چې نور موږ ته تاوان ورسوي، بل هم نه غواړي، چې موږ تاوان ورواړوو.

که موږ ښه واوسو، د نورو له بدو به په امان یو.

که مو له چا سره نېکي په وس وه، ښه تر ښه؛ که نه، له بدی باید ځان لیري وساتو.

که چا راسره بد وکړل، باید ځواب ئې په بدو ور نه کړو؛ ځکه چې زموږ او د هغه باید فرق وشي.

زموږ عمل که ښه وي او که بد، زموږ ملگری دی.

که له بل انسانه د ښو توقع لرو، باید موږ هم ښه چلن وکړو.

که مو بل محروماوه، موږ هم گټه نشو تر لاسه کولای.

بل ته رسولی تاوان بیرته زموږ تاوان دی.

که دا غواړو، چې د نورو د لاس او ژبې له ضرره په امن شو، باید خپل لاس او ژبه مو په واک کې وي، چې نورو ته ضرر و نه رسوو.

د لاس تر ضرر د ژبې ضرر سخت او دروند تمامېږي.

د لاس د گزار زخم لږ/ډېر وخت وروسته جوړېږي، خو د ژبې د گزار زخم همېشه تازه وي.

هغوی چې اغزي ئې کرلي دي، دا تمه دي نه کوي، چې گلونه واخلي او هار ترې جوړ کړي.

نورو ته ضرر رسوونکي خپله هم له ضرره په امان کې نه پاته شوي دي او نه پاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندي حکايت همدا وايي: له بل سره چي ښنگه کوې، له تا سره به هم هغسي کېږي.

«د يوې چونگښې او موږک سره يارانه وه. موږک په وچه کې اوسېده او چونگښې ډېر وخت په اوبو کې تېراوه. يوه ورځ چونگښې د موږک د ځورولو هوس وکړ. د موږک پښه يې په خپله پښه پورې وتړله او چمن ته لاړل. په چمن کې به دوی دواړو خپل خواړه پيدا کول. په دې ورځ يې هم گډې مړې کړې او بيا دواړه د ډنډ خوا ته روان شول. هلته چې ورسېدل، چونگښې ناڅاپه اوبو ته ټوپ کړل. موږک خوارکي چيغې سورې شروع کړې خو چونگښې چي له اوبو خوند اخيست، د موږک هيڅ پروا ونکړه. موږک په اوبو کې مړ شو او مړی يې د اوبو سر ته راووت. دغه وخت د يوه باز چې په هوا کې گرځېده، مړه موږک ته وکتل، راکوز شو او په موږک يې غوټه وکړه. له موږک سره چونگښه هم په هوا شوه ځکه هغې خو خپله پښه د موږک په پښې پورې غوټه کړې وه. باز چونگښه او موږک دواړه وخوړل.

مه کوه په چا چې و به شي په تا»

(د زرو هېندارو کور/د استاد غضنفر ژباړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اړيکي

اړيکي جوړول اسانه دي، خو پالل ئې ګرانه خبره ده.

په ژوند کي به ډېر کسان ووينئ او ډېر به واورئ.

له ډېرو سره به ناسته ـ ولاړه کوئ او راشه ـ درشه به لرئ.

د ځينو کسانو په ليدلو به واقعاً خوشحاله کېږئ او روحي سکون به احساسوئ او شايد داسي هم وي، چي د ځينو په ليدلو به يو ډول نا ارامه کېږئ هم؛ نه به غواړئ، چي ورسره پاته شئ.

حتا کېداى شي له ځينو سره به مو بلکل زړه نه غواړي، چي سترګي هم ولګوئ، خو مجبورۍ او نامرده ضرورت به راګرځولي ياست.

ژوند ته به ډېر کسان راځي، خو ټول په يوه نيت نه دي. ځينو فقط يوه هيله را اخيستې وي، چي پوره ئې کړي او بيرته ځي.

ځيني بيا يوه ضرورت په مخه کړي وي.

ځيني يو مطلب لري او ځيني شايد له زړه مجبوره وي او د يوې رښتيني رابطې په هوډ به راغلي وي، خو داسي ډېر کم پيدا کېږي.

دا ياد لرئ!

هره اړيکه او له هر چا سره اړيکه زموږ په خير نه ده.

د هر چا راتګ زموږ د خوښۍ سبب نه کېږي؛ حتا د ځينو راتګ مو سرخوږی هم شي.

ډېري اړيکي د ضرورتونو او مطلبونو لپاره وي، نه د اړيکو لپاره.

په دې بايد پوه يو، چي

د ځينو کسانو په راتللو ژوند نه ښکلی کېږي؛ په تللو ئې ژوند ښکلی او خوندور شي.

ژوند ته د هر چا راتګ د سالمي، مخلصانه او تلپاتي اړيکي لپاره نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني کسان اړيکي فقط د يوه مطلب لپاره درسره جوړوي يا ئې تر يو مطلبه درسره ساتي، چي مطلب ئې پوره شي اړيکه ئې هم ختمه شي.

دا ومنئ!

د ځينو اړيکو په ختمېدلو انسان ذهناً او جسماً ارام او هوسا شي.

ځانونه هوسا کړئ!

ذهنونه ارام کړئ!

ځيني اړيکي/له ځينو سره چي اړيکي پرې کړئ؛ دا به درته معلومه شي، چي له څومره درانه باره خلاص شوئ.

د سکون ساه به واخلئ او بې غمه به شئ.

د ځينو مصنوعي او مطلبي اړيکو پر پرې کېدلو او ختمېدلو بايد ووايو، شکر خدايه،

الحمدلله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اصلیت

**هیڅکله ډېر او ژر باور مه کوئ!**

**موږ ډېر ځله خپل ژر او ډېر باور چیچلي یو.**

**خپل باور داسي زخم راکړی وي چي تر ډېره تازه وي، څړیکي کوي او دردوي مو.**

**زیات کسان د نورو له ژر او ډېر باوره ناوړه استفاده کوي او ډېرو ته خپل باور دوکه ورکړې وي.**

**ټولنه له رنګارنګ انسانانو ډکه ده. ټول هغسي نه دي، څنګه چي موږ یو یا څنګه چي ئې موږ غواړو.**

**د ځینو انسانانو نه مخ یو وي، نه ژبه یوه وي او نه ئې خبره او عمل یو وي.**

**ما ته په یو مخ ځان ښیي، تا ته په بل مخ.**

**یوه ته یوه خبره کوي، بل ته بله.**

**څنګه چي ئې خبري وي، هغسي ئې عمل نه وي. خبري او کردار ئې د ځمکي او اسمان توپیر لري.**

**موږ د ډېر درانه حساب ورته کوو، خو د تول پر وخت ډېر سپک وخېژي.**

**موږ د یوه اصیل تمه ترې لرو، خو هغه پر هغه لار، لا نه وي راغلی، چي یو وخت یو اصیل پرې تېر شوی وي.**

**ځیني وختونه له ټیټو خلکو لوړي هیلي زموږ د خفګان سبب کېږي او زورېږو.**

**له کم اصلو سره مینه ځان زورول دي او د کم ظرفو خلکو محبت دغسي وي:**

**محبت وي د کم ظرفو خلکو داسي**
**لکه ګل چي د ماشوم په لاس کي ور شي**

اباسین یوسفزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول هغسي نشي کېدای، څنګه چي زموږ فکر او اټکل دی او څومره چي موږ هيله او ارزو ترې لرو.

نه به له هر چا لوړي هيلي او لويي ارزوګاني لرو او نه به له هر چا د اصليت تمه کوو.

ډېر کم اصل مصنوعي رنګونه کاروي، چي ځان اصيل وښيي، خو اصلاً د اصليت هيڅ جوهر نه لري.

دا فلسفه په لاندي لنډۍ کي ښه بيان شوې ده.

«د ګل د ذات پوښتنه وکړه

غونچه ترې هله جوړوه چي اصيل وينه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نـن

پرون تېر شو، نن روان دی او سبا راځي.

موږ په نن کې اوسو؛ باید د نن فکر وکړو او له ننه ګټه واخلو.

په پرون پسې ارمان کول، نن هم ضایع کول دي. پرون تر ورخ تېري اوبه دي، بیرته نه راګرځي.

پرون یو نن و.

نن، سبا پرون کېږي او هر سبا یو نن دی.

بختور او بریالي هغه دي، چې داسې پرون ئې تېر کړی وي، چې نن هم ترې راضي وي.

بریالي هغوی دي، چې په نن کې اوسي او سبا ته چمتو وي.

هغوی چې په نن کې سبا لټوي، یا پرون ته پکې ګوري، نن هم ضایع کوي. د هغوی هر سبا نن او هر نن ئې پرون وي.

پرون مو لاس ته نه راځي او سبا مو په اختیار کې نه دی.

څه چې لاس ته نه راځي او څه چې مو په اختیار کې نه دي، په هغو پسې وخت مه ضایع کوئ!

په نن کې اوسئ!

په نن کې ژوند وکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنت

که یوه سپینه پاڼه او څو رنګونه یوه انځورګر/هنرمن ته په لاس ورشي؛ په لږ وخت کې به داسې څه پرې انځور کړي، چې د ډېرو پر ذوقونو به برابر وي.

ډېر به ئې ستايي.

ډېر به ترې خوند اخلي.

ډېر به ئې هنر او کمال ته حیران پاته وي، چې په کم وخت کي ئې یوه سپینه پاڼه څنګه رنګینه او ښکلې کړه!

که همدا سپینه پاڼه او رنګونه هغه چا ته ورکړو، چې انځورګر نه وي؛ هیڅ به پرې انځور نه کړي، هسې به پاڼه او رنګونه ضایع کړي او قیمتي وخت به ئې هم له لاسه ووزي.

خبره د وخت، پاڼې او رنګ نه ده، کیسه په هنرمن او انځورګر کې ده.

ژوند همداسې سپینه پاڼه ده.

دا په موږ پوري اړه لري، چې

څه پرې انځوروو؟

څنګه رنګونه پکې کاروو؟

یو ښکلی انځور سازوو او که وخت او رنګونه ضایع کوو.

ځانونه هنرمن ثابت کړئ!

د ژوند د رنګینولو او ښکلي کولو لپاره باید واقعي انځورګران شئ!

ژوند یوه داسې رنګینه تابلو کړئ، چې د هر چا نظر ورواوړي او ووايي: واه، څومره ښکلی!!!

دا په موږ پوري اړه لري، چې

له ژونده جنت جوړوو که دوږخ؟

ښکلی کوو ئې، که بدرنګ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند ترې اخلو، که ترې بېزاره کېږو؟

ژوند کوو، که فقط تېروو ئې؟

که ژوند ښکلی کړو او جنت ترې جوړ کړو، ګټه دا ده هم به موږ پکي خوشحاله یو؛ هم به نورو ته خوشحالي ورکولای شو.

هم به ئې موږ له نندارو خوند اخلو؛ هم به ئې نور نندارې ته راځي.

که ژوند دوږخ کړو، تاوان ئې دا دی، چي دوږخ ته هیڅوک نه راځي.

یوازي به موږ یو، چي په دې دوږخ کي به سوځو.

نو ژوند دوږخ کوئ مه، جنت ترې جوړ کړئ!

او

جتنـي ژوند وکړئ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فکري توپير

خبره په سرونو کې نه ده، په فکرونو کې ده.

سرونه ډېر دي، خو سالم فکرونه په کمو سرونو کې وي.

ځينو فکر تر ځان رامحدود کړی وي.

فقط ئې ځان ته پام وي.

نوره دنيا نه ويني.

هغه څه کوي، چې د ده پکې ګټه وي.

ځيني بيا ټولنيز او اجتماعي فکر کوي، ځان ته هم ګټه رسوي او د بل خير هم غواړي.

کومه ښېګڼه چې ځان ته غواړي، پر نورو ئې هم پېرزو وي.

ځيني بيا نه ځان ته ګټه رسولای شي، نه بل ته؛ خو فکر ئې داسي جوړ وي، چې ګټه که نشم رسولای ضرر خو بايد ورسوم.

ښه که مي په وس نه دي، بد خو کولای شم.

دا د ودان او وران فکر توپير دی، چې يو ابادي کوي، بل خرابي.

يو هغه کار کوي چې هم ئې ځان ته ګټه ورسېږي؛ هم نورو ته.

بل بيا داسي کار ته ملا تړلې وي، چې هم ځان ته تاوان رسوي هم بل ته.

يو دا غواړي، چې بل ته په لاس او ژبه خير ورسوي. بل بيا په دې پسي ګرځي، چې څنګه نورو ته د لاس او ژبي ضرر پېښ کړي.

يو خلکو ته رڼا جوړوي، بل ئې په تياره کي ساتي.

يو له ابادۍ، ودانولو او بل ته له خدمت کولو خوند اخلي؛ بل بيا په ويجاړولو او بل ته په ضرر رسولو خوښۍ کوي او چاغېږي.

دواړه انرژي مصرفوي، خو په مصرفولو کي ئې فرق دی. يو ئې د ابادۍ، بل ئې د خرابۍ لپاره مصرفوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ډېر تفاوت شته په انسان کي د معنا په لحاظ»

ځيني خپله ابادي د نورو په ابادۍ کي ويني؛ ځيني بيا د نورو په بربادۍ کي خپله ابادي لټوي.

دا د مثبت او سالم فکر برکت دی، چي وايي که نور اباد وي زه به هم اباد يم؛ مګر دا بيا منفي فکر دی، چي وايي زه به هله اباد شم چي نور تر پښو لاندي کړم.

که مو بل ته کوهی کينده، لومړی به موږ پکي لوېږو.

که مو د بل په تاوان کي خپله ګټه لټوله، پوه شئ چي موږ تر هغو ډېر تاواني يو.

که مو نور تر پښو لاندي کول، هيڅکله به لوړ نشو!

ته چي بل په غشو ولې هسي پوه شه

چي همدا غشی به ستا په لور ګزار شي

رحمان بابا

نيت لوی او پراخ ساتئ!

د هيچا په ابادۍ او پرمختګ نيت مه بدوئ!

د نورو ښېرازي او نېکمرغي خپله ښېرازي او نېکمرغي وګڼئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند قدر

وایي:

«ژوند ریاضي نه ده، هنري اثر دی، فکر پرې وکړئ او خوند ترې واخلئ.»

د ژوند قدر وکړئ!

ښکلی او رنګین ئې کړئ!

پخپل لاس ئې مه بې ارزښته کوئ!

موږ ډېر ځله خپل شېرین ژوند په هغه چا/څه پسي زهر، زهر کړو، چې په حقیقت کي هغه په نامه اخیستلو هم نه ارزي.

حتا دا به هم ووینئ، چې په چا پسي مو اباد ژوند برباد کړئ؛ هغوی به مو د بربادۍ تماشه کوي او خوند به ترې اخلي.

ډېر کله پخپل لاس په غیر امکاني مقاصدو پسي ځان زوروو.

حتا په دې مو هم ځان ناقراره کړی وي، چې ډېر څه مو تر خپل وخت مخکي غوښتي دي یا غواړو د کال مزل په اوونۍ کي پای ته ورسوو.

هغه کوچني جزونه چې ژوند پرې ښکلی کېږي، موږ یا نه وینو یا مو نظر ترې اړولی وي او په کُل پسي جسماً او روحاً نا ارامه ګرځو.

مه په نورو کي خپل ارزښت لټوئ او مه د ځان اهمیت له نورو غواړئ!

د خپل ځان، زړه او ژوند ارزښت خپله وساتئ!

هیڅوک/هیڅ شی په دې نه ارزي، چې ځان پسي خفه او خوږ ژوند پسي تریخ کړو.

په انتخاب کي دقت وکړئ، سرعت نه.

هر څوک جانان کېدای نشي.

هر ځلېدونکی شی سره زر نه وي او هر څوک د دې وړ نه دی، چې زړه ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تش په نامه د میني په تمثیلونو ځان مه دوکه کوئ! هر څوک د ربښتیني میني قصد او اراده نه لري او نه ئې کولای شي.

خپل ځان او ژوند مه بربادوئ!

په بربادو ښارونو کي هیڅوک نه اوسي.

ځان، زړه او ژوند داسي ودان، ښکلی او منظم کړئ، چي نور ئې ننداري ته راشي او پکي د پاتېدلو هیله او ارمان ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بدرنگ ښايست

دا ومنئ!

ځيني ښايستونه ډېر بدرنگه دي.

په ځينو ښايستونو ښايست بدنامه دی.

ځيني ښکلاګاني ډېري ناولي وي.

هـر ښـايـست، ښايست نه دی.

هره ښکلا، ښکلا مه ګڼئ!

د هر ښکـلي مخ خاونـد ښکـلی زړه نه لري.

تېر وزئ مه!

د ډېرو ښکلو او سپينو مخونـو تـر شا ډېر تـور او بـدرنـګ زړونـه پـټ دي.

ډېر مخونه مصنوعي او ډېر ښايستونه کم اصل دي.

د اصليت تمه او هيله مه ترې کوئ!

ظاهري ښکلا ئې يوه دوکه ده.

معنوي جوهر نه لري.

دا به ووينئ!

د ډېرو د خولې او زړه خبره يوه نه ده.

په خوله خواږه ږغېږي، خو په زړونو کي کاږه وي.

تندي ئې سپين وي، خو نيتونه ئې تور دي.

د خولې صفايي لري؛ مګر د زړونو د چټلۍ ئې حد نه کېږي.

مـخامخ بـه ګـلونـه درتـه نـيسـي، خو پـه پټه ئې کوهی درته کيندلی وي.

ځان مه تېر باسئ!

ډېر په احتياط قدم اخلئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چا تـه حال مه وایاسـت!

پر هر چا ژر بـاور مه کوئ!

ماران د یارانو په جامه کي گرځي.

سپین ئې ویلي دي:

په خوله خــواږه په زړه کي زهر لري
د دغـه ښــار منـافقــین دغسي دي

چي لـږ يې وستــايې، هوا ته خېژي
غنمرنـگ نـه ښیم، سپین دغسي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژوند جنت کول

که ژوند جنت کړو، جنت ته هر څوک راځي، خو دا یاد لرئ! ښايي داسي څوک هم راشي؛ چي دا جنت پرې نور ښکلی شي او په یوه جنت کي د بل جنت ننداره وکړو.

دا هم کېدای شي داسي څوک راشي، چي جوړ کړی جنت مو دوږخ کړي او پر خپله مخه لاړ شي.

ښه دا ده، چي خلک وپېژنو.

هر څوک دغه جنت ته پرې نږدو.

هر چا ته د زړه دروازې خلاصي نه کړو.

هیچا ته دومره  وخت مه ورکوئ، چي جنتي ژوند مو دوږخ کړي، تاسو پکي سوځئ او دوی مو له لیري تماشې کوي. حتا ځیني مو له تماشې خوند هم اخلي.

ښه دا ده، چي خلک وپېژنو او په انتخاب کي سرعت نه، دقت وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټولنه

ټولنه د ډېرو وګړو مجموعه ده.

د ټولني سمون او پرمختګ نه د یوه کس کار او مسؤلیت دی او نه د یوه کس په هڅه ټولنه پرمختللې کېږي.

«په یوه ګل نه پسرلی کېږي.»

د ټولني د هر وګړي مسؤلیت دی، چي د ټولني د ښه سمون او پرمختګ لپاره مثبت فکر او عملاً کار وکړي.

څنګه چي په کورني ژوند کي، کور پر هر غړي حق لري؛ دغسي په ټولنیز ژوند کي ټولنه پر هر وګړي حق لري، چي د ټولني اړتیاوي پوره کړي.

د ټولني نیمګړتیاوي درک کړي او حللاره ئې ولټوي.

خپله ټولنه له سیالو ټولنو سره سیاله کړي.

د خپلي ټولني غوښتنو ته ځان ورسوي.

که ټولنه ناارامه وي، وګړي ئې هم د هوسایې او سوکالۍ ساه نشي اخیستای.

په ټولنیز ژوند کي باید تر فردي ګټو، اجتماعي ګټو ته ترجیح ورکړو.

د ټولني ګټه او تاوان ټولو ته رسېږي.

ښه او بد ئې د ټولو دي.

چېرته چي ټولنیزي ګټي د شخصي ګټو قرباني کېږي هلته ټولنیز سمون او پرمختګ ناشونی وي.

هر وګړي خپل غم اخیستی وي، د بل فکر او غم ورسره نه وي.

که دی موړ وي، د بل د لوږي غم نه کوي.

پکار دا ده، چي وګړي د یو بل لاسنیوی وکړي او په ګډه مخته لاړ شي.

د یو بل په خوښۍ او درد ځان شریک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر خپله وسه په اخلاص له یو بل سره مرسته او کومک وکړي.

د وګړو چي ټولنیز احساس مړ شي، هغه ټولنه پرمختګ نشي کولای همېشه به ساکنه او جامده پاته وي.

موږ باید د ځان، ټولني او د ټولني د هر غړي په اړه مثبت فکر ولرو.

د ټولني نېکمرغي او بدمرغي خپله نېکمرغي او بدمرغي وګڼو.

داسي به هیڅکله د ښې ټولني خاوندان نشو، چي یو ئې ابادۍ ته کار کوي او سلو نورو ئې بربادۍ ته ملا تړلې وي.

دا وړۍ نه شړۍ کېږي، چي د ټولني اصلاح غواړو، خو اصلاح ته ئې کار نه کوو.

یوه سالمه، منظمه او پرمختللې ټولنه؛ سالم، منظم او مثبت فکر او کار غواړي.

روزلی احساس او مثبت فکر یوه پرمختللې او نېکمرغه ټولنه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مخونه

د ځينو انسانانو زر مخونه وي.

په زرو مخونو کي چي حقيقي او اصلي مخ لټوې او اصليت ئې پېژنې، يو عمر مزل غواړي.

ويليام شکسپېر وايي:

«خدای تا ته يوه څېره درکړې ده او ته بله څېره غوره کوې.»

داسي انسانان ډېر دي، چي مختلف مخونه لري.

په يوه مخ او يوه رنګ ئې ګزاره نه کېږي.

يوې څېرې ته سل رنګونه ورکوي.

مخ او شا ئې فرق نه کوي.

شپېه، شپېه ځان بدلوي.

نوی، نوی رنګ اخلي.

مصنوعي اکټونه کوي.

د هر رنګ لپاره بېل، بېل ځای او وخت ګوري.

ځيني دا کمال بولي، چي د هر ځای/وخت له تقاضا او فضا سره ځان جوړ او خپل اصليت بدل کړي.

هو ته نه، نه ته په هو ځواب وايي.

ښو او بدو دواړو ته سر ښوروي.

حق او ناحق نه بېلوي.

د سلامت او ملامت توپير نه کوي. ظالم او مظلوم دواړو ته په يوه انداز ګوري.

په ګفتار او کردار کي ئې د ځمکي او اسمان توپير وي.

دا هيڅ هنر نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصل هنر دا دی، چي انسان خپل اصلیت ثابت وساتي او ځان اصل ثابت کړي.**

**ښنگه چي وي، هغسي ځان وښيي او چي ښنگه ځان معرفي کوي هغسي پاته شي.**

**دا هنر زده کړئ!**

**لکه ونه مستقیم پر خپل مکان یم**

**که خزان راباندي راشي که بهار**

رحمان بابا

**د یوه مخ، یوې ژبي، صداقت او رښتینولۍ ثبوت ورکړئ!**

**دا مه ثابتوئ او دا هنر نه دی، چي په یوه خوله کي سل ژبي ساتي او یوه مخ ته سل رنگونه ورکوي.**

**نور هنرونه زده کړئ!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کم اصل

«د زړه په غوښو مي ساتلو

کم اصل یار و، زه ئې و نه پېژندمه»

وايي:

«ځينې خلک داسې دي، لکه کم اصل/بې کيفيته توکي ډېر ژر خپل خوند او رنګ بدلوي.»

که دغسي بې کيفيته، کم اصل، بې ننګه، بې ايمانه، څو مخي، څو ژبي او د لستوڼو ماران له ژونده او ذهنه وباسو؛ باور وکړئ، ژوند به مو خوندور او رنګين شي.

روحاً او جسماً به هوسا شو.

ځيني په دې څه چي نوم ئې واخلو، په دې لا نه ارزي، چي نوم ئې هم واورو.

دغسي کسان يو بوج او بار وي، چي راسره دی.

که غواړئ، چي ژوند وپېژنئ او ژوند وکړئ، ځيني هېر کړئ!

له زړه دا بار ليري وغورځوئ!

له ذهنه دا بوج ليري کړئ!

يوه شېبه ئې هم په اړه فکر مه کوئ!

هيڅ مخلوق په هيڅ نه ارزي.

له دغسي کسانو مخ واړوئ!

لار ترې چپه کړئ!

ځان او زړه ترې راټول کړئ!

سترګي پرې پټې کړئ!

کم اصل انسان پر کم اصله لار پرېږدئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ترې واخلئ!

چي ښه شئ.

هوسا شئ

او

ژوند ته وزګار شئ.

له کم اصل انسان سره چي هر څومره خواري وکړې؛ نه اصيل کېږي.

که هر څومره وخت پرې تېر شي، خو د کم اصلي فطرت ئې نه ځي، يو وخت نه، يو وخت ترې کېږي.

لاندي لنډۍ همدا وايي، که له ځان سره ښه کوئ؛ نو داسي وکړئ!

«که خېر و، ورو، ورو به ښه کېږم

ما له کم اصله ياره واخيستل لاسونه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کردار

د ځينو انسانانو پېژندنه ډېره سخته ده؛ ځکه دوی د هر ځای او وخت سره ژبه، رنګ او څېره بدلوي.

کاشکي

انسانانو چي څنګه خبري کولای، هغسي ئې کردار وای.

چي څنګه ځان ښيي، هغسي وای او چي څنګه دي، هغسي ئې ځان ښودلای.

ډېر انسانان په ښکاره ځان پاک او سپين ساتي، خو په باطن کي ئې زړه تور او ضمير ئې چټل وي.

وېښته هر ګړی په هينداره کي اړوي، رااړوي. ښکلي او منظم ئې ساتي، خو افکار ئې بيا زاړه او وراسته وي.

ذهن ئې کنګل او جامد وي.

په يوه خوله کي شل ژبي ساتي.

يوه مخ ته سل رنګونه ورکوي.

اروابناد درد صاحب څه ښه وايي:

ما به له خلکو اورېدل چي د مار دوه ژبي وي

اوس خو د هر سړي په خوله کي په وار دوه ژبي وي

دلته ځيني په نامه د انسان، خو فطرت ئې د مار او لړم وي، خامخا ټک درکوي.

کاشکي

انسان له ظاهري ښکلا، نظم او پاکوالي سره باطني ښايست، نظم او سپېڅلتيا هم وپالي، چي ظاهر او باطن ئې يو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تعلیم

هغه هیوادونه او ملتونه چي نن پرمختللی او هوسا ژوند لري، د تعلیم برکت دی.

برعکس هغوی چي تعلیم ته تعلیم نه وایي یا ئې په قدر او اهمیت نه پوهېږي؛ د اوسني عصر او پرمختللو ملتونو له کاروانه شاته پاته دي او پاته به وي.

تعلیم د نني ژوند او عصر مهمه تقاضا ده.

د پرمختګ او هوسا راتلونکي ضامن دی. له سیالانو سره د سیالۍ یوازینۍ لار ده.

د اباد او بهتره ژوند ضمانت کوي.

د نورو له احتیاجه د خلاصون غوره نسخه ده.

وکټور هوګو وایي:

«که د ښوونځي یو ور خلاص کړئ، د زندان یو ور مو وتاړه.»

که خلک واقعي تعلیم وکړي، خپل مسؤلیت او دنده ښه پېژني. چي چا خپله دنده او مسؤلیت وپېژندو، هغه خامخا بریا ته رسېږي.

خو تعلیم باید تر ښوونه رامحدودو نشي، چي فقط یو څه چا ته ښیو.

تعلیم دا نه دی، چي څه، راڅه، کتاب ولوله، لیک ولیکه، تخته ډکوه او پاکوه.

تعلیم باید اسلامي، ملي او ټولنیز احساس خلکو ته ورکړي.

وطني روحیه ئې پیاوړې کړي.

ملي احساس ئې محکم او مضبوط کړي.

د خپلي ژبي، ادب او فرهنګ شعور په خلکو کي ژوندی وساتي.

وګړي با احساسه جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر اذهانو کار وکړي او نوي افکار وروزي.

پر زړو افکارو، زړو خبرو او زاړه منطق ټولنيز پرمختګ نه کېږي.

چي افکار او اذهان مثبت و نه روزل شي، یوازي پر تعلیم تکیه مه کوئ!

په تعلیم یافته کسانو کي چي شعور، احساس او د مسؤلیت پېژندني درک نه وي؛ یوازي تعلیم به ئې کوم درد دوا کړي؟

د هغو د تعلیم به څه ګټه وي، چي د ځان تر ګټې ها خوا د بل فکر نه لري.

نورو انسانانو ته ئې د خیر رسولو نیت نه وي.

ښوونيزي ادارې باید تر مقدار معیار ته اولیت ورکړي او تر ښووني پر روزنه ډېر تمرکز وکړي.

هر کال تش په نامه رواجي تعلیم یافته کسان، له زړو او ورستو افکارو سره په زهرو لړلي ګوړي دي، چي اجتماع ته وړاندي کېږي.

د ټولني درد نه دوا کوي، سرخوږی لا اضافه دی، چي تعلیم هم پرې بدنامه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاریخ

تاریخ د انساني ژوند تجربه ده.

پرون تېر شوی او موږ په نن کي اوسو، خو د تاریخ له برکته د پروني انساني ټولني او انساني ژوند په تجربو کي شریکېږو.

تاریخ چي لولو، پخوانی انسان او ژوند ئې مطالعه کوو، په دې پوهېږو، چي انسان څنګه او څومره پړاوونه تېر کړي دي؟

څومره لوړي ژوري ئې لیدلي؟

څومره سرې او تودې پرې راغلي، چي د ناپوهۍ له تیارې او پروني حالته تر ننني حالته رارسېدلی دی.

تاریخ چي په بې طرفۍ ولیکل شي او بې پرې ولوستل شي، ډېر څه ترې زده کېږي؛ په دې شرط چي انسان له تېرو تجربو عبرت واخلي او تکرار ئې نه کړي.

د یوه پوه په وینا:

«که چا له تاریخه زدکړه و نه کړه، له بل څه یې نشي کولی.»

هغه ملتونه چي نن د ژوند په هر ډګر کي مخکي دي که د هغو ماضي د تاریخ په هینداره کي وګورو، معلومېږي چي هغوی له کومو پړاوونو، کومو لوړو او ژورو راتېر شوي او نننـي پرمختللي حالت ته رسېدلي دي.

ښه او کامیابه ملتونه هغه دي، چي له تاریخه ئې زدکړه وکړه، عبرت ئې واخیست او تېروتني ئې بیا تکرار نه کړې؛ برعکس هغو چي له تاریخه ئې نه کړه زده، هغه تېروتني بیا، بیا تکراروي او داسي د اوسنۍ نړۍ د پرمختګ له کاروانه شاته پاته دي.

عموماً تاریخونه نن هینداره ده، چي پرون پکي وینو.

تاریخ داسي سبقونه او درسونه دي، چي له تېري زمانې راته رغېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تېرو وختونو ژوند او کړه وړه راباندي ويني، چي موږ ډېر څه ترې زده کولای او پند ترې اخيستای شو.

په عموم کي هره تاريخي ليکنه د تېر تاريخ داسي پاڼه ده، چي هم «پرون» راته ښيي او هم د خپل «نن» د ښه کولو او مثبت بدلولو لپاره استفاده ترې کولای شو.

بختور او هوښيار ملتونه هغه دي، چي له تاريخ لوستلو ئې پند اخيستی او «نن» ئې تر «پرون» بهتره کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښایست

وکټور هوګو وايي:

«ښایست هغه مېلمه دی، چي په هر کور کي ئې قدر کېږي.»

دا منو، چي ښایست، ښایست دی او هر ځای قدر لري.

انسان فطرتاً ښایست خوښوي. هغه که د انسان وي که د ځای او که د یوه شي.

خو هیڅکله مه د چا په ښایست پوري زړه تړئ او مه د چا له ښایست سره مینه کوئ!

د ښایست که نن عروج وي، سبا ئې زوال دی.

ښایست تلپاتي نه دی، یو دور لري او د څه مودې مېلمه دی.

د ښایستونو کیسې زړېږي.

د نن ښکلی مخ او ښکلی بدن سبا ته هغه جاه او جلال نه لري.

ښایست او ځواني موقتي وي، پر موقتي شیانو تکیه مه کوئ!

د یو چا له ښایست او ښکلا سره مینه، تلپاتې او حقیقي مینه نه ده؛ فقط تر مطلبه او د هوس خبره ده.

یوازي د ښکلي انسان له صورت سره نه؛ بلکي له سیرت سره ئې مینه وکړئ! صورت بدلېږي، خو سیرت تلپاتي وي.

رښتینې مینه تر ښایست وروسته هم ځوانه وي، زړېږي نه.

فقط له ښایست سره مینه، موقتي مینه وي، ژر توپیر پکي راشي. د ښایست له کمېدلو سره ختمه لا شي.

سپېڅلې او رښتینې مینه ښایست او بدرنګي نه پېژني. روح له روح سره مینه کوي او زړه پر زړه مین وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منفي فکر

تل ښه او مثبت فکر وکړئ!

مثبت اوسئ!

مثبت اوسېدل خپل هدف ته په رسېدلو او پرمختګ کي رول لري.

هیڅکله منفي افکارو ته په ذهن کي ځای مه ورکوئ!

مثبت فکر مو ژوند هم مثبت کولای شي، خو منفي فکر هیڅکله ښه او مثبت ژوند نشي راکولای.

حتا مثبت فکر دي هغومره ژر بریا ته نه رسوي؛ لکه څومره چي دي منفي فکر ژر ناکامه کوي.

ښه فکر د ځان او نورو په اړه ښه احساس راکوي.

هر انسان باید خپل فکر پاک او منظم جوړ کړي. منظم فکر مو ژوند منظموي.

منظم ژوند د بریالیو او ځانګړو کسانو وي.

ګډوډ افکار مو ژوند ویجاړوي، نه د ځان او نه د نورو په اړه ښه احساس لرو.

په منظم، مثبت او ودان فکر هم ځان ودانولای شو، هم جهان.

هم مو ځان ته خیر رسېږي، هم نورو ته.

هم به موږ خوشحاله یو، هم نورو ته خوشحالي ورکولای شو.

مثبت فکر مو راتلونکی روښانه انځوروي، خو منفي فکر راتلونکی تیاره راته ښیي.

مثبت فکر راته وایي:

که یوه لار بنده شوه، لس لاري نوري خلاصېږي، هڅه مه پرېږده؛ خو منفي فکر مو هغې بندي لاري ته ولاړ ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که خپله منفي فکر کوو یا د خلکو هغه اورو، دواړه زموږ د پرمختګ خنډ دی.

مثبت فکر د ځان او جهان په اړه مثبته انګېزه راکوي؛ مګر منفي فکر هر څه برعکس ښيي.

منفي فکر هغه دښمن دی، چي نه موږ بریا ته رسوي او نه نورو ته د بریالیتوب انګېزه ورکولای شو.

ځان او جهان مو دواړه بربادوي.

نو مثبت فکر وکړئ، چي هم ځان اباد کړو، هم جهان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ځان قدر

خپل ځان خپله ومنه!

ځان ته قدر ورکړه!

خپل ارزښت خپله وټاکه!

هیڅکله مه بل د خپل ارزښت په اړه پوښته او مه بل ته دا واک ورکوه، چي ستا ارزښت وټاکي.

ستا ارزښت او قیمت زر دي، ته زرګر يې. تر هر چا زرګر د زرو په قدر ښه پوهېږي.

په ړندو مرغلري مه ګوره.

د خپل ځان او ژوند واک بل ته مه سپاره.

د بل په خوښه او غوښتنه ژوند مه کوه.

پخپل فکر او خوښه داسي ژوند وکړه، چي هم دي ځان او هم دي نورو ته خیر ورسېږي.

دا دنیا ده، څنګه چي د انسانانو رنګونه بېل دي، دغسي ئې نیتونه هم فرق لري.

ټول خلاص او پراخ نیت نه لري.

د ځینو نیتونه دومره کوچني دي، چي تر ځان ها خوا بل څوک نه ویني او تر دې چي د بل کامیابي خپله ناکامي ګڼي، په یو ډول نه، یو ډول دي ماته او ناکامي غواړي.

ځیني به دي واقعاً پر کامیابۍ او پرمختګ خوشحالېږي او ځیني دي بیا پر ناکامۍ خوښي کوي.

ځیني به دي ستایي او تشویق ته به دي لاسونه پړکوي، خو ځینو دي بیا تخریب ته ملا تړلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني به دي بريا لمانځي او ځينو دي بيا پر ماته خوړلو شرطونه تړلي وي.

له ډېرو سره دومره ظرفيت نشته، چي د نورو خوښي خپله خوښي وګڼي او د بل پر بريا او پرمختګ دومره خوښ شي؛ لکه پر خپل پرمختګ.

ژوند داسي جوړ کړه، چي هم ته ترې خوند واخلې، هم نور درنه راضي وي.

هيڅکله د ځان او ژوند اختيار بل ته مه ورکوه.

هر څوک هغسي نه دی څنګه چي ته فکر کوې، څنګه چي ستا هيله ده او څنګه چي ته ترې اميد لرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زدکړه او تعلیم

زدکړه او تعلیم د هر هیواد او ملت د پرمختګ او ښې راتلونکي ضمانت کوي.

هغه هیوادونه چي نن سبا پر وچه، اوبو او فضا حکومتونه کوي، مرفه او ارام ژوند لري، د بل له احتیاجه خلاص دي، پر ځان متکي دي؛ هغو ټولو ځان په تعلیم سمبال کړی دی. د تعلیم له برکته دغي درجې او مقام ته رسېدلي دي.

په کومو ټولنو کي چي تعلیم نه وي یا د څو خاصو کسانو لپاره وي، هغه ټولني پرمختګ نشي کولای.

بل ته محتاجي وي.

ټول عمر د نورو تر لاس لاندي وي.

راتلونکی به ئې د نورو په خوښه او فرمایش ټاکل کېږي.

پرېکړي او فیصلې ئې نور کوي.

د دې واک نه لري، چي څه ورکړي، څه واخلي.

پر سرنوشت ئې نور لوبي کوي.

دوی فقط لوبغاړي دي، چي پردۍ لوبي مخته وړي، خو ګټه ئې نور اخلي او تاوان ئې دوی پرې کوي.

بې تعلیمه ټولنه، بې شعوره ټولنه ده.

په کومو ټولنو کي چي زدکړه او تعلیم نه وي، هلته ملي شعور او ملي احساس په صفر کي ضرب وي.

له چا سره د هیواد او ټولني د راتلونکي فکر نه وي.

ټولنه بلکل ځای پر ځای ولاړه وي.

د پرمختګ او سمون غم څوک نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنه ورځ په ورځ مخ پر زوال روانه وي.

نورو ته د احتیاج او لاسنیوني ګراف مخ پر لوړه خېژي.

مسؤلیت څوک نه پېژني یا ئې څوک نه ادا کوي.

په هیواد او ټولنه کې چې زدکړه عامه نشي؛ عامو او خاصو ته په یو ډول و نه رسېږي؛ یو سالم ښوونیز ـ روزنیز نظام او روڼ سیستم نه وي؛ د ټولني د پرمختګ او روښانه راتلونکي هیله نه کېږي.

تر هغو به ټولنه همداسي ګډه وډه، بې نظمه، بې شعوره او بې سرنوشته پاته وي.

دغسي وګړي که څه هم په ښکاره د ازادۍ او خپلواکۍ زمزمې کوي؛ خو په باطني ډول پوره اشغال شوي دي.

یوازي یو معیاري، سالم، پرمختللی ښوونیز او روزنیز سیستم زموږ د پرمختګ او بقا ضامن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وخت

**چي دي په ما باندي یاران او ماران وپېژندل**

**وخته مننه، دا په ما دي لوی احسان وکړ**

زهیر سپېڅلی

**له وخت سره هر قدم په اخلاص او دقت اخلئ!**

**په صبر او سړه سینه ورسره ځئ!**

**وخت استاد دی.**

**ډېر څه راښیي.**

**ډېر داسي څه عملاً رازده کوي، چي په هیڅ کتاب کي به ئې نه ولولو او نه به ئې زده کړو.**

**وخت هم سخت او هم مهربان دی.**

**خواږه او تراخه دواړه راباندي خوري.**

**له ډېرو سختیو او اسانیو سره به مو مخ کړي.**

**ډېري لوړي او ژوري به راووینې.**

**که مو وژړوي، خندولای مو هم شي. که مو خفه کړي، خوشحالي هم راکوي.**

**بېلابېلو نندارو ته مو مخامخ کړي.**

**هر درد چي راکوي، په هغه کي یوه تجربه ده، چي موږ هوښیاروي.**

**وخت موږ پخوي خام مو نه پرېږدي؛ نو بیا، بیا ترې مننه وکړئ!**

**وخت که هر څومره بد راسره وکړي، خو د دې ښو احسان ئې نشو ادا کولای، چي**

**څو ژبي او څو مخي راوښیي.**

**دوست او دښمن راته ثابت کړي.**

**د ډېرو ظاهر او باطن راته وښیي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیمي لاري خلک را معلوم کړي.

پر مطلب ولاړي اړیکي ښکاره کړي.

وخت دا راته ثابتوي، چي د خلکو د وینا او عمل د وینا تر منځ څومره فاصلې دي.

د وخت له زامنو او لمسیانو سره مو ښه اشنا کوي.

له وخته په دې بیا هم مننه، چي

یاران او ماران راوپېژني

او

په خوله خواږه، په زړه کاږه رامعلوم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وعده

مه پر هر چا او مه پر هره وعده باور کوئ!

مه د هر چا/هري وعدې ته د پوره کېدلو تمه ساتئ!

باور مه باندي کوئ!

هره وعده، وعده نه ده او هره وعده حتماً د پوره کېدلو لپاره نه وي.

د ځينو/ځيني وعدې هغه شېبه وي، چي راسره کېږي، بله شېبه يا ماتي وي يا هېري. حتا ځيني وعدې، خو هغه وخت لا ماتي وي، چي راسره شوي لا نه وي.

د ځينو، ځيني وعدې دوکې او فرېبونه وي.

پر هره خوږه وعده زړه مه تړئ!

د ډېرو خوږو وعدو پايلي ډېري ترخې وي او ډېري دروغجني وعدې د رښتيا په نامه له موږ سره شوي دي.

کومه خوله چي وعده کوي، هغه خوله ئې ماتوي هم.

په کومه ژبه چي د اقرار ډاډ درکوي؛ هغه ژبه انکار هم کولای شي.

د هر اقرار تر شا يو انکار پټ وي. له هري کړي وعدې سره د ماتېدلو او هېرېدلو وېره هم ده.

هر اقرار او هره وعده رښتيا مه گڼئ!

ډېري دوکې د صداقت او ډېر دروغ د رښتيا په جامو کي پټ دي.

استاد پسرلی څه ښه وايي:

زه به ستا د خوږې ژبي په وفا څه باور وکړم؟
ډېر دروغ شته چي مخونه د رښتيا په پلو نغاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فاصله

دا پروا نه لري، چي ځومره سره ليري ياست.

ځومره فاصلې مو تر منځ دي.

ځومره غرونه، لوړي ژوري مو له يو بله ليري ساتي.

حتا که په بېله، بېله جغرافيه کي هم اوسئ؛ خو چي زړونه يو بل ته نژدې وفادار، مخلص او پر يو بل باور وي، هيڅ فاصله، فاصله نه ده، هره شېبه له يو بل سره ياست.

هر ګړی يو بل وينئ.

هره لحظه يو بل ته غوږ ياست.

ځيني وختونه فاصلې د يو بل قدر، مينه او درنښت په زړونو کي زياتوي.

دا هم بېلتون او تر منځ پيدا شوې فاصله ده، چي د يوه لاس پر ځای په دوو لاسونو سلامی ورته کوي.

«بېلتون دي قدر رامعلوم کړ

اوس به سلام په دوه لاسي درته کومه»

غم او بدبختي دا ده، چي له يو بل سره نژدې اوسي، خو کرکي او بې باوری ئې د زړونو تر منځ د ځمکي او اسمان هومره فاصلې جوړي کړي وي.

په نژدېکت کي له يو بله ليري وي.

ځيني وختونه دا زموږ په ګټه ده، چي له نورو فاصله ونيسو.

له ځينو چي ځومره ليري لاړ شو، هغومره ځان ته نژدي کېږو.

له ځينو فاصله نيول زموږ روحي او جسمي سکون دواړه دي.

ځينو ته چي ځان ځومره نژدې کوو، هغومره ځان بې قدره کوو.

له ځينو خلکو سره که اړيکي پالئ هم، له نژدې نه، له ليري ئې وپالئ؛ دا مو په ګټه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني وختونه له ځينو حتماً ځان ليري کړئ، فاصله مراعات کړئ؛ که ځوک مو ضعيف بولي او که قوي او مغرور.

له ځينو به د تللو او پرېښودلو فيصله سخته وي، خو ګټه ئې دا ده، چي ځان ته به ورسېږو او ځان به پيدا کړو.

ځيني پرېکړي ډېري سختي دي، خو ځان ته په خير رسولو بايد داسي پرېکړي وکړو او عملي ئې کړو.

همداسي وکړئ!

«ځيني وخت له ځينو خلکو فاصله نيول د مغرورۍ او ضعيفۍ په معنا نه وي؛ ښايي هغه په دې تازه پوه شوی وي چي هر ځوک داسي نه دی لکه زه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# گــل

دا صحیح او پر ځای خبره ده او منو ئې، چي «په یوه گل نه پسرلی کېږي.» او «له یوه گله امېل نه جوړېږي.»

خو داسي شوي دي او کېږي، چي یو کس مو ژوند ته راشي؛ ټول ژوند مو د تل لپاره سپرلی، سپرلی کړي.

هره شېبه مو په گلونو کي تېرېږي.

هره ورځ غاړي ته د خوښی امېلونه اچوئ.

هره شپه مو د اختر شپه وي.

هره شېبه مو نېکمرغه وي.

هره لحظه مو له خوشحالی ډکه وي.

هر ساعت به وایې: ټول جهان زما دی.

د ټولي دنیا خوښی دلته دي.

هره خوا به مینه، مینه او حسینه، حسینه وینئ.

هر موسم به سپرلی، سپرلی احساسوئ.

هر وخت به گل و گلزار یاست.

په یوه خوشحاله او نېکمرغه فضا کي به اوسئ.

ژوند به مو ټول جنت، جنت وي.

بیا به دا منئ، چي

په یوه گل هم پسرلی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځان ته درناوی

د خپل ځان او خپل زړه پخپله قدر وکړئ!

هیڅا ته خپل درنښت او ارزښت مه کموئ!

هیڅا ته دومره قدر مه ورکوئ، چي تاسو بې قدره شئ او ستاسو حیثیت ته پکي تاوان ورسېږي.

موږ ډېر ځله تېروتلي یو، هغه چا ته یار وایو، چي د لستوڼي مار وي او پر موقع ټک راکړي او و مو چیچي.

پر داسي چا مو د ملیاردونو باور کړی وي، چي په حقیقت کي دوې پیسې هم نه ارزي.

هغه چا ته ځان او جانان وایو، چي نه مینه پېژني او نه د میني لایق وي.

له کم اصل نه د اصل تمه مه کړه

هره ونه تــور لـونگ کولای نشي

په ډېر احتیاط او دقت قدم اخلئ!

هر څوک د دې وړ نه دی، چي زړه ورکړو او نه هر څوک په دې ارزي، چي ورسره و ئې پالو.

ځیني فقط په سترگو کي وساتئ، ځیني په ذهنونو او ځیني په زړونو کي.

مهم څه/څوک حتماً په زړونو کي اوسي او څه/څوک چي مهم نه وي په ذهن کي وي.

دا خبره هم یاد ولرئ! ځیني وختونه په زړونو کي ساتلي فقط په ذهنونو کي پاته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژوند ارزښت

ژوند د الله ج ستر نعمت دی، چې موږ ته ئې راکړی دی.

د دې نعمت باید شکر ادا کړو.

که واقعاً ژوند او په ژوند کې د الله ج کړو پېرزوينو او نورو راکړو نعمتونو ته حساب وکړو؛ هيڅکله به ئې شکر ادا نه کړای شو.

ژوند خپله لوی قيمت او ستر ارزښت دی.

دا چې انسانانو ته ځان بې قدره شي؛ د کمترۍ احساس کوي؛ ژوند هم ورته بې ارزښته معلومېږي.

ډېرې وختونه چې ځيني انسانان په ناممکنو مقاصدو پسې ځي، يا تر ځان لوړو ته ګوري، يا تر وخت له مخه غواړي خپلو اهدافو ته ځان ورسوي؛ يا په لږ وخت کې ډېر څه غواړي؛ دا څه چې ونشي، انسان ناهيلی شي.

انسان چې ناهيلی شو، ژوند ئې هم پر اوږو دروند پېټی شي.

ناهيلی انسان د شيطان په لومو کې بندېږي او شيطان پرې بيا هره ناروا کړنه او ناجايزه عمل کوي.

خبره په ژوند کې نه، په انسانانو کې ده، چې ځان او ژوند ته په کوم ارزښت او څنګه نظر ګوري.

که څوک ځان ته قدر او درناوی لري، ژوند هم ورته قدرمن دی.

يوه شېبه ئې هم نه ضايع کوي.

له هر ګړي او هري موقعې ئې ګټه اخلي.

د هر شي قيمت له اهميته ټاکل کېږي.

که هر څومره قيمته شي ته د اهميت په سترګه و نه ګورو، موږ ته بې ارزښته کېږي او اهميت راته نه لري.

د زرو ټوټه زرګر ته يو قيمت لري او بزګر ته بل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ژوند تقریباً ډېر امکانات لري، دې ته ګورئ، چې څوک ترې څنګه ګټه اخلي؟

ډېر انسانان په کمو امکاناتو ډېر څه کوي او ځيني بيا په ډېرو امکاناتو کې تش لاسونه ګرځي.

ډېرو انسانانو ته بېلابېل چانسونه په لاس ورغلي دي، خو ګټه ئې نه ده ترې کړې.

دوی په دې تمه دي، چې بيا هغسې چانس او موقع پيدا کړي؛ خو په دې نه دي خبر، چې چانس او موقع يو وار د يو چا دروازه ټکوي.

ځان ومنئ!

ژوند ته ارزښت ورکړئ او له شته امکاناتو ګټه واخلئ!

ژوند زر دي او ځانونه زرګران کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ځينو راتګ

«چي يارانه دي نه کوله

زما ويده زړګی دي ولي ويښوونه»

څوک چي مو ژوند ته راځي، د دې هيله مه کوئ، چي ټول عمر به له موږ سره وي.

شايد د ځينو پاتېدل موږ ته ښه هم نه وي.

موږ هم بايد پوه يو، چي هر څوک د پاتېدلو اراده نه لري.

دايمي پاتېدل د هر چا د وس خبره هم نه ده.

د هر چا راتګ ته د دايمي اوسېدلو او پاتېدلو ځای مه برابروئ!

ځيني سودا نه کوي فقط د نرخ پوښتنه کوي.

دا هم ياد لرئ!

ځيني خلک زموږ ژوند ته د دې لپاره نه راځي، چي ټول عمر راسره پاته شي.

فقط د دې لپاره راځي، چي په بيرته تګ مو ودردوي.

د يوې موقتي خوشحالۍ په نامه د همېشه غم راپرېږدي.

د لږ خندا په هيله مو تل وژړوي.

په لږو خوږو کي د ټول عمر تراخه راکړي.

د لږي مودې د شتون خوږې خاطرې ئې په نشتون کي هغه زهر شي، چي شېبه، شېبه مو وژني.

کاش، دا خلک مو يا ژوند ته نه وای راغلي او يا بيرته نه تللای.

څه ښه وايي:

« کاش، هغوی چي د پاتېدلو زړه نه لري د راتللو پښې ئې هم نه لرلای.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

ژوند لنډ سفر دی.

ښه دا ده، چې په ژوند کې له هر چا سره ښه چلن، سلوک، مینه، اخلاص او وفا وکړو.

دا سفر داسې وکړو، چې له هر چا سره پکې مخ شوي یو؛ له هغو سره مو ښه نوم او ښه خاطره پرېښې وي.

تر خپله وسه مو له هر چا سره نېکي کړې وي. چا ته مو د لاس او ژبې ضرر نه وي رسولی.

ژوند لنډ دی.

څنډ مه کوئ!

همدا اوس ئې راپیل کړئ او د یو بل قدر وکړئ!

یو بل درک کړئ!

د یو بل په زړونو کې ځانونه اباد کړئ!

څنډ او خنډ مه کوئ!

په ژوند کې یو بل ته رښتینې مینه ډالۍ کړئ او له یو بل سره مهرباني او پر یو بل پېرزوینه وکړئ!

په ژوند یوه موسکا او یو ګل ډالۍ کول تر هغه زر ځله غوره دي، چې تر مرګ وروسته ئې پر قبر اوښکې څڅوئ، یا ئې پر قبر د ګلونو ګېډۍ ږدئ.

ژوند همدا دی، چې یو بل ته خیر ورسوو.

له یو بل سره ښېګڼه او همدردي وکړو.

له نورو سره هغسې چلن وکړو، چې موږ ئې له نورو هیله کوو.

دا څه معنا؟ چې په ژوند چا ته یوه ګوله ډوډۍ نه ورکوو، چې مړ شي بیا خیراتونه پسې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کوم درد دوا کېږي؟

چي په ژوندوني له يو بل سره په ورين تندي نه مخامخېږو، خو له مرګه وروسته ئې له نامه اورېدلو سره لاسونه مروړو او ارمان ئې کوو.

«په ژوندون ښه راسره وکه

په اخرت کي د هر چا ښېل دي کورونه»

په ژوند کي خپله مينه، مهرباني او پېرزوينه نورو ته ثابته کړئ!

له مرګ وروسته مو نه څوک ژړا اوري.

نه مو مهربانيويني.

نه مو مينه اندازه کولای شي.

نه مو پېرزوينه او لورېينه ليدای شي او نه مو د ګلونو د ګېډېو ډالۍ مني.

دا ډالۍ په ژوند يو بل ته ورکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تېري شېبې

رحمان بابا څه ښه ويلي دي:

تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی
مړ چا نه دی ژوندی کړی په ژړا

تېري شوي شېبې هيچا په ژړا، ارمان او افسوس بيرته نه دي تر لاسه کړي.

«ارمان، ارمان تېره ساعته
بيا به رانشې که ملنګ درپسي شمه»

هغوی چي په تېر پسي ارمان کوي او لاسونه مروړي، دوه تاوانه کوي؛ تېر ئې هم په لاس نه ورځي او رواني شېبې ئې هم له لاسه وزي.

په ماضي پسي په ارمان کولو او لاس مروړلو حال هم له لاسه ځي او په ارمان پسي ارمان تکرارېږي.

په حال کي د پرون او سبا خبري مه کوئ!

ډېر ځله مو له سبا نن جوړ شو او نن مو پرون شو.

موږ ډېر ځله د سبا په نامه او اميد نن ضايع کړی دی، ډېر زرين چانسونه مو په همدې سبانی هيله بايللي دي.

دا سبا هغه سبا وي، چي هر نن مو بربادوي.

پرون مو له لاسه وتلی دی.

نن مو په اختيار کي دی، له همدې ننه کار واخلئ!

همدا نن طلايي موقع ده، چي ګټه ترې واخلو او پرونۍ تېروتني هم جبران کړو.

که د نن کار، نن وکړو دا مو د بريالیتوب راز او د کاميابۍ ثبوت دی. شايد سبا نننــی فرصت او چانس و نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرون او سبا زموږ له اختیاره وتلي دي.

د رحمان بابا دا بیت د نن، پرون او سبا په اړه ډېر ښه وایي:

زندګي که څوک پوهېږي، حضور دم دی
ائینده او رفته کله د چا یاد شي

ژوند، نن دی!
نن ژوند وکړئ!
نن وپالئ
او
نن اباد کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاریخ لوستنه

تاریخ لوستنه مو په تېره شوې زمانه کې شریکوي.

تاریخ که په غور او دقت ولوستل شي، ډېر څه درته زده کوو.

تاریخ لوستنه فقط د دې لپاره نه ده، چې د تېرو زمانو او وګړو له پېښو نېټو، ځای او وخته ځان خبر کړو.

تاریخ د دې لپاره لولو، چې د پخوانیو ملتونو د عروج او زوال لاملونه مطالعه کړو.

د پرمختګ او پر شاتګ عوامل ئې معلوم کړو او د هغو د تجربو په رڼا کې خپل نن غوره او سبا روښانه کړو.

د تاریخ مطالعه موږ ته د نن او سبا د جوړولو لاري راښیي.

تاریخ موږ ته هغه اسرار او رمزونه ښیي، چې موږ پرې د خپلې ناروغې ټولنې ښه علاج کولای شو.

تاریخ هغه هینداره ده، چې نن پکې پرون ته ګورو او د خپل سبا لپاره ښه فکر ترې اخیستای شو.

تاریخ زموږ ښه لارښوونه کوي، خو دا په موږ اړه لري، چې څه ترې زده کوو؟

څه وکړو؟

څنګه د دې غوره لارښوونکي په برکت خپل نن وژغورو؟

څنګه خپل سبا تر نن غوره کړو؟

راځئ!

تاریخ ولولو!

او له تاریخه ئې زده کړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لږو قدر

تقریباً ټول انسانان لږ څه نه غواړي یا په لږو قناعت نه کوي.

په ډېرو پسي ګرځي، خو دې ته نه ګوري، چې ډېر هم له لږو، لږو جوړ شوي دي.

باران څاڅکی، څاڅکی ووري، خو څو شېبې وروسته ټوله ځمکه لنده کړي.

هغوی چې د لږو قدر و نه کړي، د ډېرو قدر هم نشي کولای.

په لږ چې قناعت و نشي په ډېر څه هم قناعت نه کېږي.

که د کوچنیو شیانو په ارزښت او د لږو په قدر پوه شو، هم به لوی شیان حاصل کړو او هم به ډېرو ته ورسېږو.

همداسي په لږ، لږ پرمختګ باید راضي واوسو او ورو، ورو خپل هدف ته ځان ورسوو.

په یو ځل او بېړه ځان هدف ته رسول مو له هدفه لیري کولای هم شي.

هدف حاصلول وخت، زغم او حوصله غواړي.

هغه چې لږ نه ویني، په ډېرو پسي منډې وهي، ممکن ډېر هم تر لاسه نه کړي او لږ هم وبایلي.

هغوی چې تر کوچنیو څیزونو نظر اړوي او په لویو شیانو پسي سترګي غړوي او غټ، غټ قدمونه پسي اخلي؛ کېدای شي لویو ته هم و نه رسېږي او واړه ئې هم له لاسه ووزي.

که نن په لږه ګټه راضي نشو، سبا په ډېره ګټه هم نه قانع کېږو.

څه ښه وایي:

«هغه څوک چې د کوچني شي په قدر وپوهېږي؛ ستر شیان به لاسته راوړي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي لوړ ځای ته خېژو مجبوره یو، چي پیل له لومړۍ زینې وکړو او زینه پر زینه پورته شو.

هیڅوک داسي نه دي شوي، چي په لومړي ځل په پنځمه زینه کي پښه کښېږدي او پورته شي.

که څوک بیا داسي کوي، ملا ئې هم ماتېږي، چي بیا نه پورته ختلي دي او نه ئې لاندي ګزاره شوې ده.

له څاڅکو، څاڅکو ویالې او سیندونه جوړېږي.

د یوه، یوه ستوري په ښکاره کېدلو اسمان ښکلی او روښانه شي.

د لږو قدر وکړئ، چي ډېر تر لاسه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دنیا

د ویلیام شکسپېر وینا ده:

«نړۍ یو دریځ/ستېج دی. نارینه او ښځینه ئې لوبغاړي دي.»

رښتیا هم دا نړۍ یو ستېج او ژوند ټاکلی وخت دی.

انسانان لوبغاړي دي، که نارینه دي که ښځینه.

هر یو پر خپل وار راځي او پر دې ستېج تر خپل ټاکلي وخته، خپل رول لوبوي او بیا ځي.

د دې ستېج او لوبغاړو له نورو سره توپیر دا دی، چي دلته هر څه د دې لوبغاړو اختیار دی.

دا دریځ جوړول د دې لوبغاړي (انسان) خوښه ده، چي ځان ته ئې څنګه جوړوي؟

رنګین که ساده؟

ارزان که ګران؟

لوبغاړی دی خپله دی، چي کوم رول ځان ته ټاکي او تر کومه وخته ئې لوبوي؟

کیسه او ننداره د ده، ده، چي څنګه ئې لیکلې ده او څنګه ئې وړاندي کوي؟

تراژیدي ده که کومیډي او که دواړه؟

سندره هم د ده، ده. په کوم اواز او ساز کي ئې وايي؟ غمګینه ده او که د خوښۍ؟

رول هم دی لوبوي او تماشې ته به هم دی ناست وي. لوبغاړی او نندارچي دواړه دی وي.

مثبت رول لوبوي او که منفي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستی، دا هم په دې لوبغاړي پوري اړه لري، چې د کیسې پیل، اوج او پای ئې څنګه دی؟

څنګه ئې ختموي او خپل رول څنګه پای ته رسوي؟

څه وخت او په کوم انداز له دې سټېجه راکوزېږي او ځي؟

دې دریځ ته به ډېر لوبغاړي راشي او لاړ به شي، خو ښه لوبغاړی ئې هغه دی، چې تر تګ (مرګ) وروسته ئې د ښه نامه او غوره رول یاد پاته شي او داسي رول ئې لوبولی وي، چې تر ده وروسته نور راتلونکي لوبغاړي هم پر دې سټېج د ده د رول ادا کولو هڅه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نـظرونه

د انسانانو نظرونه هره شېبه دې ته چمتو دي او په دې پسي ګرځي، چي ستا یوه وړه تېروتنه ووېني او بیا دې تېروتني ته عرض، طول او ارتفاع ورکړي.

که نژدې لس نېکۍ وکړې خلک ئې نه ویني، خو که دي لیري یوه بدي وکړه، هم ئې ژر ویني او هم ورته ځیر وي.

په وړه او توره کوټه کي شاید سپینه نقطه څوک ژر و نه ویني؛ مګر په لویه او سپینه کوټه کي تور ټکي ته د هر چا پام اوړي.

غلطي او تېروتنه د انسان خاصه ده، خو دا بیا د نورو عجیبه قضاوت دی چي ښېګڼي ته ئې ژر پام نه وي، خو تېروتنه دي بیا، بیا یادوي.

که دي سل ښې، خوږې او پستې خبري وکړې، تر نورو یا نه رسېږي یا په ډېر ځنډ رسېږي، خو که دي یوه تېره او کږه خبره وکړه؛ ډېر ژر او په سرعت تر نورو په څو ښو رسېدلې وي.

ته ښېګڼه د دې لپاره مه کوه، چي خلک دي ووېني او و دي ستایي.

په دې مه زړه ماتی کېږه، چي خلکو دي ولي یوې تېروتني ته ګوته نیولې ده.

دا دنیا ده.

د ښارونو خولې تړل کېږي، د خلکو خولې چا نه دي تړلي.

ځیني انسانان همدې ته پیدا شوي دي، چي د نورو پـه وړو غلطیو تېروتنو او نیمګړتیاوو پسي ګرځي.

دا ئې وظیفه ده، چي خپل درنه او د بل سپکه بیان کړي. پر خپلو نېکیو او د نورو پر بدیو تفسیرونه کوي.

ته ځان او بل ته خیر رسوه، مخته ځه او لکه رواني اوبه بهېږه؛ دې ته مه ګوره چي څوک څه وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا او خبري ئې سره پرېږده.

موریس میترلینګ وايي:

« بدې او ناوړه خبرې، چې زیان او ضرر لري، ډېرې ژر خپرېږي. ښې او حسابي خبرې چې فایده پکې وي، ژر نه خپرېږي. هو! بدې او ناکاره خبرې لکه تلونکې او خپرېدونکې ناروغي له یوه نه بل ته او له بل نه بل ته ځي. ښې خبرې لکه صحت او روغتیا له یوه نه بل ته نه درومي.»

(د الفت نثري کلیات/د محمد اسماعیل یون په زیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تېروتنه

غلطي او تېروتنه انساني ځانګړنه ده.

له هر انسانه شوې ده او کېږي؛ هغه که سهواً وي یا قصداً.

ځیني له تېروتني دومره ډارېږي، حتا ږغېږي نه، چې هسي نه په خبرو کې تېر نوزم.

هیڅکله له تېروتني مه ډارېږئ!

که له تېروتني ډار لرئ، پوه شئ، هیڅکله به هیڅ هم و نه کړئ!

په ډاډ او جرات مخکي ځئ!

له شوي تېروتني او کړي غلطۍ درس واخلئ!

بیا ئې مه تکراروئ!

مه ډارېږئ!

له تېروتني دومره ډار او وېره خپله تېروتنه ده.

یوه غلطي کول دا درښیي او پر دې مو د بل ځل لپاره پوهوي، چې بیا ئې تکرار نه کړئ!

انګرېزي متل دی:

«یو ځل تېروتنه، تېروتنه نه ده.»

هره غلطي یوه تجربه ده.

دا چي یوه شوې تېروتنه بیا تکرار نه کړو؛ دا خپله لوی درس دی، چې زده مو کړ.

ډار مه کوئ!

که یو ځل غلط هم شو، د بیا لپاره به هوښیار شوي یو.

هغو چي تېروتنه او غلطي نه ده کړې، هیڅ ئې هم نه دي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امید

که امید نه وي، ژوند نشته؛ ځکه ژوند په امید کېږي.

هیله او امید د انسان هغه وسیله ده، چې تقریباً هر څه په دې وسیله تر لاسه کولای شي.

که انسان ناروغ وي همدا امید دی، چې تر روغتیا ئې رسوي. که سفر کوي، امید ئې منزل لنډوي. که وږی تږی وي، امید دی، چې اوبوي او مړووي ئې.

په امید ناممکن، ممکن کولای شي. لنډه دا چې امید هر څه دي.

ژوند خامخا لوړې، ژورې، سړې او تودې لري. انسان باید هیڅکله ناهیلی نشي. دنیا په امید خوړل کېږي.

که خدای مه کړه، انسان ناهیلی شي او امید وبایلي، هر څه ئې وبایلل.

ځان ئې شیطان ته په لاس ورکړ؛ ځکه ناامیدي د شیطان وسیله ده. شیطان په دې وسیله په انسان هر څه کولای شي.

حکایت دی:

ژباړه/ارش ننګیال

«یوه ورځ شیطان پرېکړه وکړه چې نور خپله دنده پرېږدي، خپل ټول وسایل یې بازار ته د پلورلو لپاره یووړل.

په وسایلو کې ځان غوښتنه، کرکه، وېره، قهر، حرص، حسد، شهوت، نفرت او داسې نورې وسیلې شاملې وې. په دغو وسایلو کې یوه یې ډېره زړه ښکارېده او په بیه هم تر نورو ډېره ګرانه وه.

یوه کس ترې پوښتنه وکړه:

ـ دا ګرانه وسیله څه شی ده؟

شیطان ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ دا نااميدي يا ناهيلي ده.

اخيستونكي پوښتنه وكړه:

ــ نو ولې تر نورو دا ډېره گرانه او زړه ده؟

شيطان يې په ځواب كې وويل:

ــ دا ځكه چې دا وسيله تر نورو ما ته ډېره گټوره وه، كله چې نورو وسايلو گټه نه كوله نو بيا مې له دې وسيلې گټه اخيسته. كله چې به مې يو څوک ناهيلی كړ بيا نو هر كار مې چې غوښته وربانديې تر سره كاوه مې.

دا وسيله مې په هر انسان امتحان كړې ده، ځكه خو داسې زړه شوې ده.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باور کول

باور حس کېږي نه، خو د ماتېدلو د درد اواز ئې تر ليري رسېږي.

دې درد ډېر زړونه دردولي دي.

په باور کولو کي ډېر ورو، ورو قدم اخلئ او مخته ځئ!

پر هر چا، ژر او پوره باور مه کوئ!

هر څوک د باور او اعتماد وړ نه دي.

هغوی چي پر هر چا او ژر باور کړی وي، دې ته مجبوره شوي دي، چي بيا پر هيچا باور و نه کړي.

چېرته چي باورونه مات شوي، هلته زړونه مات شوي دي.

محبتونه نيمه خوا پاته دي.

ارمانونه نيمګړي پراته دي.

هيلي مړې دي.

اړيکي پرې شوي دي.

ځيني مو له ژر او پوره باوره ناوړه ګټه هم اخلي.

باور ماتېدل، زړه ماتېدل دي.

که چا مو باور مات کړ، شايد هغه مو دومره و نه دردوي، خو په دې بيا، بيا او ډېر دردېږئ، چي ولي مو دومره باور پرې وکړ؟

دا خپل کړی باور به دي هره شېبه وژني.

هر څوک دا احساس نه لري، چي د يو چا کړی باور ولي ماتوم؟

ځينو ته دا مهمه نه ده، چي پر ځان د يو چا باور دايمي وساتي.

ځيني مو پر باور لوبي هم کوي او حتا ځيني به مو پر خپل کړي باور دومره ودردوي، چي بيا به د دې درد په علاج ستړي شئ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځيني څه

ځيني څه/څوک، ګټل/تر لاسه کول د ورځې د ستورو شمېرل دي.

غم ئې دا دی، چې نه هېرېږي، نه زړه صبر کوي او نه لاس ته درځي.

د شکسپېر وينا ده:

«څه چې لاس ته نه درځي، هېر ئې کړه؛ که هېرولای ئې نشې تر لاسه ئې کړه.»

زوروونکې دا ده، چې څومره ئې هېروې، هغومره دي يادېږي او چې څومره ئې له نه خپلېدلو ځان ته ډاډ او تسلي ورکوې، هغومره دي ئې د خپلولو ارمان او احساس وزوروي.

له دې اذيت سره به څه کوې، چې نه ئې خپلولای شې او نه ئې هېرولای شې.

د دې زخم به څه علاج کوې، چې نه ئې د هېرولو وس لرې او نه د خپلولو.

دا درد او تجربه ممتاز اورکزی په ښکلي بېوسه انداز وايي:

خدايه! چې نه خپلېږي، نه ئې غواړم
خدايه! چې نه هېرېږي، څه وکړمه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېښه

ژوند له پرونه، ننه او سبا جوړ دی.

پرون تېر شو.

نور په هغه کي اوسېدل هيڅ ګټه نه لري او نه ئې بدلول زموږ د وس خبره ده.

حال/روان ژوند بايد په ډاډ او اطمينان وکړو.

له تېرو شوو پېښو به خبري نه کوو، څه نه ترې جوړېږي.

نه به پر هغو ناپېښو شوو پېښو فکر او غور کوو، چي تر اوسه لا پېښي شوي نه دي.

موږ ډېر ځله د هغي پېښي لپاره فکر او سوچ کوو او حللاره ئې لټوو، چي تر اوسه لا پېښه شوې نه ده او شايد پېښه هم نشي.

ډېر کله د هغه زخم او درد په علاج پسي اوس ګرځو، چي هغه زخم او درد مو ليدلی هم نه دی؛ نو کوم او څنګه علاج به ئې کوو؟ پر هغه غم ژاړو، چي کېدای شي موږ ته را و هم نه رسېږي.

دا ټولي راتلونکي خبري دي.

هيڅا له پېښي تېښته نه ده کړې.

کله چي پېښه شوه، پر هغه ساعت به ئې غم خورو.

پر ناپېښو شوو، پېښو اوس فکر، اندېښنه کول او زړه خوړل مو اوسنی ډاډ هم رانه اخلي.

ډېری ځله موږ له ننه پرون يا سبا ته تېښته کوو، په دې تېښته خلاصېږو هم نه؛ بلکي دا معنا چي يو ډول له ننه منکرېږو او له ننه منکر نه په پرون کي څه تر لاسه کولای شي او نه په سبا کي.

نن د پرون او سبا تر منځ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ باید د نن فکر وکړو او د نن غم وخورو.

راتلونکی به له راتلونکي سره ګورو.

نن به، د نن لپاره ژوند کوو.

د سبا خبري به له سبا سره ګورو.

په لوی لاس نن تر پرون او سبا مه قرباني کوئ!

انګریزي متل دی، چي:

«څه شی چي مات نه وي، د جوړولو هڅه ئې مه کوه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کار کول

ژوند کار دی او کار ژوند.

څوک چي کار نه کوي، ژوندی دی، خو ژوند نه کوي.

کار کول مو ثابتوي، چي موږ فقط ژوندي نه یو؛ بلکي ژوند کوو او ژوند پالو.

کار مو له ډېرو بدمرغیو ژغوري.

نه مو پرېږدي، چي بل ته لاس ونیسو، جرم وکړو او یا نورو ته اړ شو.

له غم، خپگان، غوسې او بېځایه فکرونو مو ساتي.

ژوند په روزگار او فعالیت ودان دی.

هغوی چي کار نه کوي په هدیرو کي پراته دي.

هوښیاران وایي:

«کار هغو ته وسپارئ، چي ډېر کار کوي.» مطلب دا چي هغوی ورسپارل شوی کار نه پرېږدي، سر ته ئې رسوي.

هغه څوک چي کار نه کوي، یا ئې ټالوي او پلمې ورته کوي؛ هغوی ورسپارل شوی کار یا نه کوي یا ئې نیمگړی پرېږدي او یا ئې تر کولو خو، خو او (وبه شي) زیات وي.

فرانسوا ولټر ویلي دي:

«کار نه کول، له ژوند نه کولو سره برابر دي.»

ده ډېر مصروف او بوخت ژوند درلود.

د ژوند د نورو چارو تر څنگ ئې ۹۹ کتابونه ولیکل.

د ۸۴ کلونو په عمر مړ شو، خلکو ویل: ولټر دومره مصروفه و، چي مړینې ته ئې هم وخت نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بربادي

له ځينو سره چي مينه كوو، خپل زړونه خپله ماتوو.

پر ځينو چي باور كوو خپلي پښې پخپلو تبرونو وهو.

ځينو ته چي زړونه نژدې كوو، خپل زړونه خپله زخم، زخم كړو.

ځيني چي ژوند ګڼو، په دې معنا، چي ځانونه خپله شېبه، شېبه وژنو.

چا ته چي مو ځان او جانان وويل، پوه شئ؛ چي له هم هغي ورځي او هم هغي شېبې مو خپله بربادي پيل كړه.

هر څه هغسي نه دي/نه كېږي؛ څنګه چي ئې موږ غواړو او يا ئې موږ كوو.

ځيني ميني، ويني شي.

ځيني محبتونه دوږخونه شي، چي موږ پكي سوځو؛ شايد يو څوک راته تم شي، خو فقط د يوې تماشې لپاره او بيرته پخپله مخه ځي.

ځيني رابطې فقط او فقط يو مطلب وي؛ خو دا بېله خبره ده، چي دا مطلب ژر پوره شي او كه په ځنډ.

ځيني ملګرتياوي او دوستۍ موقتي وي؛ اوږدې او دايمي تمي مه ساتئ او

ځيني اړيكي «پر اور مزل» دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دا ومنئ!

**دا راسره ومنئ!**

**هر چا ته ژر زړه مه ورکوئ!**

**ژر باور پرې مه کوئ!**

**له هر چا د مينې تمه مه ساتئ!**

**دلته ډېرو فقط د مينې نوم اورېدلی دی، مينه پېژني هم نه.**

**دلته ډېر دي، چې رښتينې مينه نه کوي، فقط د مينې يو کاذب تمثيل کوي.**

**د چينې پر غاړه ډېر خلک تېرېږي، خو يو، يو پکي تږی وي، چې اوبه ترې وڅښي.**

**ډېر به ئې د بيې او قيمت پوښتنه کوي، خو خريدار يو وي، چې سودا وکړي.**

**دا هم مه هېروئ!**

**ډېر به د مينې او وفا لاپې، شاپې وهي، خو يو، يو پکي اصيل او رښتينی وي، چې رښتينې مينه او وفا وکړي.**

**ډېر دي، چې د يو چا د زړه د ماتولو او د ژوند د بربادولو مطلب ئې را اخيستی وي.**

**ډېر دي، چې تا ته به ځان يار، يار ښيي، خو عادت او فطرت ئې د مار وي.**

**ډېر دي، چې په خوله يو څه وايي، په زړه کي ئې بل څه ساتلي وي.**

**ډېر دي، چې مخامخ يو رنګ وي، د پردې تر شا بل رنګ لري.**

**دلته ډېر دي، چې د يوه مخ او يوې ژبې دعوې کوي، خو تر شا ئې سل ژبې او سل نور مخونه ساتلي وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چوپتيا

«په سوي رنګ چې مې پوه نشوې
په خوله به نه وايم، د سوي زړه حالونه»

حتا وايي:

«که څوک مو په چوپتيا پوه نشو، په خبرو مو هم نه پوهېږي.»

که څوک وږغېږي او په ژبه خپل درد بيان کړي، په دې ټول پوهېږو.

هنر دا دی، چې د يو چا سکوت درک کړو.

د يو چا له خاموشۍ او چوپتيا پوه شو. د يو چا له څېرې د هغه زړه حس کړو.

ځينې وختونه خاموشي او چوپتيا دومره شور کوي، چې په خبرو کې هم نه وي او سکوت چيغې وهي.

هر وخت په خوله او ژبه خبري مه غواړئ!

ځينې وختونه چوپتيا واورئ!

ښو ته غوږ شئ!

سترګي ولولئ!

څېرې ته ځير شئ!

ډېر وخت خوله پټه وي، د جبر او مجبورۍ مهر پرې لګېدلی وي.

ژبه هيڅ نه وايي، خو چوپتيا خبري کوي.

خاموشي ډېر څه وايي.

بانه رغېږي او

په سترګو کې کتابونه، کتابونه خبري وي.

د سترګو لوستلو او چوپتيا اورېدلو هنر زده کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سترګي بدلول

دا راسره ومنئ او ګیله مه ترې کوئ!

د ځينو، ځينو هېرول، مخ اړول او سترګي بدلول ډېر زوړ او پوخ عادت دی.

هسي نه وايي:

«تا چي خپل سترګي کړې بدلي اشنا
خود به اوس ما په کاڼو ولي اشنا»

فطرت او طبیعت ئې همدغسي جوړ وي.

ځيني همداسي دي، چي نور وپېژني، موړ هېر کړي.

چي بل ووينې، له موړه مخ واړوي.

چي نوري سترګي پيدا کړي، بيا ئې زموږ سترګي په ياد هم نه وي.

«چي نوي سترګي دي پيدا کړې
په زړو سترګو دي اوس پوري کړل اورونه»

دا هغه څوک دي، چي د ډېرو په لټون ئې مرغلري له لاسه وتلي دي.

د کم اصلو د څو ورځنۍ ياری په دوکه ئې يو اصيل او رښتينی محبت بايللی دی.

د بازاری او مصنوعي ميني لپاره رښتينې مينه پرېږدي.

په يوه زړه کي يوه مينه، يو جانان او په دوو سترګو کي دوې سترګي ساتل د ډېرو تر وس وتلې خبره ده.

په يوه مخ او په يوه زړه اوسېدل د هر چا د وس خبره نه ده. تر پايه پر خپلو ژمنو درېدل د هر چا کار نه دی.

په دې مه خفه کېږئ او مه فکر خرابوئ، چي ولي داسي کېږي.

دا هغه څوک دي، چي زړونه پلوري.

پر محبت ګټې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه کاروبار گڼي.

دا هغه خلک دي، چي زړونه نه ویني جېبونو ته گوري.

د میني عظمت نه پېژني، دولت غواړي.

دا  داسي خلک دي، چي

که نن د نورو په لیدلو  موړ پرېږدي او هر څه بدل کړي؛ سبا د نورو لپاره دوی هم پرېږدي.

څه ښه ئې ویلي دي:

«د هر چا یار د هیچا یار نه دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو کس

تاسو وګورئ!

دنيا څومره پراخه او لويه ده.

له ميلياردونو انسانانو ډکه ده؛ مګر په دې ميلياردونو انسانانو کې مو يو کس د زړه تل ته بې اجازې کوز شي او د زړه پر تخت مو پاچاهي کوي.

دا هغه نازولی، منلی او ځانګړی کس شي، چې موږ ئې په ځان او جانان تسليم کړو.

زړه زموږ، خو واک ئې له ده/دې سره وي.

همدغه يو کس زموږ ټوله دنيا شي.

دغه يو کس د ټولې دنيا ځای نيسي؛ مګر ټوله دنيا او ميلياردونه انسانان د ده/دې ځای نشي نيولای!!!

زړه په همدې يوه کس پورې تړلی وي.

ځان او جهان په همدې دوو سترګو کې وينو.

هر څه/هر څوک مو وي.

د زړه درزا او د تن ساه ئې ګڼو.

د سترګو رڼا مو وي.

لومړۍ او وروستۍ اسره مو وي.

دنيا مو له ده/دې سره ودانه او بې ده/دې ورانه وي.

هر نظر مو تر ده/دې چاپېره وي.

هر ګړی ئې د يادونو طوافونه کوو.

هره شېبه مو ئې نامه پر زړه را ووري او پر شونډو ئې زمزمه کوو.

د کايناتو په ډېرو نظارو کې راته ښکاري.

د طبيعت په ډېرو منظرونو کې ئې ننښې وينو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو حيف، يو وخت پوهېږو (مګر ډېر ناوخته) چي دا هر څه يوه دوكه وه چي ځان ته مو وركړې وه.

په يوه سراب غولېدلي وو.

د سكون په لټه مو سكون بايللى و.

د طبيب په نامه پر قصاب پېښ شوي وو.

شات مو زهر كړي وو.

دا دوكه هغه وخت ښه ثابته شي، چي په زړه كي همدغه اباد كړى كس مو له ژونده لاړ شي او يوازي مو پرېږدي.

حتا دا به هم واورئ/ووينئ، همدغه كس، چي تاسو پسي برباد ياست؛ له همدې بربادۍ مو خوند اخلي.

په كوم اور كي چي تاسو سوځئ، هغه اور ته پوكي وركوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوښکي

اوښکي يوازي رڼې اوبه نه دي، چي له سترګو راوبهېږي او په ګرېوان کي ورکي شي.

اوښکي عواطف دي.

احساسات دي.

د محبت او نفرت اظهار دی.

اقرار او انکار پکي نغښتی دی.

د هو او نه جواب وي.

ځيني وختونه فقط دوې اوښکي هم ډېري خبري کوي او ډېر څه بيانوي.

حتا پر سپين کاغذ دوې ځځېدلي اوښکي تر هغه ډېر څه وايي، چي د کاغذ دواړه مخونه پرې ډک شي.

ځيني اوښکي په زړونو کي له ځوانيمرګو ارمانونو ړغېږي.

ځيني وختونه اوښکي هغه خبري وي، چي په خوله نه کېږي.

ځيني اوښکي د زړونوويني دي.

د زړونو اه او فرياد وي.

ځيني اوښکي مجبوري بيانوي او د خپلي بېوسۍ زړه چاودي کيسې کوي.

ځيني وخت اوښکي هغه رازونه وي، چي په زړونو کي ناويلي پاته وي او تر شونډو نه وي رسېدلي.

ځيني اوښکي فقط پر خپلو کړو پښېماني ده او د خپلو کړو د بښني لپاره وي.

ځيني اوښکي د هغو ارمانونو داستانونه دي، چي نيمګړي او په زړونو کي لکه اغزي پاته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیني اوښکي د نیمګړي میني او نیمه خوا محبت کیسې کوي.

دا هم یاد ساتئ!

ځیني وخت، ځیني اوښکي فقط د نورو د تېر ایستلو لپاره وي.

ځیني اوښکي مصنوعي اوښکي دي.

یوه کاذبه خواخوږي وي.

د دروغجني غمشریکۍ په نامه له سترګو څڅېږي.

ځیني وخت اوښکي فقط دروغجن احساسات وي.

مقابل اړخ ته یوه دوکه

او

فرېب وي، چي ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تجربه

له ژوند سره که په دقت، دقت روان شو، ډېر څه راښيي او ډېر څه به پکي تجربه کړو.

له ځينو تجربو به حتا خوند واخلو، چي د يوه خوندور درس غوندي ډېر څه رازده کړي.

ځيني تجربې بيا پکي يو درد شي، چي ياد دي ئې هره شېبه دردوي او کړوي.

له ډېرو تجربو سره، سره شايد؛

په ژوند کي دا هم تجربه کړې، چي

هغه څوک به دي زړه مات کړي، چي ته ئې په زړه کي ساتې او زړه دي بللى وي.

هغه څوک به دي هېر کړي، چي ته ئې تل يادوې، ځان دي هېر وي، خو هغه دي نه هېرېږي.

هغه مينه به درته زهر، زهر شي، چي يو وخت دي په رګونو کي لکه وينه بهېده او ته پرې نازېدې.

هغه کس به دي پښتون غرور مات کړي او و به دي ژړوي، چي تا خپله تسلي بلله او ډاډ دي و.

هغه سترګي به درنه واوړي او بدلي به شي، چي تا ځان او جهان پکي اباد کړى وي.

هغه څوک به دي باور دړي ـ وړي کړي، چي تر ځان دي پر ده/دې ډېر باور و.

هغه څوک به دي ژوند ته شا کړي، چي تا ئې ټول عمر تر انتظار قربان کړى وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لوظونه به درسره مات شي، چي له تا سره ئې د پوره کولو لپاره سل او زر قسمونه شوي دي.

هغه وعدې به هېري شي، چي تا ټول عمر ځان او زړه پرې تېر ایستلی وي.

هغه قسمونه به یو وخت ټول درته ټوکي ښکاره شي، چي یو چا د خپلي وفا د ثابتولو لپاره درته بیا، بیا کول.

هغه څوک به دي زخمونه ناسور کړي، چي تا دارو، درمان باله او د خپل هر خوږ طبیب دي ګڼلی و

او

هغه څوک به بدل شوی احساس کړې، چي تا ځان ورته وایه او جانان دي بللی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناداني

**زه نادان یمه، چې تللی جانان غواړم**

**زه نادان یم، وهم غره سره ډغري**

زهیر سپېڅلی

**کله، کله سره له عقله او پوهي داسي څه کوو یا غواړو، چي ممکن نه وي.**

**د ورځي د اسمان ستورو ته ناست یو او شمارو ئې.**

**تللو اوبو ته وایو، چي ګوندي پر شا راشي.**

**تېري شوي شپېې بیرته راګرځوو.**

**تللي وختونه پر شا راستنوو.**

**مړې ایرې پوکو.**

**په کړي تاوان کي ګټه غواړو.**

**د بایللي دنیا د ګټلو تمه کوو.**

**په غلبېله کي اوبه راوړو.**

**دا هر څه ناداني او د لېونتوب اوج دی.**

**څومره ناداني ده!!**

**چي ښه پوهېږو، له موږه ځیني تللي به هیڅکله رانشي، خو موږ بیا هم په هغه لار کي انتظار ناست یو، پر سر خاوري بادوو او ځان ته د هغو د بیا راتللو دروغجنه تمه ورکوو.**

**ښه پوهېږو، چي هیڅکله به زموږ نشي، خو بیا ئې هم غواړو او ځان تېر باسو.**

**ښه پوهېږو، چي هغوی دا لاري او کوځې له خیاله ایستلي دي، خو موږ بیا هم هغه لاري او کوځې په انتظار ابادي ساتو.**

**څومره ناداني ده!!**

**د هغه چا د بیا لیدلو هیله کوو، چي بې خدای په امانۍ تللي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ځان ته شېبه، شېبه همدغه زخم ورکوو، چي زموږ نه دي، خو موږ ئې غواړو.

ګړی پر ګړی پر هغو پرهرونو مالګي دوړوو، چي دوی هېر کړي یو او موږ ئې یادوو.

څومره ناداني ده!!

په هغه زړه کي بیا هم ځان ته ځای غواړو، چي موږ ئې ترې بهر کړي یو.

څومره ناداني ده!!

په هغو سترګو کي بیا خپلي سترګي لټوو، چي له موږ اوښتي او بدلي شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تېروتلي

له موږ ډېر ځله خپلي توبې بيا، بيا همداسي ماتي شوي دي.

موږ ډېر ځله داسي تېروتلي يو.

د هغه گل پالنه کوو، چي اغزي ئې زموږ په زړونو کي ټوکېږي او ماتېږي خو خوشبويي او رنگونه ئې د نورو وي.

ډېر ځله مو له ليري پر هر ځلېدونکي شي د طلا گومان کړی وي، خو هر ځلېدونکی شی سره زر نه دی.

ډېر ځله پر هغو وعدو او لوظونو باور کوو، چي هيڅکله پوره کېږي نه ځيني خو هغه وخت لا ماتي وي، چي راسره کېږي.

ډېر ځله پر هغو لارو بيا ځو او راځو، چي زړونه مو داسي پکي مات شوي وي، چي د بيا راټولېدلو نه وي.

ډېر ځله د هغو نامردو انتظار کوو، چي په وعدو پسي وعدې ئې عادت وي خو هيڅکله نه راځي.

ډېر ځله يوې تکراري حتا دروغجني او بې ننگي وعدې هم بيا، بيا تېر ايستلي يو.

ډېر ځله مو پر هغه چا دويم/درېيم ځل باور کړی وي، چي د يو ځل باور وړ هم نه و.

ډېر ځله هغه چا ته بيا، بيا درمان وايو، چي د ټکور پر ځای ئې پر يوه زخم بل زخم راکړی وي.

ډېر ځله يوې مطلبي اړيکي ته هم د رښتيني رابطې په نظر گورو، خو هغه تشه دوکه وي.

ډېر ځله مو داسي چا ته د ملگرتيا لاس ورکړی وي، چي هغه اصلاً نه ملگرتيا پېژني او نه ملگری وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ځله له هغو سره میني ته زړه ښه کوو او مینه مو ورسره وکړه، چي اصلاً د میني وړ نه وو او نه دي.

دا هر څه ځکه له مور سره شوي دي او کېږي، چي مور خلک نه دي پېژندلي؛ خو خلکو زمور اخلاص، رښتینولي او صداقت لیدلی دی.

خلک پوهېږي، چي څنګه زمور له رښتینولۍ ګټه واخلي او پخپلو خوږو، خوږو وعدو مو دوکه کړي.

په سل رنګه مخونو مو تېر باسي او په سلو ژبو او او سل رنګه خبرو مو وغولوي.

زمور له سادګۍ نه ډېرو خپلي کیسې رنګیني کړې او ډېرو زمور د اخلاص په زور خپلي لوبي وګټلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فرصتونه

فرصتونو ته مه کښېنئ، چي راشي؛ پسي لاړ شئ او پیدا ئې کړئ!

څوک چي د فرصت په تمه ناست دي، هغوی بایللي دي.

د فرصت هیله او تمه دوکه ده، چي خورو ئې او د قیمتي وخت ضایع کول دي.

ډېرو د فرصت په تمه او هیله تاوان کړی دی.

هوښیار او بریالي هغوی دي، چي له هره فرصته ګټه اخلي.

موږ په دې هیله یو، چي تللی فرصت بیا راشي؛ خو دې ته پام نه کوو، چي یو ځل راغلی فرصت بل ځل نه راځي.

دا په انسانانو پوري اړه لري، چا له ډېرو کوچنیو فرصتونو په ګټې اخیستلو لوی، لوی کارونه کړي دي؛ مګر ځینو بیا له ډېرو لویو فرصتونو حتا یوه کوچنۍ ګټه هم نه ده کړې.

استاد اسدالله غضنفر لیکي:

«هغه فرصتونه چې زموږ په ژوند کې نه وو دومره دردوونکي نه دي لکه هغه فرصتونه چې زموږ ژوند ته راغلل او و مو نه پېژندل.»

موږ که له ځانونو سره حساب او کتاب وکړو، هر یوه ته ډېر چانسونه په لاس راغلي دي، خو هغسي او پر وخت کار مو نه دی ترې اخیستی، څنګه چي پکار وه.

کله چي مو چانس او وخت له لاسه وتلی دی؛ بیا مو ارمان پسي کړی دی او ارمان ئې کوو، خو تللي وختونه د بیا راتللو عادت نه لري او نه بیرته راګرځي.

هنر دا دی، چي له کوچنۍ موقع هم پر وخت لویه استفاده وکړو.

په تللو او له لاسه وتلو وختونو پسي لاسونه مروړل هیڅ ځای نه نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم د استاد غضنفر وينا ده، چي:

«بـخت د هر چـا د کور  دروازه ټـکوي خـو دا نـه ورتـه وايـي چې دروازې تـه ځوک ولاړ دی.»

بختور هغه دي، چي پر وخت ئې دروازه خلاصه کړه او بخت ئې وپېژانده.

هغوی چي ناوخته دروازې ته راغلي يا ئې بخت نه دی پېژندلی، ډېر زرين چانسونه ئې هم وبايلل.

ډېر په هغو فرصتونو پسي اوس د ارمان لاسونه مروړي، چي په لاس نه ورځي؛ پر وخت ئې ګټه نه ده ترې اخيستې او بې غوري ئې کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بایلل

د گبریال مارکیز وینا ده:

«دا چې خپله ټوله مینه او وفا له یوه چا سره وکړې، دا د دې ضمانت نه کوي، چې هغه هم دا کار تر سره کړي.»

که زموږ مینتوب، لېونتوب هم شي، د دې ضامن نه دی، چې د بل د مینې دعوه هم په لېونتوب کې ثابته کړي.

که موږ خپل ځان تر بل جاروو او خپل سر د بل په قدمونو کې ږدو، په دې معنا نه، چې هغه هم دومره قربانۍ ته حاضر شي.

موږ که له نورو سره په اخلاص، صداقت او په اړیکو کې رښتیني اوسو؛ سل په سلو کې دا باوري نه ده، چې دوی هم دغسې دي او نه به موږ دومره او داسې تمه کوو، چې دا هر څه به ثابتېږي.

ښه دا ده، چې په حد کې واوسو.

دومره هیله او اسره ځان ته ور نه کړو چې سبا بیا تش لاسونه مروړو او هیڅ په ګوتو نه راځي.

د ځینو د تل پاتېدلو هیله دوکه ده. دا دوکه ځان ته مه ورکوئ!

مه دا له زړه منئ، چې ټول عمر زموږ دي.

ځیني څه/څوک حتماً زموږ له ژونده وزي، خو دا بیا بېله خبره ده، چې ژر ځي، که وروسته.

د هیچا د تل پاتېدلو هیله په زړه کې مه ساتئ او مه دا اسره کوئ، چې ټول عمر به له موږ سره پاته وي.

دا هیله داسې ماتېدونکې هیله ده، چې زړه هم ماتوي او دا اسره دومره نامرده اسره ده، چې په نیمه لار کې مو داسې پرېږدي، چې بیا ځل تر شا هم نه راګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني څه/څوک له اوله د نورو دي، نه زموږ وو، نه زموږ دي او نه له موږ سره د پاتېدلو هيله او نيت لري.

شايد ځيني خلک د لږ وخت لپاره زموږ ژوند ته په بل نيت راغلي وي؛ ځکه ځيني خلک يو څيز اخلي هم نه، خو بيه پوښتي او ګوري ئې.

هر چا ته به د خريدار په نيت نه ګورو.

نه به له هر چا د پاتېدلو هيله کوو او نه به د پاتېدلو لپاره زارۍ ورته کوو.

ښه دا ده، چي د بايللو جرات هم زده کړو. که يوه ورځ څه/څوک بايلو، ښه په جرات ئې وبايلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زړه

هر انسان يو زړه لري.

يو زړه د يوې مينې کور دی.

يوه مينه، يو ځل له يوه جانان سره کېږي.

مينه دوستي نه ده.

د مينې او دوستۍ توپير هم دا دی، چې دوستي له هر چا سره او هر ځل کېږي؛ مگر مينه يو ځل او يو ځای وي.

په يوه زړه کې يو جانان ځايېږي.

«دا يو مې تن دی، يو مې زړه دی

يو پکې يار دی ډېر په ناز به ئې ساتمه»

زړونه سمبال وساتئ!

که ئې ساتلای نشئ، نو له زړونو بازارونه مه جوړوئ چې خلک ورته راځي، سوداگاني پکې کوي او پر خپله مخه ځي.

هغه څوک په زړه کې وساتئ، چې ستاسو د زړه قدر وکړي او ستاسو زړه پرې پاللی وي.

هغه چا ته زړه ورکړئ، چې دا ائينه ماته نه کړي.

دا کعبه ودانه وساتې.

دا جهان پرې ښکلی شي.

دا دنيا او فضا ښايسته کړي.

ډېر دقت کوئ او په ډېر احتياط قدم اخلئ!

هر څوک د دې لياقت نه لري، چې يا زړه ورکړو يا ئې په زړه کې وساتو.

ځي دي په بله څله دې کاله کې ځای ورکوو

هر ښکلی نه ارزي په دې چې زړه کې ځای ورکوو

زهير سپېڅلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېرو همدغه شغل دی، چې له یوه زړه وزي، بل ته ځي.

د ډېرو همدغه کار دی، چې پر یوه زړه لوبي وکړي.

ډېرو همدا روزگار جوړ کړی دی، چې له یوه سره مخه ښه کوي او بل ته ښه راغلی وايي.

زړه د ښو او اصیلو خلکو ځایونه دي.

د ښو او اصیلو خلکو ځایونه کم اصلو او کم ظرفو ته مه سپارئ!

هوښیار اوسئ!

ډېر په دې پسي ګرځي، چې یو زړه مات، مات کړي او بیا ئې ننداري ته کښېني.

هیچا ته دومره وخت او چانس مه ورکوئ، چې له زړه ماتولو مو هم خوند واخلي او هم ئې بیا تماشې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وصال خواږه

عجيبه ده!!

د ژوند عجيبه فيصلې وي، د چا زخمونو ته ټکور او د چا زخمونو ته مالګه شي.

ځيني په وصال ماړه کړي او ځيني بيا په بېلتانه ووژني.

څه غواړو او څه راسره وشي؟

څوک چي تر ټولو ډېر نژدې راسره وي، تر هر چا ډېر رانه ليري شي.

چا، چي تر ټولو ډېر وخت راسره تېر کړی وي؛ هغوی مو تر ټولو ډېر يوازي پرېږدي.

چا، چي څومره ډېره مينه راکړې وي؛ هغومره ډېر دردونه د هغو وي، چي موږ ته ئې ډالۍ کړي دي.

هغوی چي د وصال ډېر خواږه ئې راکړي دي؛ د بېلتانه تراخه هم دوی راکوي.

پخپل هجران مو هم دوی وژني.

هغوی چي راسره خندلي ئې دي، دوی مو مجبور کړي، چي بغير له دوی ژوند په ژړا ولمانځو.

اوښکي، اوښکي او سلګۍ، سلګۍ شو.

هغوی د خپلي جدايۍ په چاړه حلال کړو، چي ويل به ئې: هيڅکله به جدا نشو.

هغوی د يوازيتوب جهنم ته ګزار کړو، چي ډاډ به ئې راکاوه؛ هيڅ وخت دي يوازي نه پرېږدو.

هغوی د تنهايۍ په بلا وخوړو، چي د همېشه پاتېدلو درنې، درنې وعدې ئې راسره کړي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د يو ځای ژوند کولو سندرې ئې راته زمرمه کولې؛ هغوی د خپل ديدن د ارمان په دار وخېژولو.

هغوی چې خواږه وختونه راسره تېر کړي وي؛ خوږې خاطرې ترې لرو، د هغو له تللو او بايللو وروسته خواږه وختونه ئې دردونه او خوږې خاطرې ئې زهر، زهر يادونه شي، چې شېبه، شېبه مو وژني.

دا څومره ژور زخم دی، چې يو وخت يو څوک لکه خپل سيوری درسره وي؛ بل وخت دومره درنه ليرې شي، چې بيا ئې سيوری هم نشې ليدلای.

دا به هم تجربه کړې، چې

د شکسپېر په وينا:

«د ژوند غمگينې او ترخې شېبې به له هغه چا تجربه کړې، چې د ژوند خوږې شېبې دې ورسره تېرې کړې وي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مينې وقار

د خدای دنيا ډېره لويه ده.

رنګونه او ښايستونه ډېر دي.

ځان تر يو چا مه رامحدودوئ!

حُسن او ښکلا پر خپل ځای، د مينې عظمت او مقام پر خپل ځای دی.

کله چې څوک درنه بې پروا شول، تاسو ئې هم پروا مه کوئ!

که چا سترګې بدلې کړې، تاسو زړونه بدل کړئ!

که چا مخ واړاوه، تاسو لار ترې واړوئ!

که چا مو ژوند ته شا کړه، تاسو هم راوګرځئ او بې هغو ژوند کول زده کړئ!

هيڅکله چا ته دومره ارزښت او درناوی مه ورکوئ، چې ستاسو حيثيت پکې خاوري کېږي.

هيڅکله حُسن او ښايست ته په دومره درون او لوړ نظر مه ګورئ، چې د مينې مقام پکې ټيټېږي.

هيڅکله تر يو حُسن خپله رښتينې مينه او رښتينې احساسات مه قرباني کوئ!

د ښايست نه، د مينې عظمت ومنئ!

د مينې احترام وکړئ!

د تولستوی وينا ده:

«له ښکلا مينه نه زېږي، دا مينه ده چې ښکلا زېږوي.»

ښايست مينه نشي راټوکولای؛ مګر مينه هر څه/هر څوک داسې درته ښکلی او منلی کړي، چې هغه حُسن او ښکلا بيا په بل څه کې نه درته ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ښايست زوال لري، خو مينه زوال نه مني.

ښايست، ښايست نه پاتېږي؛ مگر مينه همېشه مينه وي.

حُسن د وخت په تېرېدلو زړېږي، مگر د مينې دا معجزه ده، چي څومره وخت پرې تېرېږي؛ هغومره ځوانېږي.

که د مينې نظر نه وي، کېدای شي په نوو جامو کي مو هم سينگار او ښايست دومره جذب نه کړي؛ مگر دا بيا د مينې لېونی نظر دی، چي په زړو جامو کي هم سينگار کړی کس لکه په وران او زاړه کلي د گلابونو باغ راته ايسي.

«ځان ئې زړو جامو کي جوړ کړ
لکه په وران کلي کي باغ د گلو وينه»

د حُسن غرور ته د مينې وقار مه ټيټوئ!

حمزه بابا د حُسن د غرور او د مينې د وقار په اړه څه ښه وايي:

حُسن که غرور لري، وقار د مينې هم شته
ستا گونځې په تندي کي، زما گونځې په شمله کي

د ښکلا په مخ کي د مينې شمله تل دنگه وساتئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درد او زخم

هر چا ته مه ژاړئ!

هر څوک ستا د قیمتي اوښکو قدر نه لري او نه هر څوک داسي دی، چي ستا اوښکي به وچوي او رښتینې دلاسه به درکوي.

هر چا ته د زړه حال مه بیانوئ!

هر څوک په دومره باور نه ارزي، چي خپل رازونه ورسره شریک کړې.

هر څوک دومره ظرفیت هم نه لري، چي ستا راز خوندي ورسره پاته شي او په اوسنۍ زمانه او خلکو کي دومره باور له کومه دی؟!!

ډېره ښکلې او پر ځای خبره ئې کړې ده، چي:

«کله چې یو چا ته راز وایې؛ نو په حقیقت کې دې یو ساعتي بم په ټایم کړ.»

ځینو ته خپل زخم ښودل او درد بیانول دا معنا ده، چي نه به بیا هغه زخم جوړ شي او نه به بیا هغه درد ارام وکړي.

د چارلي چاپلین وینا ده:

«څومره چې خلکو ته خپل احساسات وایې، هغومره د ځان زورولو لارې ورښیې.»

ځیني وخت موږ پخپل لاس خلکو ته دا ورښیو، چي څنګه مو وزوروي او څنګه مو زړونه مات کړي.

څنګه مو ودردوي.

څنګه مو په ژړا کړي او څنګه مو زخمونو ته اور ورکړي.

دا یاد لرئ او هوښیار اوسئ!

هر چا ته خپل درد مه وایاست!

هر څوک طبیب نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوک دارو درمل نه لري او هر څوک ستا د درد علاج نشي کولای/یا ئې نه کوي.

هر څوک دا هنر نه لري، چي ته لاس په لاس کي ورکړې او هغه دي زړه حس کړي.

ځيني انسانان د خواخوږۍ په نامه په دې پسي ګرځي، چي د يو چا درد ځان ته معلوم کړي او بيا، بيا ئې ودردوي.

حتا ځيني له ځانونو سره مالګي ګرځوي؛ دومره غواړي، چي د يو چا زخم ووينې او پرې و ئې پاشي.

چي وس مو کېږي، خپل دردونه او زخمونه چا ته مه ښياست. ځينو زخمونو ته وژاړئ او پخپلو اوښکو ئې ټکور کړئ!

د ځينو دردونو غوره علاج دا دی، چي زغمې به ئې؛ بل ته په ويلو او بيانولو شايد نور هم ودردېږې، خو ټکور نشې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناکامي

کامیابي او ناکامي دواړي کلمې د ژوند په کتاب کي بیا، بیا راځي.

موږ باید له دواړو سره اشنا واوسو او دا ومنو، چي نه ناکامي په دې معنا چي موږ دي بل ځل له کامیابېدلو ناهیلي شو او نه د کامیابۍ دا معنا ده، چي همېشه دي موږ کامیابه یو؛ ناکامه کېږو دي نه.

ناکامي موږ د کامیابۍ په خوند او ارزښت پوهوي او دا ثابتوي، چي د ژوند په چارو کي له کامیابۍ سره، سره ناکامي هم شته.

هر وخت او هر ځای کامیابي په دې معنا چي د کامیابۍ په رښتیني خوند او ارزښت نه یو پوه شوي.

هغوی چي حتا له څو، څو ځله ناکامیو او بیا، بیا هڅو وروسته بریالي شوي او هدف ته رسېدلي دي؛ واقعاً د کامیابۍ په خوند او اهمیت  تر نورو ښه پوهېږي.

له ماتي او ناکامۍ مه ډارېږئ!

دا ومنئ! په هره ناکامۍ کي کامیابي پټه ده او په هره ماته کي بریا نارې وهي.

فکر داسي مه جوړوئ، چي موږ دي همېشه بریالي یو او کامیابي دي تل زموږ وي.

ژوند  همېشه ګټه او بریالیتوب نه دی.

که وګورئ دا به درته ثابته شي، چي ډېرو ماتو بریاوي زېږولي دي او ډېر ځله ګټه په تاوان شوې ده.

هره ناکامي دا راښيي، چي کامیابي او بریا چېري او څنګه تر لاسه کړو؟

ماته هیڅکله په دې معنا نه ده، چي ته بیا نه بریالی کېږې؛ بلکي د بریالیتوب لپاره نوري ډېري لاري ـ چاري درښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا، بیا هڅو ته دي مجبوروي.

کنفیوسیوس وایي:

«زموږ تر ټولو لویه بریا دا نه ده، چې موږ هیڅکله ماته نه خورو؛ بلکې دا ده، چې له هر ځل غورځېدو وروسته راپورته شو.»

اصلاً دغه لویه بریا ده، چې له ناکامېدلو وروسته بیا د بریا هڅه کوو او له غورځېدلو وروسته بیا راپورته شو او پر مخ روان شو.

چې تراخه و نه خورو، له خوږو خوند نشو اخیستای.

چې و نه ژاړو، خندلای هم نشو او چې په تیاره کې ایسار نشو، د رڼا په ارزښت نه پوهېږو.

ناکامي د کامیابۍ لارښود دی.

ماته د بریالیتوب کیسه ده او تاوان د ګټې زېری دی.

ماته او ناکامي مو پر هغو لارو برابروي، چې کامیابۍ او بریا ته تللي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دنیا دود

دا سوی اه او فریاد هسي له دردېدلو او خوږمنو زړونو نه دی راپورته شوی چي وايي:

«دوه زړونه سره یو کړي، دوه زړونه کړي جدا
عجبه زمانه ده، هم دا کوي، هم دا»

دنیا ړنده ده.

ځیني عجیبه ړندې فیصلې کوي.

په دې خوشحاله وي، چي دوه زړونه ئې یو ځای کړل، خو دا بیا نه ویني چي دوه زړونه ئې مات هم کړل.

دوه زړونه پیوند کړي او دوه زړونه بېل کړي.

یو طرف خوشحاله کړي، خو د بل طرف نارضایي بیا نه ګوري.

د دوو مینو په زړونو اور پوري کړي او ټول عمر ئې په یو بل پسي ورنځوي.

دوه زړونه د بېلتانه په لمبو لولپه کړي.

دوه ژونده اغزي، اغزي کړي.

یوه لار دوې لاري کړي.

څلور سترګي وژړوي.

د دوو مینو زړونو ارمانونه ژوندي تر خاورو لاندي کړي او دوه مینان ټول عمر د یو بل د ارمان په دار وځنګوي.

په زړونو کي د میني ابادي کړي دنیاوي ړنګي کړي.

د ژوندانه ځیني دودونه ډېر ظالمانه او زوروونکي دي.

ډېرو مینو جوړو دا ظالمانه دودونه په پټه خوله زغملي دي او ټول عمر په دې پټ اور کي ولاړ وي.

همېشه په هغو لمبو کي سوځي، چي نور ئې نه ویني او نه ئې سوځنده تاو حسولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مینه جوړه چي پر یوه لار ئې د ټول ژوند د سفر کولو وعدې له یو بل سره کړي وي؛ داسي ئې لاري وربېلي کړي، چي بیا هیڅکله له یو بل سره مخامخ هم نشي.

ډېر زړونه دنیا د خپلي خودغرضۍ او هوس لپاره قرباني کړل او په ډېرو ارمانونو او امیدونو ئې د خپلي سیالۍ د پوره کولو لپاره هره ناروا وکړه/کړې ده.

دا هم د ژوندانه یو ډېر دردوونکی او زړه ماتوونکی دود دی، چي:

«له چا سره چې مینه لرې هغه له تا سره مینه نه لري. هغه چې له تا سره مینه لري، ته ورسره مینه نه لرې او چې دواړه سره مینه ولري، یو بل ته نه رسېږي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملگرتیا

د خدای جل جلاله نعمتونه ډېر دي، خو ځیني نعمتونه بیا ډېر په گرانه پیدا کېږي؛ لکه نن ــ سبا ښه ملگري. ښه ملگری ښی لاس دی.

د ښو او درنو ملگرو، ملگرتیا پر مادیاتو نه وي ولاړه.

ښه ملگري په ښو او بدو دواړو ورځو کي درسره وي.

هوښیاران وایي:

«یو ښه کتاب د سلگونو ښو ملگرو سره برابر دی؛ مگر یو ښه ملگری د زرگونو کتابتونونو سره برابر دی.»

د ملگرتیا په نوم به ډېر درسره رابطې ساتي او د ملگري په نامه به ډېر ځان درپېژني؛ خو نه هره رابطه د رښتیني ملگرتیا لپاره ده او نه هر څوک واقعي او رښتینی ملگری وي.

لاندي حکایت ولولئ!

ټول پېغام او فلسفه ئې په وروستۍ کرښه کي ده.

«دوه کسه د لارې ملگري وو. ناڅاپه یره په مخه ورغله دا یو هلته نژدې ونې ته وخوت او په څانگو کې یې ځان غلی کړ. هغه بل چې د تېښتې لوری ونه لید، په مځکه وغځېد او سترگې یې پټې کړې،لکه څوک چې مړ وي.

یره ورته ودرېده، ښه ورنژدې شوه، ورپوز یې ورپورې وموښه، بوی یې کړ، سا ته یې ځیره شوه، خو په پراته بنیادم کې یې نه حرکت ولید او نه په دې پوه شوه چې سا باسي.

ده ځان مړ اچولی و او سا یې دومره ورو ایستله چې یره نه ورته متوجه کېده. یره شېبه نیمه هلته ودرېده او روانه شوه.

یره چې له سترگو پنا شوه، په خاورو کې پروت سړی راپاڅېد، جامې یې وځنډلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بل هم له ونې راکوز شو او ده ته یې وویل: یرې چې سر درنژدې کړی و، څه یې درته ویل؟

ده ځواب ورکړ: نصیحت یې راته وکړ چې هیڅ وخت له داسې چا سره مه ملګری کېږه چې په سخته شېبه کې دې یوازې پرېږدي.»

(د زرو هېندارو کور/د استاد غضنفر ژباړه)

یاد لرئ!

د ځینو رابطې تر یوه مطلبه وي، چې مطلب ئې پوره شي، رابطه ئې هم ختمه شي.

په دې پسي مه ګرځئ، چې سلګونه ملګري پیدا کړو، اصل هنر او کمال دا دی، چې یو ملګری سل کاله وساتو او داسي ملګرتیا وکړو، چې پر یو بل وویاړو.

رښتینې ملګرتیا ډېره سخته او درون بار دی؛ هر څوک ئې د وړلو توان نه لري.

دا هم یاد لرئ، په ځینو ملګرتیا او په ځینو ملګري بدنامه وي.

ملګری او ناملګری وپېژنئ!

مه هري رابطې ته د ملګرتیا نوم ورکوئ او مه له هر چا د ملګري تمه کوئ!

څه ښه ئې ویلي دي:

«په ډېرو څه کوې، بلا دې واخلم
ملګری یو ساته، خو نر ئې ساته»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژوند همدا...

دا زده کړئ!

ژوند همدغسي سلسله ده.

کله زحمت وي، کله راحت.

کله د جنت یوه نظاره شي، کله د دوږخ تاو.

کله به له خوښۍ دومره وخاندې، چي زړه دي درد وکړي او کله به بیا دومره ودردېږې، حتا اوښکي به نه لرې، چي وژاړې.

کله به سرسري زخمي شې او کله به دي زخم ډېر ژور وي.

کله به له وړو او کوچنيو ستونزو سره مخامخ شې؛ کله به بیا لويي ستونزي لار درته نیسي.

شاید کله پردي په ښه درشي او کله به خپل مخ درنه واړوي.

کله به ډېر څه لرې، خو کله به بیا هیڅ هم نه وي درسره.

د دغو ټولو تر منځ باید توازن وساتو. داسي نه، چي یا په یوه خوا کي ورک شو، یا مو بله خوا په مخه کړي.

وړې پېښې داسي نشي، چي لويو پېښو ته مو مات کړي.

داسي نه چي په وړو کارونو کي داسي مصروف شو، چي لوی کارونه رانه پاته شي.

د لږ څه په هیله مو ډېر څه له لاسه ووزي.

هیڅکله دي داسي ونشي، چي

«په وړو خبرو زړه خورو، لويو پېښو ته بیا زړه نه لرو.»

دا باید یاد ولرو.

وړې ستونزي او واړه مشکلات مو دې ته چمتو او جوړوي، چي غټ مشکلات بیا په لوی زړه وزغمو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه چي څومره تیاره وي، هغومره ستوري ښه او روښانه معلومېږي.

که ته له وړو ستونزو سره په مبارزه کي پاته راغلې؛ نو غټې ستونزي دي ژر ماتوي.

ژوند له همدغو بهترو او بدترو جوړ دی.

ته فقط ژوندی نه یې؛ ته ژوند کوې؛ باید غرونه، غرونه حوصله ولرې.

ځان باید داسي محکم او پیاوړی کړې، چي مشکل او ستونزه دي پیاوړتیا ته حیران شي.

ستونزه باید له تا وډارېږي او مشکل باید له تا پر شا لاړ شي؛ نه دا چي ته وډارېږې او پر شا روان شې.

خپله ټینګه اراده، دنګه حوصله او پیاوړی هوډ ثابت کړه او ووایه، چي:

«تسلیم نه یم که هر څومره شې بې خونده
ته مي مه کوه، خو زه دي کوم ژونده»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زوروونکې...

دا خبره له زړه ومنئ!

هر زخم ته مرهم او ټکور نه پیدا کېږي.

څوک چي موږ غواړو او مینه ورسره کوو؛ حتماً نه کېږي، چي زموږ دي هم شي او یو بل ته دي ورسېږو.

په دې دروغجنه تمه باور مه کوئ او دا دوکه ځان ته مه ورکوئ!

ځیني لنډه موده زموږ ژوند ته د دې لپاره راځي، چي په بیرته تګ مو زړه مات کړي او له مات زړه سره مو پرېږدي.

څوک چي مو خوښ دي او په زړونو کي مو دي، دا په دې معنا نه، چي ټول عمر به هم زموږ وي او له یو بل سره به یو.

حتا ځیني به ډېر نژدې هم راسره وي، د لېونتوب تر کچ به مینه، اخلاص او وفا هم ورسره لرې، خو دا مو زړه منلې وي، چي هیڅکله به نه یو بل ته ورسېږو او نه به زموږ د ژوند ملګري شي.

دا حالت نو فقط د خپل زورېدلو او بربادېدلو تماشه ده، چي کېږي.

د ګبریال مارکیز خبره:

«تر ټولو زوروونکې دا ده، چي په څنګ کي درسره وي، خو ښه پوهېږې چي هیڅکله به ستا نشي.»

داسي وګڼئ! ځیني ګلونه د دې لپاره پیدا شوي، چي اغزي ئې زموږ په زړونو کي مات شي او خوشبویي ئې نورو ته ځي.

ژوند داسي ډېر محبتونه نیمه خوا پرېښې دي.

ډېري میني نیمګړي پاته دي.

داسي ډېر زړونه د بېلتانه په تېغ پیودلي دي او د سره انګار له پاسه وریتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي په ډېرو سترګو کي د يو چا د بيا ليدلو، حتا د وروستي ځل ليدلو ارمان غرېږي، خو نيمګړی پاته دی.

داسي ډېر په دې هيله ارماني ژوند تېروي، چي يو تللی کس بيا پر دې لار راشي، خو دا هيله نه پوره کېږي او نه پوره شوه.

دنيا له ډېرو داسي جوړو ډکه ده، چي مين پر يوه وي او ژوند له بل سره تېروي.

ډېر زخمونه دي، چي د چا په راتګ ټکورېدل، خو ټکور نشول؛ لا هغسي سره پاته دي اوويني ترې څڅېږي.

داسي ډېر يو بل ته د رسېدلو د ارمان په دار شپبه، شپبه ځانګي او هره لحظه د يو بل د بېلتانه زخم خوري او دردېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپل عمل

هر انسان د خپل عمل او کردار مسؤل دی.

که ښه کوي، که بد؛ ګټه او تاوان ئې ده ته رسېږي.

که دی نورو ته ضرر نه رسوي، دی به هم د نورو له ضرره په امن وي.

لکه پر دې دنیا چې د هر انسان خپل کور دی، خپله لار ئې ده؛ دغسي ئې ګور هم جلا دی.

هیڅ انسان د بل انسان په ګور نه ننوزي او نه ئې له بل انسان سره د کړي عمل حساب او کتاب کېږي.

خو دا هم ده، چې

د ځینو انسانانو فکر داسي جوړ وي، چې ده ته رسېدلی تاوان د نورو پلان دی. خپله ناکامي پر نورو تپي.

ځان سلامت او نور ملامت ګڼي.

داسي هم کېږي،

ځیني وختونه انسان خپله، خپل ځان ته ضرر رسوي. له خپلي لمني اور واخلي.

په هغو ځنځیرونو کي بند شي، چي پخپل لاس ئې جوړ کړي وي.

د هغو خبرو له پوره نه خلاصېږي، چي له خپلي خولې ئې وتلي وي.

داسي نه ده، چي همېشه ضرر او مشکل له نورو پېښېږي.

ډېری وخت انسان خپل کرلي رېبي.

له خپله لاسه ورپېښه وي.

د خپلو کړو ـ وړو پایله او د خپل عمل، عکس العمل ویني.

خپل کردار ئې د لاري مل وي.

ځیني وختونه بیا داسي هم وي، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر پخپل هغه بل کړي اور کي سوي دي، چي د نورو د رڼا لپاره ئې بل کړی وي.

د خپلو ښو له لاسه بد ويني.

خپلو نېکيو او ښېګڼو د بديو په ټال ځنګولي دي.

خپل خير ورته بلا شي.

له خپل اخلاصه زورېږي.

خپل صداقت او رښتينولي ئې ژړوي.

خپل کړی باور زخم ورکړي.

هسي نه وايي: ونه چي په کوم تبر وهل کېږي، د همدې وني له لرګي جوړ شوی وي.

په يوه ارمني کيسه کي راځي، چي:

«ګوربت په فضا کې په غشي ولګېد. غشي يې سينه ورسوری کړه. د رالوېدو په وخت يې غشي ته وکتل، چې د ګوربت له وزورنو جوړ و. له ځان سره وچغېد، ويې ويل: زه پخپله د خپل مرګ سبب يم، مرګ پر ما!.»

(د زرو هېندارو کور/د استاد غضنفر ژباړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منزل ته...

ته به غواړې، یو کار پیل کړې او منزل ته ځان ورسوې. ځیني خلک به دي واقعاً تشویق کړي.

منزل ته د رسېدو لاري چاري به دروښيي.

نېکه او د خير مشوره به درکوي.

دې ته به دي جوړ کړي، چي اوس کار پیل کړې او مخ پر منزل روان شې.

منفي فکر نه درکوي او نه داسي څه درته وایي، چي تا زړه ماتی کړي.

ستا پرمختګ ته خوشحاله کېږي.

له زړه غواړي، چي کار پیل کړې او منزل ته ورسېږې.

برعکس داسي خلک هم شته، چي په پیل کي دي لا دوه زړی کړي.

منفي درته ږغېږي.

غواړي پښېمانه دي کړي او له خپلو هڅو لاس واخلې.

ممکن درته ناممکن کړي.

اساني چاري درته ګراني کړي.

سیده لاري درته کږې ـ وږې کړي.

دې ته دي ودروي، چي هر څه پرېږدې، تش لاسونه کښېنې او د ناکامۍ تماشه دي وکړي.

له دې منفي فکره خلکو او منفي خبرو د خلاصون لار دا ده، چي ته مخته ځه او خپلي هڅي رواني وساته.

پر دغو خبرو ځان داسي کوڼ کړه، چي هر څه سرچپه اورې.

چي وایي، نه کېږي؛ داسي ئې وګڼه، چي وشول.

چي څوک منفي خبري کوي، مثبتي ئې اوره.

ناممکن ئې په ممکن تعبیروه.

خوند هله کوي، چي دوی دي ناکامه ګڼي او ته کامیابه شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند دا دی، چې دوی دي ناکامۍ او پر شاتګ ته ناست وي؛ خو ته د خپلې کامیابۍ او پرمختګ زېری ورکړې او نندارې ته ئې راوغواړې.

لاندې حکایت همدغه رنګ لري:

«د چونګښو ډله په ځنګل کې د کندې په غاړه روانه وه. دوه یکې کندې ته ولوېدې. دواړو هڅه وکړه چې راوخېژي خو کنده خورا ژوره وه. خورا ستومانه شوې. ملګرو یې ورته وویل: راوتلی نه شئ ځان مه پعذابوئ! مګر دوی یې خبره، ونه منله. د کندې په غاړه ولاړو چونګښو یو ځل بیا اواز ورباندې وکړ چې راوتل مو نشته، ځان مه پعذابوئ، ولې مرګ ته بې تکلیفه غاړه نه ږدئ!

دا یوې چونګښې هڅه بس کړه، مرګ یې نژدې ولید، زړه یې واچاوه، مړه شوه. مګر هغه بلې د کندې په نیغو دیوالونو ناکامې راپورته کېدا ته دوام ورکړ. په دیوال به لکه شوه، راوبه ښویېده، بیا به یې زور وواهه بیا به راولوېده او په دې منځ کې به د کندې د غاړې چونګښو دم په دم خواستونه ورته کول چې خدای ته وګوره، ځان مه پعذابوه، مرګ حق دی، هغې بلې ته وګوره چې هوښیاره وه ځان یې په تکلیف نه کړ.

مګر دې خپلې هڅې کولې. په سلګونو ځله وغورځېده، وپرځېده او اخر وتوانېده چې له کندې راووځي.

نورو چونګښو ورته وویل: زموږ خبرو ته دې ېېځي اهمیت نه ورکاوه.

دې ورته وویل: زه په غوږو درنه یم. اټکل مې کاوه چې شاباسی راکوئ، هڅوئ مې.»

(د زړو هېندارو کور/د استاد غضنفر ژباړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سکوت

وايي:

«ځينې وخت اړ يې، چې له خبرو لاس واخلې او سکوت وکړې؛ ځکه هېڅ کلمه يې نشي بيانولی، چې پر زړه دې څه تېرېږي؟»

دا زده کړئ!

د هر څه اظهار په خبرو نه کېږي.

هر څوک په خبرو نشئ پوهولای!

هر وخت دي خبري، احساسات تر نورو نشي رسولای او نه دي نور په درد شريکولای شي.

حتا د ځينو خلکو د خبرو ځواب هم په خبرو نه کېږي.

پټه خوله به پاتېږې او هيڅ به نه وايې.

ډېر وخت سکوت ته اړتيا وي، چي يو څوک دي درک کړي.

ډېر وخت چوپتيا مهمه وي.

خاموشۍ ته اشد ضرورت وي.

يوازيتوب او تنهايي پکار وي.

ځيني دردونه انسان داسي وردوي، چي کلمې هم ترې هېري کړي، چي خپل درد څنګه بيان کړي؟

د خپل درد او خوږ اندازه چا ته څنګه وښيي؟

خپل دروني کيفيت څنګه ووايي؟

ځيني وخت انسان له يوه انسانه زخم وخوري؛ مګر د هر انسان په ليدلو څړيکي، څړيکي شي.

يو ځل دوکه شي، خو هر ځل وېره لري.

يو انسان ئې باور مات کړي، خو پر هر چا بې باوره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا او ځيني نور داسي زخمونه او دردونه وي، چي انسان يوازي، خاموش او چوپ کړي.

خو موږ په يوې داسي بې احساسه او بې هنره ټولنه کي ژوند کوو، چي د يو چا خاموشي او سکوت نشي درک کولای.

د چا درد نشي احساسولای.

د چا غم نه ويني.

د چا په ستونزو نه پوهېږي.

که غم په خندا تېروې، وايي: خوشحاله دی.

که ژاړې، کمزوری دي ګڼي.

که يوازيتوب غوره کړې، وايي: مغروره دی.

که پر درد چوپ او غلی شې، وايي: خوند ترې اخلي.

که پر ستونزو او مشکلاتو صبر او زغم اختيار کړې، وايي: بې غمه دی.

يو څوک درک کول، هنر دی، خو دلته دا هنر نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژبه

**زه په ترخه خبره مرم، عمر دراز مروته**

**زما د قتل ډېر سوچونه دي یاران نه کوي**

اروابناد عمر دراز مروت

**پښتانه متل کوي:**

**«د توري زخم جوړېږي، خو د ژبي نه.»**

**له همدې پوهېدای شو، چې ژبه تر توري تېره او وار ئې خطرناک دی.**

**دا چې ژبي ته دوه دېرش غاښونه په قهر دي، سبب ئې دا دی، چې زیاتي ستونزي انسان ته له خپلي ژبي زېږېدلي وي.**

**ځیني وخت د ژبي له لاسه غاښونو گزار خوړلی وي.**

**د ځینو انسانانو ژبي ماران وي.**

**له هري خبري سره زهر پاشي او لکه لړم گزار کوي.**

**هغه زخمونه چې ژبي په زړونو کي جوړ کړي دي، تر اوسه ویني ترې څڅېږي.**

**اوس هم څړیکي او دردونه کوي.**

**اوس هم تازه دي.**

**ځیني وخت ځیني خبري، خبري نه وي؛ په زهرو لړلي غشي وي، چې د انسان په زړه کي ښخ شي.**

**ټول عمر دا زخم، زخم پاته وي او جوړېده نه لري.**

**ځینو خبرو لاس/سر مات کړی دی، ځینو باورونه او ځینو بلکل زړونه دړي، وړي کړل.**

**لطفاً! له ژبو توري مه جوړوئ، چې زړونه پرې زخمي کړئ!**

**په ژبه او خبرو د خلکو په زړونو او ذهنونو کي زهر مه پاشئ!**

**«د بدي خبري عمر سل کاله دی.»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لاس ګزار پر جسم، خو د ژبې ګزار پر زړه لګېږي.

د ځينو خبرو کولو مخکې بايد فکر وشي، چې څه وايم، ځکه له خولې وتلي خبري بيرته نه راګرځي. په تېره بيا تېره، کږه او ترخه خبره.

ځيني خبري، خو بلکل خلک وژني!

چې يو ځل د چا زړه پرې بد او مات شي، بيا نو څه معنا؟ که ژبه پرې کړې او خولې ماتې کړې!

«د جانان زړه دې رانه بد کړ

د ژبې سره په قينچې دې پرې کومه»

څومره ښه ئې ويلي دي:

«ځينې خبرې روغ زړونه ماتوي او ځينې خبرې مات زړونه رغوي.»

کاش

انسانانو داسې خبرې کولای، چې

زخمي زړونو ته درمل شي.

خفه زړونو ته خوښي ورکړي.

نااميده زړونو ته اميد او تسلي وبخښي او

مات زړونه پرې ورغېږي.

په همدې هيله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملګری

وایي:

«که څوک بې عیبه ملګری لټوي، بې ملګري به پاته وي.»

هیڅ انسان بې عیبه او بشپړ نه دی.

هر انسان نیمګړتیا لري.

له هره انسانه تېروتنه کېږي او تېر وزي.

موږ، که د نورو عیبونه وینو او نیمګړتیاوې ئې وایو؛ دا په دې معنا نه، چې موږ نو عیب نه لرو او له نیمګړتیا پاک یو.

په موږ کې هم ښکاره او پټې، ډېري/لږي نیمګړتیاوې شته، خو دا چې موږ ئې نه وینو یا نه راته ښکاري یا نه وایو، دا بېله خبره ده.

«خپل عیب د ولو منځ، د بل عیب د کلو منځ»

د یوه عیب او یوې تېروتنې په خاطر یوه ملګرتیا ختمول یا ملګری له لاسه ورکول هیڅ منطق نه دی.

وایي:

«ملګرتیا کتاب دی او تېروتنه یوه پاڼه، هېڅکله باید د یوې پاڼې په خاطر ټول کتاب و نه غورځول شي.»

موږ له بله د ښه ملګرتیا هیله کوو، خو دې ته اکثره پام نه کوو، چې نور هم له موږه دا هیله او توقع لري.

که موږ ښه ملګری غواړو، بل هم بد ملګری نه خوښوي.

که موږ دا نه غواړو، چې خلک زموږ د یوې تېروتنې په خاطر زموږ ملګرتیا پرېږدي؛ بل هم دا نه قبلوي، چې موږ ئې په یوه خطا له ملګرتوبه لاس واخلو.

د نورو د عیبونو د پلټلو او د نیمګړتیاوو د بیانولو پر ځای باید خپل ځان اصلاح کړو او ځان د یوه غوره ملګري پر معیار برابر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوه عيب په خاطر بايد ملګرى پرې نږدو. ښه دا ده، چې د هغه عيب د اصلاح كولو كوښښ ئې وكړو.

رښتيني ملګري هغه دي، چې په پټه د يو بل د عيبونو اصلاح وكړي؛ يو بل خپلو نيمګړتياوو ته متوجه كړي؛ نه دا چې يو بل رسوا كړي او نه دا چې د عيب په پلمه له يو بل سره ملګرتيا ختمه كړي.

كه د يوې نيمګړتيا په وجه ملګرتيا پرېږدو او د يوه عيب په سبب له ملګري لاس اخلو؛ په دې بايد پوه يو، چې ټول عمر به نه ملګرى ولرو او نه به ملګرتيا وكړو.

د عيبونو په وجه ملګري مه پرېږدئ!

د عيبونو د اصلاح كولو له لاري ئې ملګرتيا وپالئ او ملګري جوړ كړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوازیتوب

## یوازیتوب ممتازه!

## څه مزيدار عذاب دی

ممتاز اورکزی

یوازیتوب او تنهایي که عذاب دی، خو هلته خوندور او په زړه پوري شي چي وپوهېږې، ستا هيله ترې څه ده او خلک څه کوي؟ دلته بيا د یوازیتوب او له ځينو د ليريوالي قدر ښه معلومېږي.

له هغو سره تر اوسېدلو یوازیتوب غوره دی، چي درک کولای دي نشي.

ځيني دي پخپل چال او چلن هم دې ته مجبوروي، چي ځان یوازي کړې او تر دوی تنهايي درته ښه وبرېښي.

له ځينو خلکو که ليري شې، پر ځان به رحم وکړې او د هغو دغه سزا بس ده.

له هغو خلکو سره تر ناستي ـ ولاړي، راشي ـ درشي، چي نه ترې څه زده کېږي، نه دي درد پرې دوا شي، نه دي ښه ورځ پرې ښکلې وي او نه دي په بده ورځ حاضر وي؛ زر ځله دا ښه ده، چي یوازي يې او څوک و نه لرې.

له یوازیتوب سره باید ځان عادت کړو؛ ځکه یوه نه، یوه ورځ مو تر هر چا رانژدې کس هم پرېږدي او مجبوراً یا قصداً ځي. حتا خپل سيوری هم همېشه نه وي راسره، په تياره او سيوري کي مو پرېږدي.

انسانان یوازي نړۍ ته راځي، یوازي بيرته ځي؛ نو دا څو ورځني ژوند کي هم باید لږ/ډېر یوازیتوب تجربه کړي او د یوازي ژوند له خونده/عذابه خبر شي.

د حُسين پناهي په وينا:

«ځينې وخت ښه دی، چي هېڅوک ونه لرې. تر ځينو خلکو یوازیتوب ډېر ښه دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازیتوب په دې هم ښه دی، چې د چا د تللو/بایللو وېره نه لرې. له دې بېغمه یې، چې څوک به وبایلم/رانه لاړ به شي.

حتا د ځینو تر نه درلودلو یوازیتوب په دې هم ښه دی، که یو وخت څوک درنه وپوښتي، چې هیڅوک دي نه درلودل؟ ته بې ځوابه شې او که رښتیا وایې، شاید د مین/میني، یار، دوست او ملګري نوم بدنامه شي.

له دې سره، سره باید یوازیتوب د دې لپاره هم تجربه کړو، چې د ژان پل سارتر خبره ده:

«کله وخت باید له ځانه د یوازیتوب دېوال چاپېره کړو؛ د دې لپاره نه، چې له خلکو لیرې شئ؛ بلکې د دې لپاره، چې څوک ستا د لیدو لپاره دا دېوال نړوي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حالات

انسان په ژوند کي له بېلابېلو پېښو، ستونزو او مشکلاتو سره مخ کېدای شي.

مختلف حالات وينې او بېلابېل وختونه باندي راځي.

کله دومره خوشحاله وي، چي له خندا ئې خوله نه راټولېږي او کله بيا دومره خفه او غمجن شي، چي ژړلای هم نشي.

کله ئې دواړه لاسونه ډک وي او کله بيا په يوه لاس کي هم هيڅ نه لري.

کله نورو ته څه ورکوي او کله ئې بيا بل ته لاس نيولی وي.

کله درياب، درياب ګرځي او کله بيا کرياب، کرياب ناست وي.

هر حالت او پېښه انسان ته يوه تجربه ده او ډېر څه ترې زده کولای شي.

ژوند که يو حال وای، تغير ئې نه کولای، انسان ته ژوند ډېر سختېده.

دا ښه دی، چي هر حالت تېرېږي او بل راځي.

دغسي مختلف حالات انسان جوړوي. انسانانو ته د نورو حالتونو قدر ورمعلوموي. دا ورښيي، چي له هر ډول حالت سره ځان عيار کړي او په هيڅ حالت کي ځان و نه بايلي.

مه په ډېره خوشحالۍ کي ځان بايلئ او مه له ډېري پرېشانۍ او غمه هر څه ته شا کوئ! مه د خوږو پر موقع تراخه هېروئ او مه خواږه له ياده باسئ چي له ترخو سره مخ شئ!

د ډېري، خو موقتي ګټې لپاره په لږه، خو دايمي ګټه سودا مه کوئ! د لږي خوشحالۍ او خندا په خاطر ځان تلپاتي درد او غم ته مه قرباني کوئ!

ځينو پېښو، ستونزو، سختيو او حالاتو ته ځان سمندر کړئ، چي هر څه درباندي راشي، ټول وزغمئ، هيڅ نښه ئې هم درباندي پاته نشي؛ خو ډېر څه ترې زده کړئ! که ځان سمندر نه کړو، ډېري وړې ستونزي او کوچني مشکلات مو هم اغېزمنولای او هم مو د ژوند خوند او رنګ پيکه کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندي حکايت ولولئ! يو سمندر پېغام او مفهوم لري.

«بوډا راهب خپل شاګرد ته چې د ژوند د رازونو په زده کړه پسې سرګردانه و، وويل: هغه د مالګې کڅوړه راوړه!

شاګرد مالګه راوړه. هاله بيا استاد ورنه وغوښتل چې په پياله کې اوبه راوړي. شاګرد اوبه هم راوړې او د راهب مخ ته يې کېښودې.

راهب يوه چونډۍ مالګه په پياله کې واچوله. مالګه يې په کاچوغه باندې په اوبو کې حل کړه او شاګرد ته يې وويل: اوس يې وڅښه!

شاګرد يو غوړپ وکړ، پياله يې بېرته په ځمکه کېښوده، استاد ته يې وويل چې: ډېرې تروې دي، د څښلو نه دي.

راهب ورته وويل: راځه ځو د سين غاړې ته.

دواړه پاڅېدل. راهب د مالګې کڅوړه هم ورسره واخيسته. د سين غاړې ته چې ورسېدل، راهب د مالګې ټوله کڅوړه په سين کې تشه کړه او شاګرد ته يې وويل: اوس دوه، درې لپې اوبه وڅښه!

شاګرد د سين په غاړه کښېناست او درې لپې اوبه يې وڅښلې.

راهب ورته وويل: څنګه څښل کېږي؟ تروې خو نه دي؟

شاګرد ځواب ورکړ: نه، نه ښې خوږې دي.

راهب ورته وويل: زلمکيه، په ژوند کې سين اوسه، پياله مه اوسه! د ژوند مشکلات مالګه وګڼه. سين د کڅوړې ټوله مالګه وزغمله، خو د پيالې اوبه له يوې چونډۍ مالګې سره تروې شوې او له څښلو ووتې.»

(د زرو هېندارو کور/د استاد غضنفر ژباړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حُسن او رنګ

**د حُسن د مقدار او د معیار پیمانه نه وي**

**والله چې ما به سترګې کړې په شمار ستا بانه**

اقبال شاکر

تور، سپین، سور، غنمرنګ او نور رنګونه د ښایست معیار نه دی، چې موږ یو رنګ او ښایست سره وتړو.

ډېر ځله داسي شوي دي، چې له سپین مخه بې اختیاره مخ په تور او غنمرنګ پسي واوړي.

سپین او سور نه په زړه کي وي او نه په خیال کي، مګر په تور جانان پسي زړه لمبه، لمبه وي.

د غنمرنګو په انتظار کي ځوانۍ لوګی، لوګی شوې.

د سرو او سپینو زړه په تور او غنمرنګ پسي زخم، زخم وي.

ښایست په یوه رنګ کي نه؛ بلکي په ټولو رنګونو کي دی یا په هر رنګ کي دی.

د مجنون په اړه مشهوره ده، چې:

« مجنون ته چا ویل: چې ته په دې تورکۍ لیلا پسي ولي دومره لېونی، غمجن او سرګردانه یې؟ تر لیلا ډېري ښکلي، ښکلي نجوني شته.

مجنون ورته وویل:

ته زما په سترګو ورته وګوره بیا ووایه چې لیلا خنګه ده؟!!»

دا مهمه نه ده، چې «لیلا» توره ده که سپینه؟

ښایسته ده که بدرنګه؟

خبره دا ده، چې سترګي د مجنون شي او مینه د جنون حد ته ورسېږي بیا نو هره یوه «لیلا» ده او هر «قیس» پسي «مجنون» شي.

هسي نه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه اسان کار نه دی، ځان ته یو ژوندون غواړي
مخ ته د لیلا کاتـــه، سترګي د مجنون غواړي

دا هم هغه عاشقانه جوړه «لیلا او مجنون» ده؛ چي نوم ئې د سپېڅلي او سوځنده مینې په تاریخ کي تلپاتي کړ او د مینانو لپاره سمبول شو.

نو رنګ او ښایست سره تړلي نه دي، بېل دي.

که حُسن او ښایست په یوه رنګ کي وای؛ نو «قیس» به په تورکۍ «لیلا» پسي نه مجنون کېده.!!

ټول به پر یوه رنګ مینان وو.

استاد پسرلی د رنګ او ښایست په اړه څه ښه وایي:

رنـګ او ښـایسـت سره تـړلي نـه دي
اوبړۍ هم شنې وي خو ښکلا نـه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب له متنه:

هر چا ته خپل درد مه وایاست!

هر څوک طبیب نه دی.

هر څوک دارو درمل نه لري او هر څوک ستا د درد علاج  نشي کولای/یا ئې نه کوي.

هر څوک دا هنر نه لري، چې ته لاس په لاس کي ورکړې او هغه دي زړه حس کړي.

ځيني انسانان د خواخوږۍ په نامه په دې پسي ګرځي، چې د يو چا درد ځان ته معلوم کړي او بيا ـ بيا ئې ودردوي.

حتا ځيني له ځانونو سره مالګي  ګرځوي؛ دومره غواړي، چې د يو چا زخم ووينې او پرې و ئې پاشي.

چې وس مو کېږي، خپل دردونه او زخمونه چا ته مه ښیاست.

ځينو زخمونو ته وژاړئ او پخپلو اوښکو ئې ټکور کړئ!

د ځينو دردونو غوره علاج دا دی، چې زغمې به ئې؛ بل ته په ويلو او بيانولو شايد نور هم ودردېږې، خو ټکور نشي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**